د کتاب پوښتنې



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

د سي آی اې پټې جګړې

(له ویتنام تر افغانستانه)

لیکوال: پیټرهارکلیرود

ژباړه او سریزه: محمدزبیر شفیقي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کتاب ځانګړنې

- نوم- د سي آی اې پټې جګړې
- لیکوال- پیټر هارکلیرود
- ژباړه او سریزه- محمدزبیر شفیقي
- کمپوز او ډیزان- انجنیر محمدشفیع وردګ (m.shafiwardak@gmail.com)
- خپرندوی- سپوږمۍ راډیو
- چاپ کال- ۱۳۹۳المریز غبرګولۍ

©د چاپ حق له ژباړن او خپرندوی سره دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډالۍ

هغه نسل ته چې د څارګرو ادارو په درز غوبل کې راپورته شوی، هر څه ترې لوټل شوي،

او

راتلونکې د همدوی په هوښیارۍ او اراده پورې تړلې ده

چې:

د پردیو لوبو پېښمرګان کیږي

او که د هغوی پر خلاف دریږي.

(شفیقي)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خپرندوی یادښت

ویاړو چې د سي آی اې پټې جګړې اثر پښتو ژباړه، درنو لوستونکیو ته په مخکې ږدو، په دې اثر کې د نړۍ د تر ټولو سترې خطرناکې او پیاوړې ځارګرې اداري د دوو پټو جګړو او عملیاتو تفصیل راغلی دی، لومړی په ویتنام، لاؤس او کمبودیا کې او دوهم د پخواني شوروي د یرغل پر مهال په افغانستان کې.

په دې اثر کې به تاسو د دې ځارګرې اداري د هغو کړو وړو څو تفصیلي داستانونه ولولئ چې د هالیوډ په فلمونو کې یې نن په سینما او تلویزون کې مور او تاسو ورته نندارې هره ورځ وینو.

د دغه اثر پښتو کول ځکه اړین وو چې سي آی اې به زمور په ګران هیواد کې خپلو خطرناکو پټو جګړو ته په نوې بڼه دوام ورکوي، زمور ځوان پاړکی باید د خپل راتلونکي په اړه د دوست او دښمن په پیژندلو کې هوښیار وي، د مبارک حدیث د ارشاد له مخې، له یوه سوري څو ځله ونه چیچل شي. له خدایه غواړو چې دغه اثر درنو لوستونکیو ته ډېر نوي معلومات ورکړي.

درنښت

(د سپوږمۍ راډیو اداره)

(c) ketabton.com: The Digital Library

له ویتنام تر افغانستانه؛

د سي آی اې د پټو جګړو بهیر

د نړۍ په کچه د امریکا ځارګره اداره (سي آی اې) تر ټولو ادارو لویه، خطرناکه او د لوی ځواک لرونکې ده، د امریکا په نوې ستراتیژۍ کې د دې اداري ارزښت تر پخوا هم زیات شوی دی.

د امریکا په نوې پوځي ستراتیژۍ کې پر درې برخو تکیه شوې، د ځارګرې اداري جال، نوې تکنالوجي چې ډرون پکې شامل دي، او کرایي قراردادي پوځیان، لکه بلک واټر او نور.

سي آی اې د امریکا د ځواک د ملا تیر حیثیت لري، تېر زیږدیز کال (۲۰۱۳) ز د جون په لومړیو کې د سي آی اې یو مامور اداورډ سنوډن په روسیه کې پناه واخیسته او د سي آی اې په لکونو رازونه یې افشا کړل. په دې کې دا هم افشا شوه چې د وړوکیو هیوادونو څه چې د لویو ملګریو هیوادونو د چارواکیو ټیلفوني مکالمې هم د دوی له خوا اوریدل کیږي، په دې کې د جرمني د صدراعظمې انګلامرکل تیلفوني مکالمې هم وې چې لویې غوغاوې یې راوپارولې، اډوارډ سنوډن امریکا ته د خوږ ګوتې په څېر شو او د ده پر سر یې له روسیې سره اړیکې لانجمنې شوې. هغه وخت په وخت څو ځله ډېر بوږنوونکي معلومات افشا کړل، چې وروسته د امریکا ولسمشر بارک اوباما نړیوالو دوستانو ته دا زیری ورکړ چې ګواکې خپلې ځارګرې اداري به پردې پابندې کړي چې نور به د دوستو هیوادونو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

چارواکيو تيلفوني مکالمې نه اوري. د ولسمشر اوباما د دې ارادې په وړاندې داسې لوري هم وو چې ويل يې، چې هېڅکله هم بايد پر سي آی اې محدوديتونه وضع نشي، ځکه چې دا د امريکا د ګټو پرخلاف دي، اوس که ظاهراً محدوديتونه وضع شي هم عملي اړخ يې څوک تضمينولای نشي.

دا ددې اداري د کړنو يو اړخ دی، په ريښتني مانا نن تقريباً ټوله نړۍ د امريکا تر څارګرو سترګيو لاندې ده، د ۲۰۱۳ز د سپتمبر پر ۸مه واشنګټن پوسټ امريکايي ورځپاڼې د سي آی اې په باب يو لړ معلومات خپاره کړل وې ليکل:

(سي آی اې ۸۵۴۰۰۰ تنه مامورين او جاسوسان لري، له دې جملې څخه ۲۶۵۰۰۰ تنه د امنيتي کمپنيو قراردادیان دی، ريمنډ ډيوس نومی چې په ۲۰۰۹ز کې د پاکستان په لاهور کې د دوو تنو له وژلو وروسته ونيول شو يو له همدغسې قراردادیانو څخه ؤ چې په دې هيواد کې يې پراخه شبکه ايجاد کړې وه.

واشنګټن پوسټ ليکي چې د سي آی اې مامورين په پوځ او دپلوماتانو کې ګومارل کيږي، هغه کمپنۍ چې دوی ورسره اړيکې او معاملې لري شمېر يې تر درې زرو پورې رسيږي، چې په دې کې بلک واټر او زي ورلډ هم شاملې دي.

واشنګټن پوسټ ليکي چې د دفاع وزير رابرت ګېټس (د راپور د خپريد پر مهال د دفاع وزير ؤ) ته هم د دوی شمېر او هغه ځايونه چې دوی پکې فعاليت لري معلوم نه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دې راپور نه له ورایه ښکاري چې سي آی اې تر پنټاګون لوړه اداره ده او د امریکا حکومت ته د ستراتیژیکو اهدافو ترلاسه کولو په لړ کې دغه اداره لومړی مقام لري.

ریښتیا هم سي آی اې د امریکا د مهمو استخباراتي ادارو څخه یوه ده، د سي آی اې مرکزي دفتر له واشنګټن نه یو څو میله لرې په لانګلي، ورجینیا کې دی او مامورین یې دامریکا له سفارتخانو او نورو ځایونو څخه په ټوله نړۍ کې فعالیتونه کوي.

د امریکا یوازینۍ ازاده اداره ده چې مستقیماً (ډي ان آی) ته راپور ورکوي. سي آی اې دري پخواني اساسي فعالیتونه لري چې د خارجي دولتونو، ادارو او خلکو په اړه د معلوماتو راټولول، د نورو ادارو راټول شویو معلوماتو په نظر کې نیولو سره د تر لاسه شویو معلوماتو تحلیلول، تر څو امریکایي پالیسي جوړوونکیو ته د ملي امنیت معلومات او استخبارات برابر کړي. او د امریکا د ولسمشر په امر د خپلو مامورینو، د پوځ یا نورو ادارو په مرسته د پټو او جنګي عملیاتو ترسره کول.

او اس اس (د ستراټیژیکو خدماتو مرکز) چې د دوهم نړیوال جنګ پر مهال د دښمن پر خلاف د امریکا د وسله والو قواو د پټو استخباراتي عملیاتو د هماهنګۍ لپاره جوړ شوی ؤ. په ۱۹۴۷ز کې (سي آی اې) د دې اداري پر ځای جوړه شوه.

د ۲۰۱۳ ز په کلنۍ بودیجه کې سي آی اې پنځه لومړیتوبونه درلودل:

تر ټولو لوړ د تروریزم پر ضد مبارزه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لویو بربادوونکیو وسلو(اتمي او نورو) پر جوړولو د بندیزونو لګول، چې شمالي کوریا تر ټولو مشکل هدف دی.

د امریکا مشرانو ته د مهمو بهرنیو پېښو احوال ورکول، چې پاکستان تر ټولو خطرناک هدف ښودل شوی.

د استخباراتو ضد، چې چین، روسیه، ایران، کیوبا او اسرائیل اساسي اهداف ښودل شوي.

په یوه بل راپور کې پاکستان، ایران، افغانستان، چین او کوریا د استخباراتي لومړیو اهدافو په کتار کې یاد شوي دي.

سي آی اې پراخ تشکیلات لري، ساحوي دفترونه یې په لاندې ډول دي:

یو خاص دفتر د عراق لپاره او نور ساحوي د تحلیل او ارزونې دفترونه چې لاندې ځایونه تر پوښښ لاندې نیسي:

د منځني ختیځ او شمالي افریقا دفتر

د جنوبي آسیا د تحلیل او ارزونې مرکز

د روسیې او اروپایي هیوادونو د تحلیل مرکز

د اسیا، لاتین امریکا او افریقا د تحلیل مرکز

سي آی اې خپل لومړنۍ د روزنې او زده کړې مرکز، د تمرین او تعلیم دفتر، په ۱۹۵۰ز کې جوړ کړ، د سړې جګړې له ختمیدو وروسته د سي آی اې د مسلکي روزنې بودیجه ډېره کمه شوه چې د مامورینو پر پاتې کیدو یې منفي اثر درلود.

د سي آی اې د وخت مشر جورج ټینټ په ۲۰۱۲ کال کې د سي آی اې پوهنتون جوړ کړ، د دغه پوهنتون په کال کې له ۲۰۰ تر ۳۰۰ کورسونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لري، چې نویو او پخوانیو مامورینو ته روزنه ورکوي، دغه پوهنتون د ملي استخباراتو پوهنتون په همکارۍ کار کوي.

د عملیاتي محصلینو افسرانو د وروسته زده کړو لپاره یوه خاصه ساحه په پیریې کمپ، ویلیمسبرګ کې له ورجینیا سره نږدې ده. د محصلینو انتخابیدل او د پرمختګ څارنه د او اس اس د پروسو څخه اخیستل شوې ده، او اضافي د ماموریت روزنه په هروي پواینټ شمالي کیرولینا کې ترسره کیږي.

د امریکا د استخباراتو د عمومي بودیجې معلومات پټ دي، د ۱۹۴۹ مرکزي استخباراتي ایجنسۍ د قانون له مخې د مرکزي استخباراتو ډایرکټر یوازینی مامور دی چې پرته له حسابه هر څومره دولتي پیسې مصرفولی شي.

د سي آی اې لپاره د ۲۰۱۳ز کال بودیجه د ټولې بودیجې ٪۲۸ کیږي او تقریباً ٪۵۰ د ملي امنیت د ادارې له د بودیجې څخه زیاته.

سي آی اې له (ان آر او) څخه کارکوونکي نیسي چې اصلاً د سي آی اې او د امریکا هوایي ځواک یو ګډ دفتر دی، چې نظامي جاسوسي سټلایټونه استعمالوي.

د خاصو ډلو خدمات د سي آی اې او ملي امنیت اداري (ان اس ای) ګډ دفتر دی چې په نړۍ کې د پټو څارنو کار په سفارتخانو او خطرناکو ساحو کې ترسره کوي.

د سي آی اې کړنلارې او فعالیتونه تقریباً د انګلستان د (اس آی اس یا ام آی ٦)، استرالیایي پټو استخباراتو خدمات (آی اس آی اس)، مصري عمومي استخباراتو خدمات، روسي خارجي استخباراتو خدمات (اس وی

(c) ketabton.com: The Digital Library

آر)، د هند(را)، د پاکستان آی اس آی، د فرانسې (ډي جي اس ای) او اسراییلي موساد سره یو شان دی.

(التراتیوکانسپریسي) د سي ای آې د تاریخچې په اړه په یوه مطلب کې لیکي:

سي آی اې، ان اس اې او اف بي آی. او نورې دې ته ورته ادارې له یو ډول تګلارو څخه پیروي کوي، د دوی دنده د پټو معلوماتو ترلاسه کول او د هغو فلتر کول دي. سي آی اې (سنټرل انټلي جنس سروس) د دوهمې نړیوالې جګړې دOSS (د ستراتیژیکو خدماتو د دفتر) له اطلاعاتي څانګې څخه وزیږید.

پر ۱۹۴۵ز کې چې لا سي آی اې د او اس اس په نامه فعالیت درلود د (کاغذونو نښلولو عملیاتو) په نامه یې یو فعالیت پیل کړ او د نازي المان په سلګونو هغه ساینسپوهان یې چې د توغندیو او نورو خطرناکو وسلو جوړولو مهارت یې درلود په خپل سازمان کې جذب او راټول کړل، سي آی اې په دې پلمه چې دغه ساینسپوهان د شوروي اتحاد لاسته ونه لویږي، پر واتیکان یې فشار راوړ چې دوی ته د امریکا پاسپورټونه ورکړي.

پر ۱۹۴۵ز کې چې دوهمه نړیواله جګړه پایته ورسیده، د فاتحو هیوادونو په تېره امریکا او شوروي اتحاد ترمنځ په المان کې د معلوماتو اونورو ګرانبیه سرچینو د ترلاسه کولو سیالي توده شوه، په دې ګرانبیه سرچینو کې دغه ساینسپوهان هم وو چې د دوی پر مټ نړدې وه جرمني جګړه وګټي، سي آی اې په سلګونو دغه ساینسپوهانو ته په خپله غیړه کې ځای ورکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نازی ساینسپوهانو پر هغو وحشیانه جنایاتو پردې واچول شوې چې دوی له زندانیانو سره کړي وو، د ساري په توګه کورت بلومي یو نازي پوه ؤ چې د بندیانو په کمپونو کې یې د طاعون د خپریدو واکسین و ازمویل، هغه د امریکا په پوځ کې وګومارل شو چې د کیمیاوي وسلو د جوړولو په پروژه کار وکړي.

تورنجنرال والتر شریبر د بندیانو په کمپونو کې پر بندیانو د کیمیاوي ازمویښتونو د پروګرام سرطبیب ؤ، چې بندیان به یې وړي ساتل او ډول ډول عذابونه به یې ورکول. نوموړی په تکزاس کې د هوایي ځواکونو په طبي ښوونځي کې وګومارل شو، همدغسې وارنر ون برون د نازي المان د توغندیو د تحقیقاتو د مرکز رئیس ؤ چې المانیانو هلته (۷۲) ډوله توغندي جوړ کړل، نوموړی د امریکا په پوځ کې جذب شو، چې رهبري کیدونکی توغندي جوړ کړي او وروسته دغه سړی د (ناسا) لومړنی رئیس وټاکل شو. سي آی اې تر ۷۶۰ تنو زیاتو نازي ساینس پوهانو د جنایاتو دوسیې له منځه یووړې او ټول یې د امریکا په پوځ او استخباراتو کې جذب کړل. دوی ډیری د نازي ګوند او ګشتاپو (د نازي المان د استخباراتو اداري) غړیتوب درلود.

د سي آی اې د (Operation Paperclip) په ترڅ کې د نازي المان ساینس پوهان ور جذب کړل. له دې وروسته یې Operation) (Mocckingbridپیل کړل، د دې عملیاتو په ترڅ کې سي آی اې خبریالان وروزل. د رسنیو بنسټ یې کښود، چې له دې لارې یې خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

پروپاګند کاوه، د دې پروګرام لاړښوونکې پروژه د فلیپ ګراهمن لخوا پلې کړای شوه چې وروسته نوموړی د واشنګټن پوسټ خپروونکی شو.

د یو لړ اسنادو له مخې سي آی اې ۲۵ سازمانونه او تر ۴۰۰ تنو زیات خبریالان درلودل چې په هغو کې نوموتې رسنۍ لکه اې بي سي، ان بي سي، سي بي اس، اې پي، رویترز، ټایم، نیوز ویک او نور شامل دي.

سي آی اې د حکومتونو په رانسکورولو کې هم ډېر ستر رول لوبولی دی، د پیتر هارکلیروډ په اثر (د سي آی اې پټې جګړې) کې د جنوبي او مرکزي امریکا، افریقا او آسیا په هیوادونو کې د حکومتونو پر خلاف د بغاوتونو او پاڅونونو په لاړښوونه او پارولو کې چې سي آی اې کوم رول درلود. د هغو هیڅ یادونه نه ده شوې، خو سي آی اې په دې اړه ډېر بوږنوونکی تاریخ لري. یو ساری یې له ٦٠ کلونو وروسته پر ۲۰۱۳ز کې، د سي آی اې د یوه ماموریت افشا کیدل دي چې دوی په ایران کې د ډاکټر مصدق د حکومت په رانسکورولو کې څه ډول برالا رول درلود.

په دې سند کې اعتراف شوی چې:

پر ۱۹۵۳ز کې سي آی اې د انګلستان د MI6 سره په ګډه هڅه کې د ډاکټر مصدق قانوني حکومت د یوې کودتا په واسطه رانسکور کړ.

د ډاکټر مصدق پر خلاف د کودتا عملیات د ایجکس د پټو عملیاتو په نامه د (سیا) د بریالیو ماموریتونو په لړ کې راځي.

په ۱۹۵۱ز کال کې د ایران پارلمان او صدراعظم ډاکټر محمد مصدق، د ایران تیل ملي کړل، د بریتانیا د تیلو شرکت انحصار یې له منځه یووړ، د دې په مقابل کې سي آی اې د خلکو د پارولو په یوه پټ پلان کار پیل کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سي آی اې پټې جګړې

د ۱۹۵۳ز د اپریل پر ۴مه د سي آی اې رئیس (الین دالس) د ایراني جنرال فضل الله زاهدي بانکي حساب ته یو ملیون ډالره ولیږل، تر څو پر هغه لاره چې د مصدق د حکومت د رانسکوریدو سبب کیدای شي دغه پیسې ولګول شي.

وروسته د کودتا مشرانو د مصدق پر خلاف تبلیغاتي کمپاین پیل کړ، همدغسې یې ګډوډیو ته لمن ووهله، تردې چې دغه ملي حکومت رانسکور کړای شو، پاچا رضا شاه بېرته ایران ته ستون شو، سي آی اې ډېر زر ۵ ملیون ډالره نور هم د نوي حکومت د ثبات لپاره ورکړل، چې بیا وروسته د ایران د ټېلو تر نیمایي پر زیاتو تولیداتو امریکا خپله واچوله، چې د ۱۹۷۹ز د اسلامي انقلاب تر بري پورې یې دوام درلود.

دا چې د سي آی اې اداره جاسوسي ماموریتونه څه ډول ترسره کوي، ښایي د اسامه بن لادن پر خلاف د ۲۰۰۱ز د مې ۲مه د پاکستان په ایبټ آباد کې د شپې ترسره شوي عملیات یې ډېره ښه بېلګه وي چې اوس یې د (سخته ورځ) په نامه د برید کوونکیو له خولې اصلي داستان هم خپور شوی دی، په هر صورت دلته مو خبره د یوه امریکایي لیکوال پر اثر ده. دا د (سي آی اې پټې جګړې) اثر دی چې په پښتو کې لومړی ځل خپریږي.

د سي آی اې پټې جګړې د (Secrete Wars of CIA) اثر وروستیو دوو فصلونو ژباړه ده، امریکایي ژورنالیست او لیکوال پیټر هارکلیروډ یې لیکوال دی.

په دې اثر کې د ختیځې اروپا او بالټیک له جګړو څخه چې له دوهمې نړیوالې جګړې وروسته په ۱۹۴۹ز کې پیلیږي، بیا د افغانستان تر پټو

(c) ketabton.com: The Digital Library

جګړو له (۱۹۷۹ز-۲۰۰۱ز) پورې، په یوولسو فصلونو کې د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د هغو جګړو تفصیل دی چې د امریکا د سي آی اې او د انګلستان د ځارګرو ادارو لخوا د نړۍ په ګوټ ګوټ کې شوې دي او په ملیونونو انسانان پکې وژل شوي دي. که څه هم ټول کتاب د لوستلو ارزښت لري، خو ماته یې زمونږ درنو هیوادوالو ته همدغه دوه څپرکي، یو د ویتنام، کمبودیا او لاوس جګړې او بل زمونږ په هیواد کې د سي آی اې جګړې ډېر اړین ښکاره شول، چې دادي درنو لوستونکیو ته یې ژباړه مخې ته ږدم. د دغسې اثارو لوستل زمونږ ځوان کوول ته ځکه اړین دي چې مونږ د تاریخ په اوږدو کې، په تېره په وروستیو څو لسیزو کې بیا بیا د ځارګرو ادارو د پټو جګړو په اور کې راښکیل شوي یو، چې له بده مرغه تر اوسه پورې همدغه شوم سیوری زمونږ پر ولس غوړیدلی دی، دا اوس چې زمونږ ولس هره ورځ وژل کیږي. په نړیواله او ملي کچه د رسنیو د سر ټکي ډېر وختونه زمونږ د ولس غمیزې وي، هغه مرګونه وي چې په تعریف یې هیڅوک ونه پوهیدل.

هغه جګړې دي چې فاتح او مفتوح یې معلوم نه دي. یوازې ویر یې د افغانانو کاله ته راغلی دی.

د ځارګرو ادارو جګړه همدغسې ده، د ملي او دیني شعارونو تر شا شیطاني ماغزه فعال وي، د ولسونو له احساساتو او جذبو څخه د خپلو موخو تر لاسه کولو کار اخلي.

د کمونیستي لاسپوڅیو او شوروي پوځ پر خلاف (افغان جهاد) زمونږ د همدې ژوندي نسل کارنامه ده، خو د پردې تر شا د ځارګرو ادارو (سي آی

(c) ketabton.com: The Digital Library

اې، آی اس آی او کا جي بي) چارواکيو دغه جګړه داسې کنترول وساتله چې دوی پکې خپلې موخې ترلاسه کړې، خو هغه ولس چې د خپلې عقيدې، هويت، خپلواکۍ او عزت لپاره يې د لکونو بچيانو قربانۍ ورکړې وې، نامراد پاتې شو.

کور د افغان ړنګ شو، زوی د افغانې مور قرباني شو، وطن پکې د دوی په کنډواله بدل شو، يو نسل له اروايي ناروغيو او يو جهان بدمرغيو سره زمونږ ولس لاس او ګريوان شو، د جګړې ګټونکی بريژينسکي ؤ چې خپل حکومت ته يې د خپل سيال شوروي اتحاد د ماتولو لپاره، په افغانستان کې د هغو د راښکيلولو مشوره ورکړه، مشوره ومنل شوه، له افغان جهاد سره ملاتړ وشو شوروي اتحادد همدې جګړې په پايله کې وشړيد، سړه جګړه پايته ورسيده او امريکا د نړۍ ديوازيني لوی ځواک په توګه راڅرګند شو. قربانۍ افغان مجاهد ورکړې، د فاتح ويار د آی اس آی د مشر جنرال اختر عبدالرحمان شو چې په دې نامه پرې کتاب وليکل شو، زمونږ د ولس قربانۍ لاړې د دوو سترو ځواکونو د سيالۍ په لوبه کې اوبو يووړې!

ولې؟ د دې ډېر ريښتنی ځواب دادی چې په دې جګړه کې ځارګرې ادارې فعالې وې، زمونږ عام ولس څه چې جهادي زعامت د پردې تر شا پټې توطيې درک نکړای شوې، زه د جهاد د يوه کشر لاروي په توګه د خپل درانه ولس پر قربانيو ويارم، پر سپېځلتيا يې باوري يم، ځکه چې له دې جهاد او برحق مبارزې څخه انکار کوو بيا خو هغه ارزښتونه ټول بې معنا کيږي چې د يوه ولس او هيواد له تاريخ، حماسو، ديني او ملي هويت او مبارزې سره تړلي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمور د ولس جهاد د ۱۳۵۷ز د کيڼ اړخو ډلو له خونړۍ کودتا سره پيل شو، کودتاچيانو ولس دې ته اړ کړ چې پاڅون وکړي. کودتايي مشرانو د ولس د ديني او ملي ارزښتونو پر خلاف جبهه پرانيسته، ولس يې پر خلاف راپورته شو.

راغله د جهادي ګوندونو او زعامت خبره، چې د داود خان په وروستيو کې پاکستان ته تللي وو، يا وروسته په پاکستان کې جوړ شول، د هغو په باب چې د تاريخ قضاوت هر څه وي وي به، زه يې د کمونستي سيلاب په وړاندې شهامت او مبارزه د ولس يو ویاړ بولم، د جهاد په رهبرۍ کې يې رول خپل ارزښت درلود، ولس چې د جهاد پر مهال د دوی څومره درناوی کړی دا هم طبيعي او پر ځای ؤ، خو زمور جهادي زعامت چې د جهاد د بري په پړاوونو کې کومې تېروتنې کړې له هغو هم انکار ممکن نه دی.

په دې برخه کې عادلانه قضاوت دا نه دی چې د وروستيو ورانيو له مسوولیت نه دوی بري وبولو، خو دا هم عادلانه قضاوت نه دی چې د وروستيو بدمرغيو له لامله د دوی د جهادي دوران له شهامتونو څخه انکار وشي.

زه د يوه افغان په توګه پردې باور يم چې جهادي زعامت د پردې تر شا توطيې او پټې لوبې درک نکړای شوې، که د توطيو ژورتوب او د پلي کيدو طرحې او پلانونه يې دقيق وو، او که زمور د جهادي مشرتابه ناتواني وه، زه پرې څه نشم ويلای، خو دوی په پيل کې درک نکړای شوې او د يوه ولس ډېره ستره قرباني او مبارزه د خپلمنځي جګړو پر پړاو واوښته، بدنامه شوه او د بدمرغيو نوي پړاوونه پيل شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

راځم ښرته د دې اثر په اړه څو ټکيو ته:

1 - ماته او ښايي زياتو لوستونکيو ته به د (ويتنام جګړه) د داسې معما په څېر مطرح وه چې امريکا پکې ماته خوړلې وه، او د ماتې سبب يې دا ؤ چې له ويتنامي ولس سره د پخواني شوروي ملاتړ ؤ.

پر هيواد د پخواني شوروي پوځ د يرغل په باب به دغه خبره ډېره تکراريدله چې امريکا له مجاهدينو سره مرسته کوي چې له شوروي نه د ويتنام د ماتې غچ واخلي. په ويتنام کې څه ډول جګړه شوې، امريکا پکې څه رول درلود او بيا څه پېښ شول، د سي آی اې د پټو جګړو لسم څپرکی پر همدې بحث کوي.

د تاريخي ناولونو د نوماند ليکوال الياس سيتاپوري يوه خبره زما په زړه ناسته ده، ليکي چې:

انسان چې که پاچا دی، که فقير، د پېړيو په اوږدو کې هماغه انسان دی، د عقدې، مينې، کسات، عاطفې، مهربانۍ، او... له غريزو او احساساتو څخه پرون هم مالامال ؤ او نن هم.

ځارګرې اداري، د ښکيلاکي لويو ځواکونو د پټ ځواک په توګه له پيله تر ننه همدغسې يو شان وي، چل دوکه، اختلاف، کسات، بې رحمي، او ... د دې ادارو بنسټيز کړه وړه دي، په دومره توپير چې وسايل او تګلارې به د هر وخت او مکان سره بدلون مومي، سي آی اې چې په لاؤس، کمبوديا او ويتنامونو اوسني واحد ويتنام کې څه کړي دي، په لږ توپير يې اوس په عراق او افغانستان کې مورِ شاهدان يو، ښه ده چې لوستونکي يې پخپله ولولي، چې څه ډول ويتنامي خپل ويتنامي د (دښمن) په نامه وژلی، او څه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډول امریکایي خاص ځواکونه له ټول وحشت سره یوه ویتنامي ته دوستان او بل ته دښمنان وو. کټ مټ لکه نن چې مورږ په افغانستان کې هره ورځ په رسنیو کې همدغه څه اورو. او لکه نن چې نړۍ د عراق په انبار او بغداد کې د کوم وحشت ګواه ده.

2 - د افغانستان په اړه د سي آی اې د پټو جګړو او ماموریت دغه څپرکی د کتاب وروستی څپرکی دی، چې د ۱۹۷۹ز کال د غوایي له کودتا څخه پیلیږي او د ۲۰۰۱ز کال د اکتوبر پر ۷مه پر افغانستان د امریکایي ځواکونو تر یرغل پورې رارسیږي.

په دې موده کې د سي آی اې د ماموریت مهمه برخه له افغان جهاد سره د وسلو او پیسو د مرستو بهیر دی، که څه هم په ځینو برخو کې ځینې خامۍ او کمزورۍ شته. د ساري په توګه ښایي ځینې کسان زیات لوی ښودل شوي وي. ځینې بیا له پامه لویدلي وي، معلومه نه ده چې دا د ناخبرۍ په سبب دي که دا هم د استخباراتي توطیو یوه برخه ده، بیا هم په دې برخه کې ښایي لوستونکي ډېر نوي شیان ولولي.

د دې اثر د لوستلو او ژباړې پر مهال چې ماته کوم ټکي ډېر څرګند ښکاره شول، هغه د پاکستاني چارواکیو او افغاني زعامت ترمنځ له ملي ګټو او هیوادنیو ارزښتونو سره اړوند احساس ؤ. پاکستاني چارواکیو ډېر په مهارت په یوه غشي دوه نښې ویشتلې دي. له سي آی اې سره یې خپله اړیکه ساتلې او افغاني زعامت یې له آی اس آی سره تړلی ساتلی دی، وروسته په دې اثر کې پردې هم خبره شوې چې هم د دوی په مرستو کې خورد او برد شوی او هم پاکستان پکې خپله خوښه او سلیقه پاللې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو وخت امریکا هڅه وکړه چې نیغ په نیغه له جهادي قوماندانانو سره اړیکې ټینګې کړې، دغسې هڅې به د بریتانیا او نورو لویدیزو هیوادونو هم وې، دوی به له ځینو قوماندانانو سره خاصې اړیکې درلودې، خو هیڅکله یې د جهادي ګوندونو د مشرانو انحصار مات نکړای شو. دغه انحصار تردې پاس د پاکستان یا آی اس آی په لاس کې هم پاتې شو، د راولپنډۍ اوجړي کیمپ چې په ۱۹۸۹ز کې په یوه چاودنه کې والوزول شو، ښایي د همدې لپاره دا کار وشو چې د پاکستان او امریکا ترمنځ چې د مجاهدینو وسلې او پوځې توکي ذخیره شوي، حساب کتاب یې ورک شي چې څومره والوتل او څومره یې پټ تړې بل ځای ته ولیږدول شول؟

یوازې یو خدای په دې رازونو خبر دی.

په هر صورت که له شوروي یرغل سره جهاد زمونږ ؤ، که قربانۍ افغانانو ورکولې، که کورونه او کلي زمونږ د باروتو په لمبو کې سوځیدل، د نړۍ او مجاهد ترمنځ درښیم لاس ته څه حاجت ؤ؟

که په پیل کې وای هم ولې زمونږ جهادي زعامت دغه ستونزې ته پام ونه کړ، چې هر څه وي د دوو ګاونډیو هیوادونو په اړیکو کې بیا هم ځینې سړې کرښې باید وي چې هر لوری یې تر هغو د اوښتلو جرئت ونه کړي.

3 - په دې اثر کې په افغان جهاد کې د ګډون لپاره د یوه منظم پروګرام له مخې له عربي او اسلامي نړۍ څخه، آن له امریکا او اروپا څخه مسلمان ځوانان راوستل شوي دي چې وروسته یې د (افغان مجاهد) په نامه شهرت ګټلی، د دوی سرلاری اسامه بن لادن او شهید عبدالله عزام وو چې په ۱۹۹۰ز کې په پېښور کې له یوه زوی سره یو ځای په یوه بمي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چاودنه کې شهید کړای شو، دا په کې ډېر څرګند ښکاري چې د پرون مجاهد د نن ترهګر، هماغه څوک دي چې لویدیزو ځارګرو ادارو راټول کړل، د پاکستان په مرسته د ډیورنډ کرښې په اوږدو کې مرکزونه ورته جوړ شول، خو د پرون او نن ترمنځ لوبه په داسې مهارت واوښته، چې د ارزښتونو علمبرداران او ژغورونکي، مجاهدین پر ترهګرو، ورانکارو او یوه خطرناک ځواک بدل شول، دا چې د ۲۰۱۴ ز نه وروسته په دې سیمه کې لوبه بیا په کومه بڼه بدلیږي لا معلومه نه ده، دا چې له ۲۰۰۱ز تر ۲۰۱۴ز پورې سي آی اې دلته څه ډول لوبې کړې، بشپړ داستان به یې وروسته خامخا افشا کیږي. باور مو دی چې د تېرو دوولس نیمو کلونو پټو جګړو داستان تردې اوسني ډېر بوږنوونکی دی چې پیټر هارکلیروډ یې بیانوي، په دې وروستي داستان کې له عزیزآباده تر پنجوایي، چارچینو، ننګرهار او.... د ړندو بمباریو، پر سپیانو د ډارلو، شپې چاپو، او وحشتونو هغه کیسې ټولې شاملې دي چې هره پېښه یې را لوڅیږي په نړیواله کچه غوغا ورسره راپورته شي. دغه ناویلی داستان لا پاته دی.

مخکې مې دوو ټکیو ته اشاره وکړه، یو دا چې د سي آی اې مشر یوازینی څوک دی چې بې حساب کتابه پسې لګولی شي، دوهم په ۱۹۵۳ز کال د ایران د صدراعظم ډاکټر مصدق د حکومت پر خلاف د کودتا پروګرام چې د سي آی اې لخوا عملي شو.

په افغانستان کې په ببلابېلو نومونو او پلمو د ډالرو ولګول. آن تر دې چې پر ۲۰۰۹ز کې د ولسمشر کرزي او امریکا اړیکې خړې پړې شوې، سي آی اې دا ورپسې خپاره کړل چې ارګ ته یې په کڅوړو کې ډالر ورکول، کرزي

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرې اعتراف وکړ، وروسته دا هم افشا شوه چې په ارګ کې بېلابېلو کسانو ته میاشتنې معاشونه ورکړای شوي، په همدې تمه او موخه چې د حکومت رازونه ترې واخلي باور مو دی چې د دې تفصیل یوه ورځ ټول افشا شي. په رسنیو کې یوه اصطلاح ده چې معلومات ځواکمني ده، که عادي معلومات ځواکمني ده بیا خو ستراتیژیک معلومات داسې پریکنده ځواک دی چې هره اداره یې لري هغه به پر نورو ادارو او آن دولتونو برلاسي لري.

کله چې د ۱۳۵۷المریز له کودتا یونیم کال وروسته، پر هیواد روسي پوځ یرغل راوړ، له دواړو لوریو د څارګرو ادارو لاسونه هیواد ته رانغونتل، په پایله کې مور ته د (محرم) او راز په نامه څه پاتې نه شول چې دا زمور د وطن له لویو زیانونو څخه یو ؤ. د سي آی اې پر مټ نن امریکا پر نړۍ واکمني کوي، د دې اداري په زور نن د امریکا د ستراتیژۍ جوړوونکیو ادارو پر میزونو د ټولې نړۍ د مهمو رازونو دوسیې سپړلې پرتې دي. ویکي لیکس څومره اسناد افشا کړل؟ له سي آی اې څخه ګرځیدلي ادوارد سنودن له څومره لویو رازونو پردې پورته کړې، دا چې نن د ټکنالوجۍ او څارګرو ادارو پرمټ نه د لویدیزو هیوادونو د چارواکیو پټې خبرې راز پاتې دي او نه زمور د هیوادونو، پایله یې همدغه ده چې د نړۍ په کچه داسې څوک د یوه لاس له ګوتو نه زیاتیږي چې له امریکا سره سترګې پر سترګو جنګولای شي.

یوازې هماغه څوک چې لږ تر لږه خپلو ولسونو ته صادق وي، که نورې کمزورۍ لري، لري به یې.

د ۲۰۱۴ز د مې پر ۲۵مه د هیواد په کابینه کې، پردې توند بحثونه وشول چې امریکایان او انګریزان د هغو وسایلو په واسطه چې دوی ظاهراً د

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخدره موادو د قاچاق د مخنیوي لپاره دوی زمونږ په هیواد کې فعال کړي دي د جګپوړیو چارواکیو مکالمې اوري، له دغه راز څخه هم لومړی ویکي لیکس پرده پورته کړه، ولسمشر او کابینې د دې تاسیساتو د سمدستي بندولو پرېکړه وکړه.

د څارګرو ادارو دنده همدغه ده چې د هیوادونو او چارواکیو د ضعف او ځواک ټکي په دقیق ډول معلوم کړي او بیا کار ترې واخلي.

ما له پخواني شوروي سره زمونږ د ولس د برمیال جهاد پر مهال، یوه ورځ په لاهور کې یوه ډایجسټ وپیرله، په هغو کې د روسي ډوله میګ ۲۱ جیټ الوتکې د تښتولو کیسه وه چې د یوه عراقي پیلوټ لخوا له عراقه وتښتول شوه او په تل ابیب کې کښېنول شوه.

کیسه د عراقي پیلوټ په اړه وه چې یو وطندوست ځوان ؤ، په کوم اروپایي هیواد کې، سي آی اې د یوې ښایسته نجلۍ په بڼه دام ورته وغوړاوه، د ده او نجلۍ آشنایي په توده مینه بدله شي، تردې چې پیلوټ دې ته چمتو کوي چې خپله میګ الوتکه وتښتوي او په تل ابیب کې یې کښېنوي.

پیسه، جایداد او مقامونه ددې ادارو وسایل دي، همدغسې د تبلیغاتو په زور د اړتیا وړ کاذب شخصیتونه جوړول او صادق شخصیتونه بدنامول. د دوی هغه ډېرې معمول تګلارې دي.

تاسو وګورئ د عربي نړۍ، افریقا یې قارې او په آسیا کې نورو څومره دولتي مشرانو د لویدیز ډول ته څنګې غورځولې، خو چې له کاره ولویدل د خپلو ولسونو رحم او کرم ته یې پرېښودل، دوی هماغه څوک وو چې د همدې لویو شبکو په زور او ملاتړ د خپلو ولسونو پر اوږو سپاره وو، له خپلو دیني

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ملي ارزښتونو يې مخ اړولی ؤ، خو چې نور نه چلیدل ولسونو ته په ډاګ پاتې شول، د سي آی اې په شمول د لویو ځارګرو ادارو په منځ کې تر ټولو لوی اصل د ماکیاولي د سپارښتنو پر بنسټ د خپل حاکمیت او خپلو ارزښتونو برلاسي ده، نړیوال اصول، ديني ارزښتونه، انساني او بشري اخلاق، رحم، عاطفه، میړانه، ژمنه، تعهد او نور دغسې شیان دوی نه پیژني او نه پرې باوري دي.

د دوست او دښمن تعریف، د ارزښتونو او اصولو تعریف هېڅکله ثابت نه دی، دا ټول د دوی د حاکمیت له زاویې تعریفیږي، په دې اثر کې به تاسو ولولی چې د سي آی اې په پیسو څه ډول د نړۍ له ګوټ ګوټ نه اسلامپال ځوانان د افغان جهاد لپاره راټول کړای شول، او څه ډول اوس هغوی د مجاهد پر ځای د ترهګر په نامه له انساني ټولنې څخه تجرید پاتې شول، له دیوال سره ولګول شول او دې ته اړ کړای شول چې په ریښتینې معنا هغوی انساني ټولنې ته سرخوړی شي.

د ټولنو په منځ کې د ارزښتونو او هغو احساساتو پیکه کول چې د یوې ټولنې د یووالي او ځواکمنۍ تومنه بلل کیږي، د دې ادارو د کار له اصلي برخو څخه دي.

د معنویتونو بې ارزښته بلل، او د هغو پالل د نوي ژوندانه له اصولو سره په ټکر کې او دوروسته پاتې والي لامل تبلیغول، ټول هغه څه دي چې موږ يې متاسفانه همدا نن تجربه کوو، که دې ستونزو ته جدي پام ونشي، ښايي سبا ته موږ د نن د غفلتونو د جبران فرصت او وړتیا ونه لرو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه نور خپلې خبرې رالنډوم، لوستونکیو ته بلنه ورکوم چې له ویتنام تر افغانستانه د نړۍ تر ټولو خطرناکې ځارګرې اداري د پټو جګړو څو ترخې کیسې ولولي.

د ګران محمد شفیع وردګ ښه غواړم چې د دې اثر په کمپوز او ډیزاین کې یې زیار وګاله، د درانه حمید ناصري څخه یو ځل بیا هم د زړه له کومي مننه چې دغه اثر یې په همت چاپ او لوستونکیو ته رسیږي. د خپلو ټولو هغو درنو لوستونکیو مینه او هڅونه، زما د دې چار ددوام شیمه ده چې پر ټیلفون، یا مخامخ یې راباندې لوروي، د ټولو ښه غواړم.

په مینه او درناوي

محمد زبیر شفیقي

۱۳۹۳ل د غوایي ۲۲مه- کابل پروان مېنه

د ویسا ورځپاڼې دفتر

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۱)

د سي آی اې پټې جګړې

ویتنام، کمبودیا او لاؤس

له۱۹۵۴تر۱۹۷۱ز پورې

پر ۱۹۵۴ز کې په هندوچین کې د لومړۍ جګړې له پایته رسیدو سره ویتنام په دوو برخو وویشل شو. شمالي ویتنام کمونیستي برخه د هوچي من تر مشرتابه لاندې د ویتنام د خلکو د دیموکراتیک جمهوریت په نامه جوړ شو او په جنوب کې د فرانسې د لاسپوڅي صدراعظم پخواني پاچا باوډایی حکومت ؤ.

د ۱۷مې متوازي کرښې سره جوخت ۱۴میله سوروره غیر پوځي ساحه رامنځته شوه چې د کاناډا، پولنډ او هند له استازو جوړ یو نړیوال د کنترول کمیسیون (آی سي سي) ته دا مسوولیت وسپارل شو چې دا باوري کړي چې دواړه لوري به د جینوا پر تړون عمل کوي.

له شمال لوري څخه ۹ لکه کډوال چې زیاتره یې د کمونیستانو مخالف توندلاري کاتولیکان وو، جنوبي ویتنام ته راغلل او دلته میشت شول، همدغسې یو لک تنه پوځیان له جنوب څخه شمالي ویتنام ته لاړل چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هلته د ویتنام د نوي جوړ شوي ملي پوځ په ۳۲۴مه او ۳۲۵مه فرقه کې جذب شول. په دې موده کې لس زره تنه کمونیستان په جنوب کې د (ریزرف) ځواک په توګه اوسیدل چې د اړتیا پر وخت دوی راپورته کیدل. همدغسې د شپږ زره تنو چریکانو لپاره وسله هم په جنوب کې ځای پر ځای شوې وه.

د همدې کال د اکتوبر پر۲۴مه د جنوبي ویتنام چارواکیو ته د امریکا ولسمشر آیزن هاور دا خبر ورکړ چې دوی د فرانسې له منځګړتوب پرته غواړي نیغ په نیغه ورسره پوځي مرستې وکړي.

شپږ میاشتې وروسته د ۱۹۵۵ز د می پر لسمه جنوبي ویتنام له امریکا څخه رسماً پوځي مرسته وغوښتله او د جولای پر ۲۰مه یې د جینوا کنوانسیون له مخې د ویتنام په سر تاسري انتخاباتو کې له ګډون څخه په دې دلیل ډډه وکړه چې په شمالي کمونیستي ویتنام کې د انتخاباتو کیدل ممکن نه دي.

د اکتوبر پر۲۳مه په ملي کچه ټولپوښتنه(ریفرانډم) ترسره شو، چې په پایله کې د باوډایی حکومت ړنګ شو او د نګوډنه ډایم په مشرۍ د ویتنام جمهوریت جوړ شو، د سپتمبر پر۲۵مه کمبودیا هم د خپلواکۍ اعلان وکړ.

د ۱۹۵٦ز د اپریل پر ۲۸ مه د امریکا پوځي مرستندوی مشورتي ګروپ (ایم اې اې جي) د برید جنرال اورډنیل په قوماندە د ویتنام د خلکو د جمهوریت د پوځي روزنې مسوولیت واخیست او فرانسوي پوځ له دې هیواده په وتلو پیل وکړ، د ۱۹۵۷ز په جون کې د فرانسوي پوځ وروستۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډله هم له هیواده ووتله او په سپتمبر کې په جنوبي ویتنام کې لومړني انتخابات ترسره شول چې(ډایم) د ولسمشر په توګه وټاکل شو.

د جینوا کنوانسیون له مخې د امریکا د مشورتي مرستندوی ګروپ(ایم اې اې جي) شمېر ۳۴۲تنو ته محدود شوی ؤ، خو د فرانسوي پوځ له وتلو وروسته چې لوژیستکي ستونزې راپیدا شوې د دې شمېر یې تر پنځو سوو تنو پورې زیات کړ، چې اوس یې څه نورې دندې هم پر اوږو ور ولویدې او پردې یې د (لنډ مهاله پوځي ارزولو ماموریت) نوم کېښود.

امریکا له دې زیاتوالي څخه د جاسوسي عملې د زیاتولو لپاره کار واخیست، او په دې کې یې یو د سایګون پوځي ماموریت(اس ایم ایم) په نامه د سي آی اې یونټ هم واستاوه. دغه یونټ د امریکا په سفارت کې اوسیده، او قوماندې یې د امریکا د هوایي ځواک د ډګروال اډوارډ لالنس ډیل سره وه. دغه یونټ د ۱۹۵۴ز په می کې د ډین بین پو له زوال سمدستي وروسته د ویتنام پر خلاف په نیم پوځي او رواني جنګ کې د مرستې لپاره راڅرګند شوی ؤ.

خو د فرانسویانو له وتلو څخه وړاندې دا په شمال کې د پټو عملیاتو لپاره د ټیمونو په جوړولو بوخت ؤ، په دې عملیاتو کې تخریب کاري، وژنې او نور تر ځمکه لاندې کارونه شامل وو.

دغه ګروپونه به د سي آی اې د خپلو هغو الوتکو د ملکي هوایي ترانسپورټ(سي اې ټي) په مرسته شمالي ویتنام ته ننه ویستل کیدل، چې هغوی ته له شمال نه جنوب ته د کډوالو د وړلو دنده سپارل شوې وه، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

کډوالو د وړو راوړو د پېرو تر پرده لاندې دوی شمالي ویتنام ته وسلې، باروت او نور جنګي وسایل وړل.

په هنویي کې دغه وسلې او باروت د (اس ایم ایم) ګروپ ترلاسه کول چې د مشورتي ګروپ د امنیت دنده یې درلوده او د هغو قوماندان جګړن باب ؤ.

دغه جګړن په دوهمه نړیواله جګړه کې د امریکا په پوځ کې دنده سرته رسولې وه، او دلته یې ظاهراً د کډوالو د ایستلو په چارو کې د اړیکو دنده درلوده، خو د ده اصلي ماموریت د (بي ای ایم اېچ) په نامه د یوه پټ سازمان جوړول وو چې د شمالي ویتنام پر سرکونو او د اورګاډي پر کرښو بریدونه وکړي.

یو بل ټیم د (ایچ اې کیو) په نامه د جګړن فریډایلن په قوماندە د شمالي ویتنام په جنوب کې د مقاومت د غورځنګ پر جوړولو ګومارل شوی ؤ.

د ۱۹۵٦ز په فبروری کې د امریکا مرستندوی عملیاتي ګروپ د جنوبي ویتنام په پوځ کې د غلچکي بریدونو لومړی یونټ د (لومړنی څارونکی ګروپ) په نامه جوړ کړ چې د غړیو شمیر یې (۳۰۰) کسان وو. دوی به په ۱۵کسیزو ګروپونو کې شمالي ویتنام ته د پوځي عملیاتو لپاره ننوتل، د غیر پوځي سیمې له لارې د شمالي ویتنام له لوري پر جنوبي ویتنام د برید پر مهال په د دې ګروپونو دنده دا وه چې له شانه د اکمالاتو لارې غوڅې کړي او مخالف ګروپونه وروزي.

دغه مهال په لاوس کې چې د جنیوا د کنوانسیون له پریکړو نه د سرغړونې له امله اوه زره ویتنامي پوځیان پټ وو، د کمونیست رژیم له سیاسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګډوډيو څخه يې غوښتل ګټه اوچته کړي، او د واک ترلاسه کولو په هڅو بوخت وو. پر ۱۹۵۷ز کې د پاتهټ لاو کمونيستي چريکانو او د شمالي ويتنام پوځيانو د (ټچي پون) مهم ښار ونيو چې، د جنوبي ويتنام او ميکانګ د لارو د يو ځای کيدو په مرکز کې پروت دی. د دې ښار له نيولو سره کمونيستانو پر ټوله مرکزي سيمه خپل کنترول ټينګ کړ او په ټول سرحد کې يې د لاسوهنو توان وموند.

د جينوا ټرون له مخې امريکا نشو کولای چې لاوس ته د خپلو مشورتي مرستندويو پوځيانو زيات شمېر راولي، ځکه خو په ۱۹۵۸ز کې سي آی اې د (ايوليوايشن اداري) بنسټ کېښود، چې اصلاً تردې نامه لاندې دوی د پاټهت او شمالي ويتنام د پوځ پر خلاف پټ عمليات کول، د دوی لومړی دنده دا هم وه چې له (مونټاګنارډ قبايلو) سره ښې اړيکې ټينګې کړي چې د لاوس په سرحد کې په غرنيو سيمو کې ميشت دي. په پيل کې دغه قبيلې بدګومانه وې، د هغوی دا په ياد وو چې فرانسويانو څه ډول دوی پرېښودل چې بيا کمونيستانو ورسره څومره بد چلن وکړ، دلته په ځانګړي ډول د همونګ قبيلو او مشر يې وانګ پاو له سي آی اې نه ضمانت وغوښت چې د دوی پای به هغسې نه وي. امريکا سمدستي دا ضمانت ورکړ.

د ۱۹۵۹ز په جولای کې د امريکا د خاصو ځواکونو ۱۰۷تنه د ډګروال آرتر سايمنز په مشرۍ د (پي اې او) تر پوښ لاندې لاوس ته ورسيدل، چې د لاوس ملي پوځ ته د سي آی اې د (وايټ ستار) تر قوماندې لاندې د چريکي جګړې روزنه ورکړي. د دوی اصلي ماموريت وروسته بدل شو او په راتلونکيو ۱۲ مياشتو کې يې د وايټ ستار تر سيوري لاندې د همونګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

قبایلو ۹ زره تنه جنګیالي وروزل او د پاتهټ او شمالي ویتنام پر خلاف یې په جګړو وګومارل، چې وروسته بیا د سي آی اې د دغه همونګ قبیلو د جنګیالیو شمېر تر ۴۰ زره تنو زیات شو، د دوی وسلې او اکمالات د امریکا د هوایي چلن الوتکو لخوا برابریدل، چې اوس یې د (سي آی اې) په نامه نوی نوم غوره کړی ؤ. د ۱۹۵۹-۶۰ مو کلونو په اوږدو کې په جنوبي ویتنام کې د ویټ من غړي ډېر ګړندي راپورته شول. په ۱۹۵۹ز کې، کمونیستانو یو پټ ګروپ ۵۵۹ لمبر د مرستو رسولو ګروپ، د جنرال ودبام په مشرۍ جنوبي ویتنام ته د لاوس له لارې واستاوه چې هلته د یوه لوی برید تیاری ونیسي.

د شمالي ویتنام د ځارګرې ادارې (ټرن ساټ) په مرسته دې ګروپ زیات شمېر کمونیستان وروزل او د راتلونکیو پینځو کلونو په بهیر کې نږدې ۴۴زره کمونیستان له غیر پوځي سیمې څخه له هغو لارو جنوبي ویتنام ته ټېر شول چې وروسته د (هو چي من لارې) په نامه مشهورې شوې.

پردې پراخو لاسوهنو سربېره(ټرن ساټ) په جنوبي ویتنام کې زیات دولتي چارواکي ووژل او د ۱۹۶۰ په نومبر کې د پوځ درېیم هوایي کنډک د ولسمشر (ډایم) د حکومت رانسکورولو هڅه هم وکړه چې ناکامه شوه.

د ۱۹۶۰ز په پیل کې ډګر جنرال ادوارد لانس ډېل بیا راښکاره شو چې د جنوبي ویتنام له خرابې وضعې څخه نهیلی شو او د امریکا د مرستو د زیاتیدو پلان یې وړاندې کړ. ولسمشر جان ایف کینیډي دغه وړاندیز ومانه، او د جنوبي ویتنام د پوځ د ځواکمنولو پلانونه یې منظور کړل. د امریکا د خاصو ځواکونو (سپیشل فورس) ۴۰۰ تنه اضافي کسان یې ویتنام

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته واستول چې، د کمونیستانو له اغیز نه په آزادو شویو سیمو کې ثبات ټینګ کړي او له ځایي خلکو سره پخپله د خپل امنیت ټینګو لپاره د (ملکي دفاع ډلو) په جوړولو کې مرسته وکړي. د ۱۹۹۱ز په سپتمبر کې د سپېشل فورس پینځم (هوایي کنډک) هم ددې کار لپاره فعال کړای شو.

په دې معامله کې د کینیډي د احساساتو او جذبو په پایله کې په ویتنام کې د سي آی اې پټ ماموریتونه هم زیات شول چې، په سایګون کې د دوی د مرکز د مشر ویلیم کولبي په مشرتابه ترسره کیدل. هغه اجازه درلوده چې خاص ځواکونه او د امریکا سمندري ځواک(سیل) چې په ځمکه، اوبو او فضا کې فعالیت کولای شي، په پټو عملیاتو کې د شاملوونکیو ویتنامیانو په روزلو او مشورو کې کارولای شي.

د سي آی اې دې مامورینو د نهاترانګ له څنډو څخه د مشترکې مطالعاتي ساحې (سي آی اس) تر ظاهري نامه لاندې د جنوبي ویتنام د پوځ لومړني هغه ګروپونه وروزل چې له اوږده واټن څخه دننه ننوزي او عملیات سرته ورسوي. پر ۱۹۶۱ او ۶۲مو کلونو کې دې ګروپ په لاوس کې ۴۱ ځله عملیات وکړل، او د شمالي ویتنام د مداخله کوونکیو ګروپونو د لارو څارنه یې وکړه، خو د ډېر احتیاط له امله هغوی ډېر مهم جاسوسي معلومات ترلاسه نکړای شول. د (سېل) کوماندویانو د (سي کوماندویانو) په نامه یو ګروپ هم جوړ کړ، چې موخه یې پر سواحلو چاپې غورځول وو، خو له زیاتو چاپو وروسته هغوی د شمالي ویتنام د وسله والو ګړندیو کښتیو سره مخ شول چې له هغو وروسته سي آی اې دوی ته د عادي کښتیو پر ځای برید

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوونکې جنګي کیښتې چمتو کړې، چې ډېر زر هغوی د ویتنام پر ټوپک لرونکیو کیښتیو بر لاسي شول.

سي آی اې د پټو عملیاتو لپاره، یو پټ هوایي ځواک هم جوړ کړ، دا یې د ویتنامي هوایي ځواک له یوه کنډک څخه جوړ کړ چې قوماندې یې د ډګروال نګویان کاوکي سره وه، دوی ته هغو قومپالو چینایانو روزنه ورکړه، چې سي آی اې په چین کې د پټو عملیاتو لپاره روزلي وو، په شمالي ویتنام او لاوس کې د هوایي عملیاتو د پلانولو مسوولیت د امریکا د هوایي ځواک د ۱۰۴۵ لمبر عملیاتي د ارزونې ټرېننګ ګروپ(وای ټي جي) ته سپارل شوی ؤ، چې په ټولې منځنۍ او جنوب ختیځې آسیا کې د سي آی اې په پټو عملیاتو کې مرسته رسوونکی یونټ ؤ.

سره له دې چې دغه یونټ په تبت کې د (بارنم) په عملیاتو کې بوخت ؤ، له دې سره یې په لاوس او شمالي ویتنام کې هم د سي آی اې په عملیاتو کې هوایي مرسته ور رسوله. دلته هم د عملیاتو قوماندې جګړن لارنس روپکا ته ورکړای شوه چې د لاوس له لارې یې شمالي ویتنام ته الوتنې کولې.

په شمالي ویتنام کې پلي کړای شوي لومړني څلور کسیز ټیم ته، له سایګون څخه ۲۵میله شمال ختیځ لوري ته، د لانګ تنهه په کمپ کې روزنه ورکړای شوه. د اټلس په شفري نامه دغه ټیم په مارچ کې ټایلند ته ورسول شو، له هغه ځایه د هلیکوپټر په واسطه د لاوس دننه سرحد ته نږدې کوز کړای شو. خو کله چې دغه ټیم پلی شو نو د شمالي ویتنام پوځ د هلیکوپټرو د کوزیدو سیمه پخوا کلابنده کړې وه، هغوی د دې ټیم دوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

تنه ووژل او دوه نور يې ژوندي ونيول. درې مياشتې وروسته هغه دوه تنه په هنويي کې محاکمه شول. د می په مياشت کې يو بل ټيم د شمالي ويتنام په لويديز کې په سون لا ولايت کې ښکته کړای شو. د کاسټر په شفري نامه په دې ټيم کې د ويتنامي کوماندو پوځ څلور تنه شامل وو چې د همدې ولايت اوسيدونکي وو، څو ورځې وروسته سي آی اې ته دا معلومات وشو چې د دې ټيم غړي نيول شوي دي، اوس د شمالي ويتنام د پوځيانو تر فشار لاندې مخابروي پيغامونه استوي. دغه مخابروي اړيکې د ۱۹۶۳ز تر جولای پورې روانې وې او بيا غوڅې شوې. وروسته بيا دوه نور ټيمونه د (ايکو) او (ډيډو) په نومونو هم پلي کړای شول، ايکو ګروپ د جون پر ۲مه د ساحلي ولايت کورنګ مو په لام تراچ ولسوالۍ کې کوز کړای شو. خو له کوزيدو سره يې درې واړه غړي ونيول شول، د دوی له مخابرو څخه د شمالي ويتنام چارواکيو د دوکه کولو په عملياتو کې کار واخيست. سي آی اې له ايکو سره د ۱۹۶۲ز تر اګسټ پورې مخابروي اړيکې وساتلې.

ډيډو هم د ۱۹۶۱ز په جون کې ښکته کړای شو، د هغوی څلور واړه غړي په لابې چاو ولايت کې تر کوزيدو لږ وروسته هغه مهال ونيول شول چې يوه غړي يې له خپل کور سره اړيکې ونيوې. د شمالي ويتنام چارواکيو دغه ټيم هم د دوکه کولو لپاره وکاراوه او د دوی په واسطه يې مخابروي پيغامونه خپرول، تردې چې سي آی اې دغه اړيکې غوڅې کړې.

په ۱۹۶۲ز کې نور ټيمونه هم پلي کړای شول، لومړی ټيم د تارزن په نامه کوز کړای شو چې له سي آی اې سره يې د ۱۹۶۳ز تر جون پورې مخابروي

(c) ketabton.com: The Digital Library

اړیکې وې، د فبروري پر ۲۰مه یوروپا نومی ټیم له لاوس سره په برید کې دننه کوز کړای شو چې دوه ورځې وروسته ونیول شو. د اپریل پر ۱۶مه د (ربمس) څلور کسیز ګروپ د ډین بین پهیو ته نږدې سیمه کې پلی کړای شو. د اګسټ پر ۱۲مه په دې ګروپ کې دوه تنه نور ور اضافه شول.

د ۱۹۶۳ز تر پایه یې ټول ټال ۲۶ګروپونه او یو ځانګړی ایجنټ(جاسوس) کوز کړل. د شمالي ویتنام چارواکیو نږدې ټول دغه ګروپونه ونیول، چې له هغوی څخه یې درې ګروپونه په چل ول د مخابروي پیغامونو لپاره وګومارل خو سي ای اې پرې خبره وه، سي آی اې پخپله د دوکې په دود دغه اړیکې ساتلې وې.

۱۸ میاشتې مخکې په اپریل کې د کینیډي حکومت له یوې بربادۍ سره مخ شو، کله چې د سي آی اې په ملاتړ د کاسترو جلاوطنه مخالفینو پر (بې آف پګز) ناکام برید وکړ، د دې پلان د ناکامۍ د پلټنو لپاره د جنرال میکس وېل ټیلر په مشرۍ یو کمیسیون جوړ شو، دوی دا وویل چې دغه عملیات دومره پراخ او تیت شول چې د سي آی اې له کنترولە ووتل، دې کمیسیون سپارښتنه وکړه چې د سي آی اې تر اداره لاندې په نورو روانو پلانونو باید له سره غوره وشي. هغوی پردې سربېره دا سپارښتنه وکړه چې کوم عملیات د استخباراتي ادارو له کنترولە وتلي وي، د امریکا پوځ ته دې وسپارل شي، د ځیړونکي کمیسیون د رپورټ په پایله کې، سي آی اې دې ته چمتو شوه چې د جنوبي ویتنام عملیات په ۱۸ میاشتو کې دننه پوځ ته وسپاري، دې کار ته یې چې کومه طریقه غوره کړه هغو ته یې (سوچ بیک) نوم ورکړ چې د ۱۹۶۳ز تر پایه باید بشپړ شوی وای. خو دوو مهمو پېښو

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه پروګرام وځنډاوه، یو د جنوبي ویتنام د ولسمشر نګوډنهه ډایم د تخت رانسکوریدل او بل له دې څخه درې اونۍ وروسته دامریکا د ولسمشر کینیډي وژل کیدل وو.

په جنوب کې د کمونیستانو د پر لپسې لاسوهنې او مداخلې د زیاتوالي له امله امریکا په شمالي ویتنام کې د پټو عملیاتو ګړندي کولو پریکړه وکړه. په دسمبر کې سي آی اې او دفاع وزارت د(۳۴ اې عملیاتي پلان) په نامه یو پلان چمتو کړ چې د منظورۍ لپاره یې دلوی درستیز مرستیال ته وړاندې کړ. د ۱۹۶۳ز د دسمبر پر ۲۱مه د امریکا د دفاع وزیر رابرت مکنامارا ولسمشر لینډن جانسن له دې پلان څخه خبر کړ. د ۱۹۶۴ز د جنوري پر ۱۶مه د دفاع وزارت لارښوونه وکړه چې د دې پلان مسوولیت په ویتنام کې د امریکا عملیاتي مرستندوی پوځ ته وسپارل شي چې قوماندې یې د جنرال پال هارکنز پر غاړه وه. درې ورځې وروسته د دفاع وزارت او سي آی اې په منظورۍ پر دې پلان عملي کار پیل شو.

* * * *

د ۱۹۶۴ز د جنوري پر ۲۴مه په ویتنام کې د امریکا مرستندوی مشورتي ګروپ په ویتنام کې د سي آی اې د پټو عملیاتو د اداره کولو لپاره یو ځانګړی یونټ(خاص عملیاتي ګروپ) جوړ کړ چې د امریکا د درې واړو قواوو غړي پکې شامل وو، څو میاشتې وروسته د دې ګروپ نوم بدل کړای شو،(مطالعاتي او څارونکی ګروپ) نوم پرې کښښودل شو، عملاً دغه ګروپ په ویتنام کې د امریکا د عملیاتي مرستندوی ځواک تر قوماندې لاندې نه ؤ او په واشنګټن کې د لوی درستیز د مرستیال له لوري نیغ اداره کیدو، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

عملیاتي مشورتي ګروپ یوازې پینځو کسانو په سایګون کې د دوی له فعالیتونو او عملیاتو څخه معلومات درلودل، یعنې په جنوبي ویتنام کې د امریکایي ځواکونو قوماندان، د هغه د دفتر رئیس، د هغه د استخباراتو رئیس، د امریکا د هوایي ځواکونو د اووم هوایي ځواک قوماندان او د امریکا د پوځ عمومي قوماندان.

عملیاتي مرستندوی ځواک، د دې نوي خاص ګروپ مشر ډګروال کلائیډ آر رسل وټاکه، د سایګون په شمال ختیځ کې د لانګ تهنه په کمپ کې د سي آی اې د مرکز له سنبالولو وروسته هغه خپل یونټ په څلورو برخو وویشه، لومړی د هوایي کوماندو عملیاتي ګروپ ؤ چې مشر یې په پیل کې ډګرمن ادوارد پارټین وټاکه.

د امریکایي مشورتي عملیاتي ګروپ د هوایي مرستو پلان، د هغه د هوایي مطالعاتو څانګې چمتو کړی ؤ، د هوایي عملیاتو شفري نوم(مډرف) ؤ او د هوایي مطالعاتو ګروپ مسوولیت ؤ چې الوتکې ورته چمتو کړي، چې تر قوماندې لاندې یې د هوایي خاصو عملیاتو شلم کنډک، د ۲۱۹م کنډک هلیکوپټرو ټولې، او د لومړي لمبر هوایي چلن الوتکو یونټ ؤ چې ترانسپورتي هلیکوپټرې، ګن شپ هلیکوپټرې، کنګ بي ډوله هلیکوپټرې او C123 ډوله الوتکې پکې شاملې وې، د لومړي لمبر یونټ الوتکې چینایي قومپالو پیلوټانو الوزولې، چې د چین د ولسي جمهوریت (تایوان) په ۳۴م کنډک کې یې دنده ترسره کړې وه، دا ډېر پټ یونټ ؤ چې د چین په مرکزي ځمکه کې دننه یې د سي آی اې له لوري عملیات اجرا کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سمندر له لارې د کیدونکیو عملیاتو کود نوم(پلومین) ؤ، میري ټایم عملیاتي ګروپ یې مسوولیت درلود. رواني جګړه د (هیومی ډور) په شفري نامه سایکالوجیکي عملیاتي ګروپ د بېلابېلو رادیویي ترانسمیترونو په واسطه روان کړی ؤ چې توند او نرم تبلیغات یې کول، په دې کې ځینو ترانسمیترونو داسې ښودله چې ګواکې د شمالي ویتنام له دننه څخه فعالیت کوي.

د انتقال او لیږد خدمات د مطالعاتي او څارنې ګروپ لوژیستکي څانګې سرته رسول، چې د مرستو لپاره یې د امریکا د پوځ د جنسي لوژیستیکي خدماتو اداري او د سي آی اې د لوژیستیکي خدماتو ډېرې پټې اډې ته چې په اوکیناوا کې وه مخه کوله.

د لانګ تهنه له کمپ پرته، مطالعاتي او څارنې ځواک ته له سي آی اې څخه ۲۰زره تنه تر روزنه لاندې مامورین هم په میراث پاتې شول، تردې مهاله شمالي ویتنام ته، دننه ویستل شویو ټیمونو شمېر تر شلو واوښت. له هغوی څخه بېل، ایزی، ریمس او ټربلن او یو تن جاسوس ایرس خوندي پاتې شول، له روزل شویو جاسوسانو څخه لږ کسان له معیار سره برابر وو، شکمن جاسوسان په بېلابېلو ټیمونو کې په شمالي ویتنام کې راکوز کړای شول چې هلته ټول ونیول شول، او په دې ډول یې ځانونه تري بیغمه کړل، پاتې نور یې له خوندي ټیمونو سره د ملګري کیدو لپاره واستول.

د مطالعاتي او څارنې ګروپ (اس او جي) له جوړیدو دري اونۍ وروسته، میري ټایم عملیاتي ګروپ خپل لومړنی ماموریت پیل کړ. د فبروري پر ۱۶مه د دې ګروپ د سمندري ټیم دري بیړیو د یوه پله د الوزولو لپاره پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساحل د سمندري کوماندویانو د پلي کولو هڅه وکړه، خو د شمالي ویتنام ساحلي توپخانې په توندو ډزو د دوی دغه هڅه ناکامه کړه، څو ورځې وروسته یو بل ماموریت هم ناکام شو او په هغو کې اته تنه سمندري کوماندویان ووژل شول.

بیا هم د جولای پر ۳۰مه د سمندري ټیم پینځو کیښتیو هېڅاپونګ ته نږدې د دښمن پر ساحلي رادارو برید وکړ، داګسټ پر دوهمه نیټه شمالي ویتنام د ټونکن په خلیج کې د تارپیډو ګړندیو کیښتیو په واسطه د امریکا پر خطرناکه میډوکس بیړۍ ځوابي برید وکړ. سبا ته یې د امریکایي سمندري ټیم کیښتیو پر یوه ساحلي رادار بل برید وکړ.

د اګسټ پر ۴مه د امریکا پر دې ګوابښ سربېره چې که د دوی پر جنګي بیړیو نور بریدونه وشي نو بدې پایلې به ولري، خو د شمالي ویتنام تارپیډو کیښتیو د امریکا پر ترنر جوای جنګي بیړۍ برید وکړ.

د اګسټ پر پینځمه د امریکا د سمندري ځواک اووم کنډک یوې بیړۍ د دښمن د تارپیډو کیښتیو پر اړه ځوابي برید وکړ. دوې ورځې وروسته د امریکا کانګرس د (ټونکن خلیج) قرارداد پاس کړ او پر امریکایي پوځ د بریدونو د ماتولو لپاره یې د ولسمشر له لوري د بندیز د لرې کولو پرېکړه تائید کړه.

په اپریل کې سایګون ته د سفر پر مهال د دفاع وزیر میکنا مارا غوښتنه وکړه چې د جنوبي ویتنام پوځ د کهې سنه په لویدیز کې جاسوسي ماموریتونه باید سرته ورسوي. هغه دا ومنله چې ویتنامیان د امریکا له مرستې پرته دا کار نشي کولای، ځکه خو هغه د ځانګړیو ځواکونو افسرانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته حکم وکړ چې له هغوی سره لاړ شي، د دې ماموریت کود نوم (لیپنګ لینا) کښودل شو، هغه امر وکړ چې په یوه میاشت دننه کې باید دغه عملیات پیل شي، خو لومړنی جاسوسي ټیم د جون تر ۲۴مې پورې روان نه کړای شو، خو پر لومړي ټیم پسې راتلونکي اونۍ پینځه نور ټیمونه چې په هر یوه کې اته تنه ویتنامیان وو، د لاوس دننه کوز کړای شول، خو له دې ۴۸ کسانو څخه یوازې ۴تنه ښه‌رته ژوندي راستانه شول، نور ټول ووژل او یا ونیول شول. کوم کسان چې ژوندي راووتل هغوی د (هوچي من لارې) په موندلو بریالي شول. دوی وویل چې دا د سرکونو او خوړونو یو جال دی، داسې پوښل شوي چې له فضا څخه نه ښکاري او پر هغو په لوی شمېر پوځي لارۍ او پوځي کاروانونه، له وېرې او خطر پرته تګ راتګ کوي.

د ۱۹۶۵ز په پیل کې له تصویرونو څخه څرګندیده چې د هوچي من لارې پراختیا مومي، د امریکا د هوایي چلن یوه پیلوټ د شمالي ویتنام او لاوس په منځ کې په (موګیا دره) کې د یوه نوي جوړیدونکي سرک تصویر واخیست. د مارچ پر اتمه له اوږده انتظار وروسته مطالعاتي، څارونکي ګروپ دا اجازه ترلاسه کړه چې د خاصو ځواکونو مامورین د هوچي من د لارې د جاسوسۍ لپاره وګوماري.

دغه مهال په ویتنام کې د امریکا عملیاتي مرستندوی ځواک قوماندان، ډګروال کلایډ رسل د مطالعاتي څارونکي ګروپ قوماندې ډګروال ډونالډ بلیک برن ته وسپارله چې د چریکي جګړو په نړۍ کې یو پیژندل شوی نوم ؤ. نوموړی په دوهمه نړیواله جګړه کې، د جاپاني قواؤ لخوا د فلیپین له نیولو وروسته، له باټان څخه وتښتید، د شمالي لوزان په غرونو کې یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو شل زره کسیز د مقاومت ګروپ جوړ کړ، د دې پوځ له پینځو کنډکونو څخه یو د (ایګوریټ) قبایلو څخه ؤ چې د سرونو ښکاریان بلل کیدل، د بلیک برن د سرونو ښکاریانو په نامه دې چریکانو د امریکا د پوځ لپاره خدمت کاوه.

د بلیک برن په قوماندې د مطالعاتي څارونکي ګروپ لومړني لوی عملیات د(شاینتنګ براس) وو چې د هغه تر قوماندې لاندې د خاصو ځواکونو (سپیشل فورس) د افسرانو تر حکم لاندې له کرایي پوځیانو څخه جوړو ټیمونو، په لاوس کې د جاسوسۍ ماموریت ترسره کاوه، دغه ماموریت د عملیاتي مرستندوی ځواک د یوه نوي یونټ (د اراضي د مطالعې ګروپ) لخوا سرته رسولو چې قوماندې یې له ډګروال سایمنز سره وه.

د پینځو ټیمونو د مشرتابه لپاره ١٦تنه داوطلب پوځیان په اوکیناوا کې د خاصو ځواکونو له (هوایي کوماندو) څخه وګومارل شول. له روزنې وروسته هغوی جنوبي ویتنام ته راوستل شول، دلته د لونګ قبیلو کسان دوی ته وسپارل شول، دغه قبیلوي کسان سخت جنګیالي وو او د سي آی اې تر قوماندې لاندې یې په پټو عملیاتو کې بېساري خدمتونه سرته رسولي وو.

د ټیم هر امریکایي غړي یو شفري نوم درلود چې له هغو څخه یې حیثیت معلوم ؤ، د ساري په توګه د قوماندان (یو-صفر) او د مرستیال یې (یو-یو) او د ټیم د مخابرې مسوول ته(یو-دوه) شفري نوم ورکړل شوی ؤ. د مخابرې کارولو لپاره (یو) شفري نوم ورکړل شوی ؤ او د ټیم ډله ایز نوم بیا د امریکا د کوم ریاست نوم غوره شوی ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عملیاتو لومړۍ موخه جنوبي لاوس ؤ، هلته د شمالي ویتنام د پوځ د اډو او غونډو په اړه معلومات هدف وو، تر څو هوایي ځواک پر هغوی بمباري وکړي.

په دوهم پړاو کې د (هیچټ ځواک) په نامه خوځنده ضربتي ګروپونه جوړول په پام کې وو، چې د هلیکوپټرو (څرخیو) په واسطه په شمالي ویتنام کې ښکته شي او پر اکمالاتي لارو د خرپ او ترپ عملیات وکړي. درېیم پړاو په لویه کچه د غرنیو قبایلو ګومارل او د هغوی د غیر منظمو ګروپونو جوړول وو، خو په لاوس کې د امریکا سفیر ویلیم سلیوان د دې پلان مخالفت وکړ، وې ویل چې عملیات باید د لاوس او جنوبي ویتنام په حدودو کې پاتې شي. هلیکوپټرې باید یوازې په بیړنیو حالاتو کې د کسانو د ایستلو لپاره وکارول شي.

ډګروال سایمنز په دې موده کې په ډانانګ کې د امریکا په ستره پوځي اډه کې د ډګرمن ري کال ترقوماندې لاندې د (شایننګ براس) د قوماندې او کنترول مرکز جوړ کړی ؤ، تر دې وروسته یې له ډانانګ نه جنوب لویدیز لور ته ۶۰ کیلومتره لرې د تام ډک خوشې شوې امریکایي اډې د ضربتي ګروپونونو کمپ جوړ کړ، چې دلته د ټیمونو د استوګنې او د هلیکوپټرو د تیل اچولو امکانات هم وو. د دې پوځي مرکز قوماندې د ډګرمن چارلي نارټن په لاس کې وه. په داسې حال کې چې عملیات د تورن لیرې تارن تر څارنه لاندې کیدل، هغه د فنلنډ اوسیدونکی ؤ او په ۱۹۴۰ز کې یې له شوروي اتحاد سره جګړه کړې وه، په یو ځل عملیاتو کې هغه له خپل چریکي ګروپ سره په یوه غلچکي برید کې درې سوه روسي پوځیان وژلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

وو. ببله دې چې د دوی د یوه پوځي پزه دې وینې شي. نوموړی بیا له جرمنیانو سره ملګری شو. له جګړې وروسته چې کله ښرته فنلنډ ته راستون شو، د دې له امله چې روسان ورپسې وو ونیول شو، خو په ټښته بریالی شو او امریکا ته لاړ، چې هلته د امریکا د پوځ د یوه پخواني منصبدار په واسطه د امریکا تابعیت ورکړای شو، چې بیا په امریکایي پوځ او ورپسې په خاصو عملیاتي ګروپونو کې شامل شو. له څه مودې وروسته هغه په ۷۷یم خاص ځواک کې شامل شو.

په کام ډک کې د تارن مرستیال تورن سلی فونټین یو برتانوی ؤ چې د کوریا په جګړه په امریکایي پوځ کې شامل شو.

لومړني شاینګ براس عملیات د ۱۹۶۵ز د اکتوبر پر ۱۸مه ماښام مهال پیل شول. جاسوسي آیوا نومی ټیم د چارلس پیري په مشرۍ له کام ډک څخه په دوو هلیکوپټرو کې سرحد ته نږدې د کوزیدو په سیمه کې پلي شول. یوه درېیمه څرخۍ هم په هغوی پسې راغله، چې د دښمن د برید په صورت کې پلي کړای شوي کسان ښرته وباسي. د مرستندویو ډزو او هوایي ځواک د پوښښ بندوبست هم شوی ؤ، دواړو څرخیو ټیم پلی کړ او ښرته ستنې شوې. درېیمه هلیکوپټره هم په هغوی پسې ورغله خو ورکه شوه چې له هغې وروسته د هغو او د تورن لاري تارن په ګډون د نورې عملې هیڅ درک معلوم نه شو.

دغه ټیم چې کوم مهال د هدف په لور روان شو نو هوا ډېره خرابه وه. د دوی موخه د لاوس ۱۶۵یمه لویه لاره وه، دلته هغه سیمه وه چې ګومان کیده د شمالي ویتنام پوځ له دې ځایه پر دانانګ توغندي توغوي او ډزې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي، د دې سيمې نوم يې (لومړی هدف) وټاکه، هلته چې ورسيدل پيري او د هغه کسانو ته دا معلومه شوه چې دا د ښمن د فعاليتونو د مرکز سيمه ده او دلته د ويتنامي پوځ څو مرکزونه او لارې دي، د عملياتو په درېيمه ورځ دوی د موټرو د ماشين غږونه واوريدل، چې د پلټنو لپاره ور ووتل نو د ويتنامي پوځ له يوې ډلې سره مخ شول، په جګړه کې د پيري يو تن ووژل شو او نوره ډله له سيمې ووتله، هوا خرابه وه دوې ورځې وروسته يې مخابرې کار وکړ او دوی هوايي مرسته وغوښتله، چې بيا يې د څرخيو په واسطه له وان څخه را وايستل، کام ډک ته له رسيدو وروسته، پيري په هغه سيمه کې پر ځينو اهدافو بمباري وکړه چې دوی هلته ليدلي وو، په هغو کې يو شمېر د وسلو لويې ذخيرې هم وې. د نومبر پر دوهمه ماښام د ارزونې ټيم د (الاسکا) د بريدګي ډک وارن په مشرۍ له سرحده پورې غاړې ته کوز کړای شول، د دوی موخه د شمالي ويتنام د پوځ د راټولېدو هغه سيمه وه چې دوی پر جنوبي ويتنام د برېد لپاره تړې کار اخيست، دلته دومره ګڼ واښه او بوټي وو چې فيل پکې ورکيده، څلورمه ورځ دغه ټيم له دښمن سره مخ شو چې د دښمن پوځيان ووژل شول، ټيم له هغه ځايه وتښتيد خو دښمن ورپسې شو. وارن خپل ټيم يوې جګې غونډۍ ته وخيژاوه، له هغه ځايه يې په مخابره له مرکز سره اړيکه ونيوه، دښمن تر دې مهاله غونډۍ کلابنده کړه او وښو ته يې اور واچاوه، ډېرې زر ايف ټنډر جنګي الوتکې راورسېدې هغوی پر دښمن بمباري وکړه او په دې ترڅ کې يې د هليکوپټرو په واسطه ټيم له دې ځايه وايستلو، له بېرته ستنيدو

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته وارن د ایف اې سي د یوې الوتکې په واسطه بیا دې سیمې ته ورغی په یوه پله او څو ودانیو یې بمباري وکړه.

تردې وروسته دغه ډول عملیات د ورځې معمول وګرځیدل، ټیمونه به یې کوز کړل. اهداف به یې په نښه کړل او د اړتیا پر مهال به یې مخابروي اړیکه ونیوله او هوایي مرسته به یې وغوښتله.

د ۱۹۶۵ز د دسمبر پر ۱۱ مه د امریکا هوایي ځواک لومړی ځل په لاوس کې بمباري وکړه، ۲۴ بي ۵۲ سټریټوفورټریس الوتکو د (آیوا) ټیم له خوا په نښه شویو سیمو بمباري وکړه، تر دې مهاله پورې د عملیاتو (شاینینګ براس) مرکز د لاوس جنوب لور ته تللی ؤ.

دغه سیمه د جنوبي ویتنام د منځنۍ جګې سطحې سره ټرلې وه، عملیات د (ډاک ټوکې) له هوایي ډګره وشول. پردې سربېره د ۱۱۰ لمبر لویې لارې پر سر د شمالي ویتنام پوځ د کمپونو او لارو معلومات یې وکړل، د عملیاتو لومړي دوه ټیمونه (کنساس او ایډاهو) له دښمن سره مخامخ شول، په دوهم ټیم کې د ننګ قبایلو یو تن ووژل شو او یو تن امریکایي ټپي شو.

د دسمبر تر پایه د (شاینینګ براس) تر څارنې لاندې ۸ ځله عملیات ترسره شول، له هغو څخه شپږ ټیمونه د شمالي ویتنام پوځ د اډوارډ لارو په اړه معلومات راوړل او بېرته راستانه شول. د دغه معلوماتو پر بنسټ په لاوس کې د شمالي ویتنام د پوځ د اکمالاتو او تګ راتګ د نظام د ریښتیني تصویر په رغولو کې ډېره مرسته وشوه. د (هوچي من لارې) د هغو لویو سرکونو او لارو یو جال ؤ چې د روسانو لخوا ورکړل شویو لاریو ته جوړ شوي ؤ. دغه لارې ډېرې کلکې ستر او اخفا شوې وې او د وریځو په شپو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې به نړدې سل لارې په کاروانونو کې روانې وې چې له فضا نه د هغو لیدل او تر برید لاندې نیول یې عملاً ناشوني کیدل. له دغو لویو لارو څخه وړوکي وړوکي نور سرکونه هم تللي وو، چې د ویتنامي پوځ پلیو کسانو به پیټې پرې وړل، یا به یې په لویو موټرسایکلونو بارول او وړل به یې. دغه ټولې لارې په بوټیو او د ونو په څانګو پوښل شوې او ستر او اخفا شوې وې، چې کاروانونو به د ونو په منځ کې د تګ لوری بدلاوه او تېریدل به. په ټاکل شویو ځایونو کې پوځي مرکزونه او د وسایلو د پارک لپاره ځایونه غوره شوي وو، چې د امریکا د عملیاتي ګروپونو لخوا د هغو ځایونه افشا کړای شول.

د امریکا له استخباراتو سره د معلوماتو د کمي حالت داسې ؤ چې د دغو جاسوسي ګروپونو پر لومړیو راپورونو یې هیڅ باور نه کاوه، یو ځل چې کله د کوم کاروان د تېریدو خبر ورته ورسید، نو دوی هغه مهال پر هغو باور وکړ چې څو ورځې وروسته یوې الوتکې د هغه کاروان تصویرونه واخیستل.

د ۱۹٦٦ز په پیل کې په لاوس کې د امریکا سفیر ګیلوان د استخباراتي ګروپونو پر فعالیتونو بندیزونه نرم کړل او هغه پردې راضي شو چې د لاوس د ټول دوه سوه میله اوږده سرحد په اوږدو کې تر ۲۰میله دننه عملیات کولای شي. هغه دا اجازه هم ورکړه چې په څرخیو کې دننه لاړ شي، ځکه خو د جاسوسي عملیاتو د ټیمونو شمېر له پینځو نه شلو ته لوړ شو، د هغو لپاره د افرادو ګومارلو لپاره دې اداري مونټاګنارډ قبیلو ته مخه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډګروال سایمنز له ببلابېلو قبیلو د ساري په توګه رهیډ، جارایي، سیدانګ، او برو څخه د خلکو دګمارلو دنده تورن سلي فونټین ته وسپارله.

ډګروال ډونالډ بلیک برن، د جاسوسي ماموریتونو لپاره په درې پړاوونو کې پروګرام چمتو کړ. لومړی پړاو دا چې د شمالي ویتنام د پوځیانو د اهدافو ځایونه پیدا کړي. دوهم پړاو د برید کوونکیو ټیمونو د ننه بیولو پړاو ؤ، او درېیم پړاو د هوچي من پر لارو د وېرې او ترهې خپرولو لپاره د ځایي ډلو منظم کول وو.

تر جولای پورې په لاوس کې ۳۸ د ارزونې او څار ماموریتونه بشپړ کړای شول، دغه مهال په غیر پوځي سیمه کې او د هغو په لویدیز کې د لاوس دننه پر ۹مه لویه لاره د عملیاتو لپاره په کهې سنه کې د خاصو ځواکونو په اډه کې ځینې ټیمونه ځای پر ځای شول.

له کهې سنه څخه د عملیاتو له پیلیدو څو اونۍ وروسته دغه جاسوسي ګروپونو لومړی لوی زیانونه وګالل. لومړی لوی زیان د ایچ ۳۴کنګ بي څرخۍ الوتکې ؤ چې د عملیاتو پر مهال راوغورځیده او پکې سپاره ټول کسان ووژل شول. درې اونۍ وروسته د جګتورن هیرۍ ډې وهیلن په مشرۍ یو ټیم د کهې سنه په لویدیز کې کوز کړای شو، د عملیاتو په درېیمه ورځ هغوی د اوبو لپاره سیند ته نږدې ودریدل. د ټیم کپتان تورن ویلم لاز او د مخابرې مسوول د اوبو لپاره سیند ته ورښکته شول، خو هلته دښمن کمین نیولی ؤ او پر دوی یې ډزې وکړې. هغوی ځانونه سیند ته واچول، نور یې د اوبو له بهیر سره ښکته لاړل خو جګتورن وهیلن د اوبو مخالف سمت ته له مرمیو ځان ویوست او یو ځای د اوبو پر غاړه پټ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لږ ځنډ وروسته هغه د خپلو ملګریو بغاړې واوریدې چې ونیول شول. دښمن هغوی په ګولیو وویشتل او وې وژل، وسلې مخابرې او نور سامان یې ورسره واخیست او لاړل، جګتورن وهیلن د ګردونو او وریځو تر راپریوتو پورې هلته غلی ؤ، بیا یې په مخابره د څرخیو مرسته وغوښته چې څرخې الوتکه ورته راغله او هغه یې ورسره پورته کړ.

د ۱۹۶۶ز په سپتمبر کې یې جاسوسي ګروپ ته یوه اضافي دنده وسپارله، د کال له پیله د غورځول شویو الوتکو د عملې موندلو ته پام ور واوښت. دغه کار یې د پلټونکي ګروپ عملې ته وسپاره خو هغه پکې ناکام شو، بیا یې د امریکا د هوایي ځواک د فاسفیک د هوایي ځواک، څانګې قوماندان ډګروال هیري ایډر هالټ ته د مسالې د حل موندلو دنده ورکړه.

د ۱۹۶۶ز د سپتمبر پر ۱۶مه د جاسوسي عملیاتو یونټ یوه نوې څانګه د (او پي اس ۸۰) په نامه جوړه کړه، ایډر هالت یې د دې مشر وټاکه.

د دوی دنده داوه چې په عملیاتو کې د بې درکه شویو پوځیانو او مامورینو لټون وکړي او په شمالي ویتنام کې د جنګي بندیانو کمپونه پیدا کړي، له موندلو وروسته یې یا له کمونستو چارواکیو نه په رشوت او یا په پوځي عملیاتو راخوشي کړي، څرنګه چې په دې کار کې له ببلابېلو تنظیمونو سره باید اړیکې نیول شوې وای، ځکه خو (او پي اس ۸۰) ته د اړیکو او ارتباطاتو د مرکز ظاهري نوم ورکړ شو، او عملیات یې په (برایټ لایټ) شفري نامه یادیدل.

لومړی عملیات یې راتلونکي میاشت د اکتوبر پر ۱۲مه د اې-اسکای الوتکې له لویدو سره پیل شول، د الوتکې پیلوټ ډین وود توانیدلی ؤ چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

له الوتکې ځان واچوي او روغ کوز شي، هغه بیا په یوه ځنګل کې پټ شو. هغه ولیدل چې د پونګ بندر او مویي ګیا او هوچي من د لارو په منځ کې کوز شوی دی.

نوموړی له دې ځایه لرې ووت او سبا ته یې په مخابره کې له خپل مرکز سره اړیکه ټینګه شوه، د دې پیلوټ د را ایستلو لپاره یې یوه څرخۍ ور واستوله چې د دوو جیټ الوتکو له لوري بدرګه کیدله، له څرخۍ څخه چې د پریو زینه ښکته ځړیدلې وه هغه په ونو کې ونښتله چې بیا د هلیکوپټرې تیل خلاص شول، بیا د تیلو اچولو لپاره له ساحل څخه وړاندې بیړۍ ته وګرځیدله، د ماښام راتلو له امله دغه عملیات سبا ورځې ته ټال شول.

د اکتوبر پر۳مه د کولوراډو وټیم د بریدمن ټیډ براون په مشرۍ کهې سنه ته نږدې د غیر پوځي سیمې پر لویدیځه څنډه ښکته کړای شول، په دې موده کې ایرو زینا ټیم هم د همدې سیمې په شاوخوا کې کوز شوي وو، هلیکوپټرې چې څنګه دغه ټیم کوز کړ او والوته ټیم له څلور لوریو تر برید لاندې راغی. دوی په غلطۍ د شمالي ویتنام د یوه پوځي مرکز په منځ کې راکوز شوي وو. د دې ټیم د ایستلو هڅې د ډېرو توندو ډزو له امله ناکامې شوې، اوه څرخۍ د دې عملیاتو لپاره راغلې وې چې شپږ یې په ګولیو ولګېدې، چې بیا د ټیم مشر(یو-صفر) په مخابروي پیغام کې وغوښتل چې د ټیم د ژغورلو پر ځای په دې سیمه بمباري وکړي. څو دقیقې وروسته ای-اسکای جنګي الوتکو درنه بمباري وکړه.

په حیرانوونکې توګه د دې ټیم ځینې غړي له بمباري روغ پاتې شول، درې ورځې وروسته یې یو مونټانګارډ قبایلي جنګیالی ویوست، هغه بیا وویل

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې دی او د مخابرې مسوول ریډي ویلیمز څه ډول ژوندي پاتې شول، خو د ټیم قوماندان (۱-صفر) تورن ایکویریا او د هغه مرستیال (یو-یو) جم جونز ووژل شول. ویلیمز ټپي شوی ؤ او دوی دواړه په یوه غار کې پټ شول. مونټانګارډ د مرستې لپاره له غاره راووت، خو ویلیمز دښمن ته په لاس ورغی او وروسته یې په دار وځړاوه.

په دې موده کې د کولوراډو ټیم یو لړ بریاوې وګټلې، هغوی د شمالي ویتنام د پوځ د یو شمیر مرکزونو معلومات لاسته راوړل، پردې سربیره هغوی د ویتنامیانو ډېرې تیلفوني خبرې ثبت کړې او بیا ببرته راستانه شول.

د ۱۹۶۶ز په بهیر کې شمالي ویتنام په کلکه دغه خبرې رد کړې چې د دوی پوځونه په جنوبي ویتنام کې دي، خو (آیوا) ټیم دا ثابته کړه چې دا دروغ دي. هغه یې د ۱۱۰ لمبر لویې لارې پر سر ګومارلی ؤ، هغوی د شمالي ویتنام د پوځ څو ډلې لیدلې وې چې هلته ورغلې.

د ټیم کپتان جګړن ډک دوې ورځې وروسته د وژل شویو مامورینو د مړیو د راوړو لپاره واستول، د جګړن لاز مړی ونه موندل شو، خو د مخابرې د مسوول ډونالډ سین یې په داسې حالت وموند چې پټ یې بمونه پرې ټرلي وو.

د مطالعاتي ټیم څارونکي او د دوی د عملیاتو دومره سخت امنیت نیول شوی ؤ چې، د عملیاتو پر مهال به کوم کسان وژل کیدل د هغوی کورنۍ ته دا معلومات نه کیدو چې هغوی چېرته او څه ډول ووژل شول، همدغسې د دې جاسوسي ټیم د جاسوسي معلوماتو د شریکولو پر مهال هم دغسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

له راز ساتلو څخه کار اخیستل کیدو، معمولاً به د معلوماتو وسیله کوم جعلي چریکي ګروپ ښودل کیدو.

د ۱۹٦٦ز په وروستیو کې جاسوسي ټیم ته، لارښوونه وشوه چې د امریکا د سمندري ځواکونو ضربتي ګروپ ته جاسوسي مواد چمتو کړي، دغه ځواک پر دې ګومارلی ؤ چې د شمالي ویتنام دوې فرقې غیر پوځي سیمې ته ورټیل وهي. سمندري ضربتي ځواک د غیر پوځي سیمې په جنوب کې د (تین) په ساحه کې مورچل نیولی و، چې پر دوی له لرې د دښمن دوو فرقو پرلپسې ډزې کولې خو د هغوی د مورچل نه معلومیدو.

د کهې سنه پر شاوخوا د سمندري ځواک په مرسته د مطالعاتي څارونکي ټیم لومړی ځل عملیات د مني په موسم کې پیل شول، له دې ټیمونو سره د دښمن د تیلفوني خبرو د ثبتولو وسایل وو، دغه وسایل ځکه خطرناک وو چې دښمن ته له همدې نه د دوی د اوسیدو د ځای درک معلومیدو، همدغسې د مخابروي مکالمو د مانیتور وسایل وو چې هغوی پردې هم خبریدل چې مکالمې یې ثبتیږي. لومړنی ماموریت ناکام شو ځکه چې لومړني درې ټیمونه د دښمن د شمېر د زیاتوالي له امله له درې ورځو هم لږ موده هلته پاتې شول. د سپتمبر پر ۸مه پر یوه ټیم برید وشو چې یو امریکایي جاسوس او دوه تنه د ننګ قبیلې کسان ووژل شول.

خو د موسم د خرابۍ له لامله نورې هڅې ونه شوې، پردې سربېره د شمالي ویتنام پوځ الوتکې ویشتونکي توپونه ورسره راوړي وو. د دې معنا داوه چې هغوی به د هلیکوپټرو له راتلو سره هغه راغورځوي. ځکه خو دغه دنده (آیوا) ټیم ته وسپارل شوه، د اکتوبر د ۱۴مې په شپه، ۱۴کسیز ټیم د

(c) ketabton.com: The Digital Library

امریکا په الوتکو وړونکیې بیړۍ کې سپاره کړای شول. د اکتوبر پر ۱۶مه سهار چې موسم ښه شو نو دوې ځرخېدونکې الوتکې د شمالي ویتنام د څنډو په لور والوتې. په یوه کې ټیم سپور ؤ. دوهمه یې د شمالي ویتنام پوځیانو ته د دوکې لپاره وه، خو له هیلې سره سم چې دواړه ځرخېدونکې څنډو ته ورنږدې شوې تر سختو ډزو لاندې راغلې، خو د پیلوټانو د مهارت او کمال په سبب چاته څه زیان ونه رسید، د وویښ له ځایه اته سوه ګزه لرې (آیوا) ټیم د میډوز په مشرۍ ښکته کړای شو. تر دې وروسته هغه د غونډۍ په لور وړاندې روان شول، خو همدغه مهال دوی ته خبر ورسید چې وویښ ونیول شو. دغه مهال ټیم یوې لویې لارې ته رسیدلی ؤ. میډوز پرېکړه وکړه چې همدلته مورچل ونیسي، لږ ځنډ وروسته د شمالي ویتنام د پوځ یو افسر له درې سرتېرو سره راښکاره شول. میډوز درې واړه په ګولیو نښه کړل او وې وژل. تر دې وروسته ټیم له دې ځایه ووت، کله چې هلیکوپټرې هغوی ښېرته پورته کړل او د بیړۍ په لور روان شول، نو سختې ډزې پرې وشوې، ځکه خو دوی دې ته اړ شول چې کیښتۍ ته نږدې ښکته شي. تورن ډین وویښ شپږ کاله په بند کې پاتې شو.

په اکتوبر کې جاسوسي ټیم دوهم خو ډېر لوی (برایټ لایټ، عملیات وکړل. څو اونۍ وړاندې د ویټ کانګ یوه ناراضي چریک یو خبر ورکړی ؤ، ویت کانګ د جنوبي ویتنام د چریکي سازمان(ویتنام کانګ سان) ولسي نوم ؤ، چې د جنوبي ویتنام کمونست ګوند نشنل لبریشن فرنټ، د خپل پوځي ګروپ لپاره په ۱۹۶۰ز کې جوړ کړی ؤ. د هغو مرکزي برخه له ویت من پخوانیو غړیو څخه جوړه وه، وروسته بیا د شمالي ویتنام هغه دوه زره

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوځیان هم پکې شامل کړای شول چې پخوا له شمالي ویتنام څخه را بېل شول او جنوبي ویتنام ته راغلل، هغه ناراضي چریک وویل چې په تېرې جون میاشتې کې د امریکا د رانسکورې شوې پوځي سی ۱۲۳ ډوله الوتکې پیلوټ، کارل اي جکسن په میکانګ ډلټا کې په یوه کمپ کې چې د جنګي بندیانو لپاره دی بندي دی، دغه ځای د جنوبي ویتنام د جنوبي څنډې نه ۹۰ میله شمال لور ته پروت دی، د جاسوسي ټیم لخوا د (کرمسن ټایډ) په نامه یو ماموریت چې د کپتان فرینګ جکس په مشرۍ د ننګ قبیلو له درې کنډکونو څخه جوړ ؤ، عملیات وکړل، فرینک د چکوسلواکیا د مقاومت غورځنګ غړی ؤ چې پر ۱۹۴۸ز کې د کمونیستانو له واکمن کیدو سره امریکا ته وتښتید.

د اکتوبر پر ۱۸مه دغه ځواک له پوځي مرکزه ساک ترانګ ته ورسول شو، له هغه ځایه یې دوی په ۱۲ څرخیو کې یووړل. فرینک پردې عملیاتو ډاډه نه ؤ، ده ته یې د عملیاتو په اړه بشپړ معلومات نه وو ورکړي، یوازې دومره یې ورته وویل چې د کمپ دفاع ډېره معمولي او ساده ده، او ټول عملیات به په شلو دقیقو کې بشپړ شي، هغه خپلو کسانو ته د معمول دوه برابره مرمیو د وړو هدایت ورکړ.

له ساک ترانګ نه تر الوتلو شل دقیقې وروسته د مخې څرخۍ د جګړن چارلي ویسلز په مشرۍ له خپل ټولي سره د کوزیدو سیمې ته ورسیدل، دغه ساحه د ټولو څرخیو د کوزیدو لپاره ډېره وړوکې وه، هغه د کمپ تر څنګ د ویالې پر بله غاړه خپل ګروپ پلی کړ، له دوی سره جوخت د کپتان جیک او دوه نور ګروپه د کوزیدو په سیمه کې راښکته شول،

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدغه مهال ناڅاپي پر دوی ټولو درنې ډزې پیل شوې. د جګړن فریډلیوس څرخۍ په مرمۍ ولګیده او راوغورځیده او لیوس پکې ووژل شو، دغه ځواک فلج پاتې شو، د مخابرې له اړیکو وروسته د سکای اې- یو الوتکو پر ځای ایف ۱۰۰ سپر سیبر الوتکې راورسیدې او درنه بمباري یې پیل کړه، چې په دې کې پخپله د دغه ځواک زیات کسان ووژل شول، سکای ریډر مانبام مهال راورسیدې خو تر دې مهاله ډېره ناوخته شوې وه. جګړه کرۍ شپه روانه وه، سهار ته جیک او د هغه کسان په جګړه جګړه کې د ویالې بلې غاړې ته ورسیدل او له نورو ګروپونو سره یو ځای شول، هلته یې جګړن لیوس او د هغه د ننګ قبیلو کسانو او جګړن ویسل او د هغه سرتیریو مړي ولیدل. وروسته معلومه شوه چې هغوی د شمالي ویتنام له زر تنو پوځیانو سره مخامخ شول چې په درنو توپونو او ماشیندارو سنبال وو.

یوه اونۍ وروسته (برایټ لایټ) لومړۍ بریا ترلاسه کړه، په شمالي ویتنام کې یې یوه ایف ۱۰۵ ټنډر ډوله جنګي الوتکه راوغورځوله، د هغو پیلوټ ولیدل شو چې له الوتکې یې ځان وغورځاوه او په پراشوټ کې کوز شو. د دې پیلوټ د موندلو لپاره مطالعاتي ځارونکي ټیم کپتان فرینک سائس ته دنده وسپارله، هغه اټکل وکړ چې د عملیاتو سیمه ۷۰ میله لرې او د هوچي من تر لارې وړاندې پرته ده، دغه سیمه د مطالعاتي ځارونکي ټیم د هلیکوپټرو د ډزو له دم نه لرې ده، ځکه دوی په یوه بله څرخۍ (هلیکوپټره) کې اضافي تیل او لاسي پمپ ورسره واخیستل. مانبام مهال سائس او ټیم یې له مرکزه د عملیاتو په لور روان شول. کله چې څرخۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

هلته ورسیدلې نو ماښام شوی ؤ، د دښمن پوځیان له هغه ځایه ایله سل ګزه لرې وو، دې ټیم هغه پیلوټ ورسره را واخیست او له څه پېښې پرته روغ رمټ راستانه شول.

* * * *

د جګړې په ټول دوران کې دغه ډول عملیاتو دوام درلود. دا د دغه مطالعاتي څارونکي ټیم تر ټولو خطرناک عملیات وو، ځکه چې په هغو سیمو کې به کیدل چې د دښمن زیات پوځونه به پکې وو او د الوتکو ضد وسلې به هم پکې دریدلې وې. ځینې وختونه به د الوتکې ضد توغندي او جنګي جیټ الوتکې هم وې او زیات عملیات به ناکامیدل هم.

د ۱۹۶۴ز له اپریل وروسته د جاسوسي عملیاتي ټیم د (ټمبر کاري عملیاتو) په نامه شمالي ویتنام ته هم د جاسوسانو استول پیل کړل. له یوه پرته نور ټول دغه ماموریتونه د (هوایي مطالعاتو ګروپ) لخوا ترسره شول. ټیمونه به یې د ۱۲۳ سي ډوله الوتکو په واسطه کوزول، د دغه کال تر دسمبر پورې ۱۲ ټیمونه کوز کړای شول، له هغو نه ۵ ټیمونه د شمالي ویتنام پوځیانو ونیول، یو ټیم د نومبر پر ۱۴مه هغه مهال ووژل شول چې د دوی الوتکه د ډانګ په بندر نومي غره کې ولویده او له منځه لاړه.

د ۱۹۶۵ز کال په بهیر کې یې لږ ټیمونه کوز کړل، په می کې یې هارس نومی ټیم چې نهه تنه پکې وو کوز کړل، تر څو له هغه ټیم سره یو ځای شي چې د ۶۳په اګسټ کې د جګړه مار (ایزي) په نامه استول شوی ؤ. د ۶۴کال په جولای کې هم دې ټیم ته مرسته ور رسول شوې وه. په سپتمبر کې د (ډاګ) نومي ټیم نهه تنه نور هم د هغوی د مرستې لپاره کوز کړای

(c) ketabton.com: The Digital Library

شول، دوې میاشتې وروسته په نومبر کې دوه نور ټیمونه هم ور واستول شول، د (ټور بلین) نومي ټیم د پیاوړتیا لپاره اته کسیزه (ورس) ټیم ور واستول شو، چې دوه تنه غړي یې د کوزیدو پر مهال ووژل شول. په همدې میاشت کې یې د (رومیو) په نامه ټیم هم کوز کړ چې لس تنه پکې وو.

پر ۱۹٦٦ز کې پینځه ټیمونه کوز کړای شول، لومړی ټیم د مارچ په میاشت کې پلی شو، چې یو غړی یې د کوزیدو پر مهال ووژل شو، پر ۱۹٦۷ز کې پینځه ټیمونه او یو جاسوس په شمالي ویتنام کې راکوز کړای شول، د جنوري پر ۲٦مه لومړنی ټیم د (هیدلې) په نامه په څرخیو کې ورسول شو چې ۱۱ تنه غړي یې درلودل، خو له کوزیدو سره سم ونیول شول. له دوی څخه وروستی ټیم (ریډ دریګن) ؤ چې کله هغوی مخابروي اړیکه ونیوه نو دا شک پیدا شو چې هغوی د دښمن لاسته لویدلي دي. د زیاترو ټیمونو په باب دغه بدګومانې وه چې هغوی له نیول کیدو وروسته د شمالي ویتنام والو تر فشار لاندې فعالیت کوي. خو بیا هم له دې ګروپونو سره د جاسوسي ماموریت د مرکز له لوري د هغوی د دوکه ساتلو لپاره تر ۱۹٦۹ز پورې مخابروي اړیکې ټینګې وې.

په ۱۹٦٦ز کې د جاسوسي ماموریت په یونټ کې د هوایي ځارنې ګروپ او برائټ لایټ وړتیاوې هغه مهال زیاتې شوې چې د امریکا د هوایي ځواک ۹۰یم د خاصو عملیاتو کنډک ورته راغې، تر اوسه پورې دغه کنډک په تایوان کې د چنګ چوان پر هوایي ډګر کې ځای پر ځای ؤ. له دې کنډک سره سي ۱۳۰ هرکولس ډوله الوتکې وې چې په ډېرو پرمختللیو تخنیکي او کشفي وسایلو سنبال وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې الوتکو کې داسې سیستم هم نصب ؤ چې لاندې یې وځړوي او د کومې غورځیدلې الوتکې عمله راپورته کړای شي، خو دغه نظام یوازې په هغو ځایونو کې بریالی ؤ چې د دښمن پوځونه هلته نه وي، خو په لاوس او شمالي ویتنام کې داسې نه وو. دې الوتکو څو دغسې عملیات وکړل خو ټول ناکام شول. د ۱۹٦۷ز په مارچ کې د (شایننګ براس) نوم یې په (پر یري فائر) بدل کړ. ځکه چې پخوانی شفري نوم افشا شوی ؤ. په همدې کال په جنوري کې د امریکا په پوځ کې د ویتنام د جګړې عمومي قوماندان ویلیم ویست مدرلیند دا طرحه ورکړه چې د عملیاتو ساحه پراخولای شي او د لاوس دننه ښه وړاندې هم کسان کوزولای شي. د امریکا سفیر هنری کابوټ لاج د دې د سیاسي پایلو د ارزونې ژمنه وکړه، خو تر پلې کیدو وړاندې د هغه پر ځای ایلس ورت بنکر وټاکل شو او دغه طرحه بېرته شنډه شوه.

د ۱۹٦۷ز د جولای په نیمایي کې معلومه شوه چې په لاوس کې هم د (پریری فایر) ټیمونو د لټون لپاره د شمالي ویتنام پوځ ځانګړې ډلې کاروي، د جګړن سالم المندریز په مشرۍ یوه ټیم د هیواد لویدیز ته په ٦۰ میلۍ کې د یوه سرک څارنه کوله چې د شمالي ویتنام پوځیانو ناڅاپي برید پرې وکړ المندریز او د هغه د مخابرې مسوول جګتورن هیري براون یې ووژل، خو د هغه مرستیال جګتورن رابرت سلیورن د ټیم د ننګ قبیلې له پینځو غړیو سره پردې بریالي شول چې وتښتي او خوندي ځای ته ځانونه ورسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر المندریز برید کوونکي، د شمالي ویتنام د ۳۰۵یم لمبر د هوایي کوماندو غونډ پخواني غړي وو چې په ۱۹۶۵ز کې جوړ شوی ؤ، خو د ۱۹۶۷ز د مارچ په ۱۹مه دغه غونډ ړنګ شو او د ۳۰۵یم لمبر خاص ځواک ترې جوړ شو. دد ې ځواک غړي د شمالي ویتنام د کوماندو پوځیان وو، په روسیه کې له روزل شویو دغو کوماندویانو سره تر نورو ښې وسلې وې او له سیاسي اړخه دوی تر نورو ډېر د باور وړ وو. د غونډ له ړنګیدو وروسته د دوی زیاتره غړي په (سیپر) ځواک کې شامل شول چې په جنوبي ویتنام کې دننه د اهدافو د له منځه وړ روزنه ورکړای شوه، له نورو نیمایي کسانو څخه یې یو خصوصي کنډک جوړ کړای شو چې درې ټولي یې درلودل. دوی ته یې د امریکا د جاسوسي ټیمونو د کشف او له منځه وړو روزنه ورکړه. هر ټولي د فعالیت ځانګړې سیمه درلوده، هغوی پل پیژندونکي او روزل شوي سپیان هم درلودل.

دغو ځواکونو پر امریکایي جاسوسي ټیمونو ځمکه سره کړه، په یوه برید کې یې د امریکا د یوه ټیم درې غړي ووژل، په دوهم برید کې ټول ټیم بې درکه شو، د (مین) په نامه ټیم د مناو جګړن ډیوید بیکر په مشرۍ د شمالي ویتنام د پوځي اډې سیمې ته د جاسوسي ماموریت لپاره واستول شو، دوی په دې ماموریت کې دا احساس کړه چې تر څارنه لاندې دي، هڅه یې وکړه چې وتښتي، خو جګړن بیکر او ټیم یې پردې ونه توانید چې پل پیژندونکیو ته دوکه ورکړي، په پل پیژندونکیو پسې د دښمن پوځیان هم ور ورسیدل، لږ وخت ورسته بېکر داسې احساس کړه چې دښمن

(c) ketabton.com: The Digital Library

غواړي دوی د ختیځ لور ته ور ټیل وهي، تر څو چې په یوه کړنګ کې راګیر شي او یا پراخه میدان ته ووزي.

دریمه ورځ سهار دښمن بیا هڅه پیل کړه چې دوی د ختیځ لور ته ور ټیل وهي، او بېکر په تنګ شو له دښمن سره یې د ټکر پرېکړه وکړه. لږ ځنډ وروسته یې د بوټیو یو کتار د کمین لپاره غوره کړ، دښمن په دوی پسې بل لور ته ووتل. لږ ځنډ وروسته د دښمن ۹تنه راغلل د دوی له کمین نه درې متره لرې په ډوډۍ کیناستل، دوی چې په ځیر وکتل وپوهیدل چې دا د دښمن د قوماندې ټولی دی چې، قوماندان، دوه تنه مرستیالان یې او دوه تنه چیني سلاکاران ورسره وو، دوی تر ۴۰دقیقو پورې هغوی وڅارل، خو د ټیم د یوه تن ټوخي دښمن پرې خبر کړ او برید ته چمتو شول، خو د مین ګروپ وار ړومبی کړ او په یوه ضربه یې هغوی ټول ووژل، د هغوی له وژل کیدو سره د ویتنامیانو په لیکو کې ډېره ګډوډي راغله او دوی ته د وتلو فرصت برابر شو چې بیا یې په څرخیو تړې پورته کړل.

* * * *

جاسوسي ټیم ته په ۱۹۶۶ز کې د ډګروال جان سن ګلاوب له راتلو سره په دې ټیم کې ډېر بدلونونه راغلل، د دوی افراد زیات شول، د امریکایي مامورینو شمیر یو نیم زر او د ویتنامي مقامي ځواکونو شمېر یې اوه زره تنو ته ورسید، ډېر خوځند ګروپونه جوړ شول چې(هیچټ فورس) یې ورته ویل. معمولاً به په یوه ټیم(کمپنۍ) کې څلور تنه د خاصو ځواکونو او ۱۲۰ تنه مقامي پوځیان شامل وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه لوی بدلون د اراضي د مطالعې ګروپ نظم اغیزمن کړ، تر ۱۹٦٦ز پورې عملیات د ډانانګ د قوماندې له مرکزه کنترولیدل، او ټیمونه بیا له کونټم، کهې سنه، ډانانګ او پوبای له اړو خخه استول کیدل، سن ګلاوب ګروپ په درې برخو وویشه. په ډانانګ کې د شمالي قوماندې او کنترول ټیم ؤ چې شمالي ویتنام او لاوس یې د مسوولیت ساحه وه، په کونټم کې د منځنۍ ساحې د قوماندې ټیم ؤ چې جنوبي ویتنام او د لاوس او کمبودیا شریک بریدونه، سیمې یې تر فعالیت لاندې راتلې، او په بان می ټاوټ کې د جنوبي قوماندې مرکز ؤ چې د فعالیت او کنترول ساحه یې کمبودیا وه.

د شمالي ویتنام والو د ۱۹٦۰ز په لسیزه کې په اصطلاح د بې طرفه کمبودیا دننه په کمپونو کې عملیات ترسره کول، دوی هلته د (سهانوک لاره) جوړه کړې وه، چې د کمبودیا د سهانوک دل بندر(وروسته دریم کمپونګ) نه په شمال او ختیځ کې د جنوبي ویتنام په لور د لارو یو جال ؤ. د وخت په تېریدو دلته هم د (هوچي من) د لارو په څېر د ساتنې پوستې او د موټرو او کاروانونو تم ځایونه او د اکمالاتو دیپوګانې جوړ شول، په دې موده کې کمبودیا شمالي ویتنام ته د کال دوه نیم لکه ټنه وریژې ورکولې، او د سهانوک دل له بندره یې چیني وسلو ته اجازه ورکوله.

په ۱۹٦۵ز کې د کمبودیا د صدراعظم شهزاده نورو دم سهانوک له لوري له امریکا سره د دپلوماتیکو اړیکو له شلولو وروسته، شمالي ویتنام په کمبودیا کې له خپلو مرکزونو څخه په جنوبي ویتنام کې لاسوهنې زیاتې کړې، تر ۱۹٦٦ز پورې اټکل زر ټنه چینایي وسلې او پوځي وسایل د

(c) ketabton.com: The Digital Library

سهانوک دل بندر له لارې په کمبودیا کې د شمالي ویتنام ډیپوګانو ته ورسیدل.

له هنویي سره د سهانوک اړیکې له هسکو ټیټو تېرېدې، له ۱۹۶۳ز څخه وروسته د ویت کانګ او کمبودیا د پوځونو تر منځ څو ځله نښتې وشوې چې په هغو کې په سلګونو کمبودیایي پوځیان ژوبل او ووژل شول، په ۱۹۶۶ز کې هغه برالا دا ومنله چې د شمالي ویتنام پوځ او ویت کانګ د سرحد سره په اوږدو کې پوځي مرکزونه جوړ کړي دي. تر دې مهاله د جانسن حکومت، چې غوښتل یې د کمبودیا واکمن له کمونیستانو لرې شي، پردې مساله یې له کمبودیا سره له مخالفت څخه ډډه کوله، او له دې یې سترګې پټولې چې په کمبودیا کې دننه د ویتنام او ویت کانګ د لاسوهنو شواهد مخ پر زیاتیدو دي، خو د ۱۹۶۷ز په پیل کې جنرال ویلم ویست مورلینډ او د آرام سمندر د قواو عمومي قوماندان لخوا د وړاندیزونو پر بنسټ د مطالعاتو او څارنې ګروپ ته دا اجازه ورکړای شوه چې د کمبودیا دننه د (ډینیل بون) په نامه د ارزونې ماموریت ترسره کړي.

خو د دې لپاره د بهرنیو چارو وزارت ډېر حدود وټاکل، دغه عملیات باید بشپړ په داسې ډول ترسره شي چې شک او تردید پکې نه وي، که د ارزونې ټیمونه په ستونزو کې راښکیل شي نو دوی ته به یوازې د ګنشپ هلیکوپټرو له لارې هوایي مرسته ور رسېږي. ډزې به دوی یوازې د خپلې دفاع لپاره کوي، د جګړې پر وخت به یوازې ځنګلي شنې جامې اغوستلای شي. پر وسلو یې باید د پردیو هیوادونو نښانونه او ټاپې وي، او پر یوه وخت له دوو یا درې تنو زیات جنګي بندیان نشي ساتلای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کمبودیا کومه سیمه چې زیاته د شمالي ویتنام تر واک لاندې وه، هغه د دې هیواد په شمال ختیځ کې وه، دا د رتناکري ولایت شمالي سیمه وه، چې د جنوبي لاوس او شمالي ویتنام ترمنځ پرته وه، په شمال ختیځ کې د جنوبي ویتنام د پلیکو ښار ته څېرمه د ۱۹م لمبر لویې لارې پر شاوخوا پنځوس میله اوږده سیمه پرته وه، چې ویست لیند، نومیږي. په دې وچه او بې اوبو او شاړه سیمه کې امریکایي پوځ کار نشو کولای. خو د شمالي ویتنام پوځ د ویت کانګ په جنوب کې د عملیاتو او لاسوهنو لپاره له دې لارې تېرېدل.

په جنوب ختیځ کې د سایګون او پنوم پن په منځ کې پیرتس بیک(د توتي مښوکه) نومې سیمه پرته ده، چې په شمال کې له کمبودیا او د جنوبي ویتنام له ګڼو ځنګلو سره نښتې ده. شمال ختیځ ته د (ډاګس فیس) نومې سیمه ده چې بیا راڅرخي او بېرته د ویتنام له هغې سیمې سره نښلي چې په (فش هک) نامه یادیږي. د پیرټس بېک په جنوب کې سرحد د لویدیز لوري ته د میکانګ سیند بهیږي. د شمالي ویتنام او ویت کانګ د پوځونو پټ مرکزونه او پناه ځایونه په میکانګ، پیرټس بیک او فش هک په سرحدي سیمو کې وو، چې وړوکي مرکزونه او پټنځایونه یې د ختیځ برید په اوږدو کې د کمبودیا او جنوبي ویتنام د خاورو دننه وو.

لومړنی ډینیل بون عملیات، د کمبودیا شمال ختیځ په وروستۍ څنډه وشول چې د جنوبي ویتنام له جګو سیمو سره تړلې وه، لومړني عملیات خو بریالي شول، خو دوهم ټیم د ۱۹٦۷ز د جون پر ۱۵مه د لاوس دننه کوز کړای شو، هغوی د شمالي ویتنام پوځیانو ودرول او د هغوی په ډزو یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

جګتورن بن سنوډن ووژل شو او څرخې الوتکه يې رانسکوره کړه، يوې بلې څرخې ته يې زيات زيان واوښت.

په راتلونکيو مياشتو کې د ډينيل بون ټيمونو د شمالي ويتنام د پوځيانو د سرکونو، لارو، کمپونو او اکمالاتي ډيپوګانو معلومات راټول کړل. د کمبوديا په سرحدي سيمو کې يې د دوی د پوځي تاسيساتو بشپړ تصوير جوړ کړ، په يوه غصب شوې فش هک سيمه کې د ويت کانګ پوځي مرکز ؤ، په ۱۹٦۷ز کې د (جنکشن سيټي) په نامه يو عمليات د دې پوځي مرکز د نيولو او په سيمه کې د ويت کانګ د نورو مرکزونو د له منځه وړو لپاره پيل کړای شول، په دې عملياتو کې د امريکا ۲۲ او د جنوبي ويتنام څلورو ټولیو برخه درلوده، په عملياتو کې ۲۷تنه د جنوبي ويتنام پوځيان ووژل شول او په زياته اندازه وسلې، مرمۍ، اسناد او خوراکي توکي لاسته ورغلل، خو زيات ويت کانګيان وتښتيدل او کمبوديا ته لاړل.

د ۱۹٦۷ز د خزان په موسم کې د امريکا د جاسوسي ځواکونو ټيمونو د کمبوديا په وروستي شمال ختيځ سرحد کې راټول شول، د سرحد په ختيځ کې د جنوبي ويتنام له سرحده پينځه ميله دننه، د (ډاک ټو) پر مقام امريکايي پوځيان، د شمالي ويتنام د هغو درې جګړو څخه په يوه کې ډېر بد راښکيل شول چې هغوی د ويتنامي پوځ د پام اړولو لپاره پيل کړي وو. پاتې دوې جګړې په سانګ بي او لوک ننه کې روانې وې، زيات شمېر (ډينيل بون) ټيمونه له سرحده پورې غاړې ته د دې لپاره واستول شول چې شمالي ويتنام ته د مرستو رسولو لارې او لوري معلوم کړي، او هغه سرک

(c) ketabton.com: The Digital Library

معلوم کړي او درک يې ولګوي چې د شمالي ويتنام پوځونو ته پر هغو په لوړه کچه اکمالات کيدل.

د جګتورن لودل ستيونس په قوماندە يوه ټيم د ماموريت پر درېيمه ورځ دغه سرک پيدا کړ. او په همدې شپه يې پردې هغه روسي لارۍ وليدې چې د مرستو پر وسايلو بار وې، سهار دغه لارۍ بېرته راستنې شوې، چې بيا يې پر سرک ونې وغورځولې او ډېر کلک يې ستر او اخفا کړ. دوی د سرک تصويرونه واخيستل او په راستنيدو کې له څلورو ويتنامي پوځيانو سره مخامخ شول، دوی ډزې پرې وکړې او هغه څلور واړه يې ووژل.

د عملياتو په بهير کې د د مطالعاتو او څارنې گروپ کسانو ته هم زيان واوښت، له يوه عملياتو نه د راستنيدو پر مهال يې چې کله جګتورن چارلي وائټ د څرخۍ په واسطه راپورته کاوه هغه لاندې ولويد او بيا يې هيڅ درک معلوم نه شو.

څو مياشتې وروسته يو ټيم(هيمر) چې د جګړن هيري کروسکي تر مشرتابه لاندې د فش هک په سيمه کې په جاسوسۍ ګومارل شوی ؤ. د شمالي ويتنام له درې تنو عسکرو سره مخ شول، په ډزو کې کروسکي ووژل شو.

* * * *

په دې بهير کې د سايکولوژۍ عملياتي گروپ هم په دروغ پروپاګند او د ناولیو چلوټو په واسطه يو تبليغاتي جنګ پيل کړی ؤ، د امريکا د مطالعاتي او څارنې گروپ د ماموريت دغه اداره تر ټولو ډېره پټه وه، ټول ټال يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۵۰تنه مامورین درلودل چې زیات شمېر یې د پټو ادارو کسان وو، یوازې په ۱۹٦۷ز کې د دې اداري بودیجه ۳،۷ملیون ډالره وه.

د دوی تر ټولو لوی پلان ډانانګ ته نږدې د جنوبي ویتنام له ساحل نه وړاندې د (کولاډ چام) په جزیره کې د کب نیوونکیو د یوه جعلي کلي جوړول وو، د شمالي ویتنام په غاړو کې به یې کب نیوونکي نیول او پر سترګو به یې پټې ور وتړلې دې ځای ته به یې راوستل، په عملیاتو کې برخه اخیستونکیو دې جزیرې ته د (پیرا ډایز آی لیند) نوم ورکړی ؤ. دلته به یې د دوی ښه عزت او درناوی کاوه او دا به یې ورته ویل چې دوی د شمالي ویتنام په هغه سیمه کې دي چې(سیکرډ سورډ آف پټریاټک لیګ) آزاده کړې او اوس یې دغه جزیره په لاس کې ده، تر راتلونکیو دوو اونیو پورې به یې ډېر ښه خواړه ورکول او د (اېس اېس پي ایل) او د هغو د نیول شویو ساحلي سیمو په اړه به یې معلومات ورته برابرول، دوی به د مخابرې استعمال ورښودلو او دا به یې هم ورته ویل چې دوی ته پردې مخابره کوم حکم ورکول کیږي هغه څه ډول اوریدای شي، بیا به یې ببرته پر سترګو پټې ور وتړلې او د شمالي ویتنام پر غاړو به یې خوشي کړل.

دا هر څه جعلي وو او موخه یې د شمالي ویتنام ځارګرې اداري وې، د دوی منصبدارانو د پټو مخابراتي مرکزونو له خوا د هغو ایجنټانو لپاره چې هیڅ به شته نه وو مخابروي پیغامونه اوریدل، دغه مهال د فضایي ځارنې او مطالعې ګروپ الوتکو د خیالي مقاومتي ګروپونو له لوري دوې پاڼې هم تیت کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په نورو رواني عملياتو کې (پوايزن پين) هم شامل ؤ، چې د هغو له مخې به يې له سمندر نه پورې غاړې ته داسې ليکونه استول چې د شمالي ويتنام پوځي منصبداران به يې خاين او جاسوس ښودل. ځينې وختونه به په دې ليکونو کې داسې(مايکروډاټ) احکام او هدايات وو چې، ډېر پاک کړه وړه به هم د هغو له مخې شکمن ښکاريدل.

ځينې وختونه به يې د کوم منصبدرا سره ورته د ليک ټيپ تر لاسه کاوه او د هغو په واسطه به يې ليکونه ليکل او بيا به يې په پوسته استول.

د يو بل ډول ماموريت په بهير کې به يې د شمالي ويتنام د اسنادو په بشپړ ډول جعل کاري کوله، تر دې چې پر هغو به لاسليک هم اصلي ته ورته ؤ. دغه اسناد به يې د سي آی اې په دښمنو کړيو کې د پوستي نظام له لارې ويشل، چې له دې نه به د دښمن په ليکو کې بدګومانۍ او جنجالونه راتلل او سي آی اې ته به د خپلو چارو د سرته رسولو فرصت په لاس ورتلو.

د سي آی اې له جاسوسي ټيم سره په جنوبي ويتنام کې ډېر پټ راډيويي چينلونه وو، په هغو کې يو داسې ؤ چې داسې يې څرګندوله چې ګواکي په شمالي ويتنام کې دی. ځينې دغسې ستيشنونه د شمالي ويتنام د سرحد په اوږدو کې د امريکا په يوه الوتکه کې نصب وو، د شمالي ويتنام چارواکيو د هغو ځای نشو پيدا کولای، دغه راديويي استيشن د هغو بې شمېره راډيوګانو په واسطه خپرونې کولې چې د الوتکو په واسطه لاندې غورځول شوې وې، يا د کښتيو په واسطه په درياب کې تيت شوې وې، دې راډيوګانو ته يې(پي نټ) ويل، او په داسې ډول جوړې شوې وې چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سي آی اې پټې جګړې

سي آی اې د مرکز جعلي(هنويي راډيو) چينل پکې واضح اوريدل کيدو او د هنويي راډيو اصلي مرکز به پکې خپ شو.

يو بل خطرناک کار يې د (ايلډست سن) په نامه کاوه، هغه دا چې د چين په جوړو شويو کارتوسو او مرميو کې به يې داسې بدلون راوست او جوړې به يې کړې چې له ډزو سره به وسله وچاوديده، دغه مرمۍ يې د شمالي ويتنام له مړيو سره هم پرېښودې، ځينې وختونه به يې دغه کارتوس او مرمۍ په يوه مناسب ځای کې پرېښودل، په دې ډول به مرمۍ د شمالي ويتنام او ويت کانګ پوځيانو ته رسيدې چې وسلې او سړي به پکې له منځه تلل.

د ۱۹٦۸ز په جون کې د دغسې جعلي مرميو او وسلو شواهد هغه مهال افشا شول چې، د شمالي ويتنام زيات شمېر پوځيان له چاودليو وسلو سره مړه ومونډل شول، له دې سره سي آی اې د شمالي ويتنام جعلي اسناد چمتو کړل او د شمالي ويتنام پوځ او ويت کانګ ته يې ورسول، په دې اسنادو کې ويل شوي وو چې چين کومې وسلې چمتو کوي د هغو معيار ټيټ دی، د شمالي ويتنام چارواکيو دغه خبره ومنله او دا د دوی د مخابروي اړيکو له خرګندونو څخه معلومه شوه.

دې رواني جګړې د شمالي ويتنام پوځ او د ويتنام د قوماندې تاسيساتو ته سخت زيان ورساوه، تر دې چې د ۱۹٦۸ز په مې کې شمالي ويتنام د پاريس د سولې په خبرو کې د ګډون لپاره دا شرط کېښود چې امريکا دې له دې رواني جګړې لاس واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې موده کې د ۱۹۶۸ز په اپریل کې د امریکا د جاسوسي ماموریت مرکز، د اوږد مهال جاسوسانو ګومارلو پر پروګرام غوښتل له سره غور وکړي خو بریالي نه شول، د هغو جاسوسانو زیاتره ټیمونه نیول شوي وو او ځینې یې په پوره باور د شمالي ویتنام له پوځیانو سره ملګري شوي وو، د شمالي ویتنام د یوه پوځي له نیول کیدو وروسته هغه وویل چې په ۱۹۶۲ز کې، کوز کړای شوی یو جاسوسي ټیم اوس د شمالي ویتنام تر فشار لاندې کار کوي. دې پوځي د ټیم نوم (رېمس) وښود، څو اونۍ وروسته شمالي ویتنام د (رېمس) ټیم د نیولو اعلان وکړ، او د امریکا د اس او جي (مطالعاتي څارنې ګروپ) له لوري یې د هغو د دوکې د فعالیت مخه ونیوله، له دې څخه دا شک پیدا شو چې د امریکا په اس او جي ځواک کې دننه، د شمالي ویتنام کوم ایجنټ فعال دی.

په اګسټ کې ویتنام دا افشا کړه چې دوی د دې ګروپ نور جاسوسي ټیمونه هم نیولي دي، اصلاً دغه ټیمونه له کوزیدو سره سم نیول شوي وو او د دوی تر واک لاندې وو، (اس او جي) له نورو ټیمونو سره اړیکې وساتلې او د انتقام اخیستلو پرېکړه یې وکړه. یو دغسې ټیم چې د فانتوم الوتکو له لارې یې د مرستو انتظار درلود، پر هغوی بمونه وغورځول شول، په پایله کې د شمالي ویتنام هغه پوځیان ووژل شول چې ځانونه یې د امریکا د (اس او جي) اړوند ټیم غړي بلل. ځینې وختونه یې د راډیوګانو داسې سیټونه وغورځول چې بمونه پکې ځای په ځای شوي وو. داسې کځوړې هم وغورځول شوې چې د خوراکي موادو پر ځای پکې باروت وو.

*　　*　　*　　*

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا هم د لنډ مهال لپاره چې کوم جاسوسان استول کیدل هغه د شمالي ویتنام د چارواکیو له نفوذ نه خوندي وو، هغوی د شټراټا(د لنډ مهاله ځنګل ساتنې او هدف ټاکلو) پروګرام لاندې کوم جاسوسان واستول، د هغو هدف دا ؤ چې له شمالي ویتنام نه د هوچي من تر لارې پورې سرکونه وڅاري. دغه جاسوسان به د شمالي ویتنام د پوځیانو په بڼه وو، هغوی لږ بریاوې درلودې ځکه چې تر هغو سرکونو پورې رسیدل ورته ګران وو، خو هغوی د پروپاګند د دوو پاڼو په خپرولو بریالي شول. د ۱۳ میاشتو په اوږدو کې دغسې ۲۶ ماموریتونه ترسره شول، د ۱۴ ټیمونو په واسطه ۱۰۲تنه جاسوسان واستول شول چې له هغو څخه ۲۶تنه ووژل شول.

دغه ډول ماموریت د (ځمکې د پرېښتو) په نامه ترسره کیدل، تر دې نامه لاندې یو درجن ټیمونه واستول شول، په هر ټیم کې به د شمالي ویتنام د پوځ دوه یا درې تنه پخواني پوځیان شامل وو. دوی یې په لاوس او کمبودیا کې د دښمن د اکمالاتي لارو د جاسوسۍ لپاره استول. د غه کسانو به د شمالي ویتنام د پوځیانو د احوال وړونکیو په بڼه له پوځیانو سره راشه درشه پیل کړه، هر ماموریت به یوه اونۍ دوام کاوه او بیا به یې دغه کسان بېرته را ایستل. د (ستړاټا) په څېر (د ځمکې پرېښتې) هم د شمالي ویتنام والو له نفوذه خوندي پاتې شول.

د ۱۹٦۸ز د نومبر په پیل کې د امریکا د انتخاباتو پر مهال چې د هغو په پایله کې د راتلونکي کال په جنوري کې ریچارډ نکسن د امریکا ولسمشر غوره شو، (اس او جي) ته په شمالي ویتنام کې د ایجنټانو استولو پروګرام ختمولو حکم ورکړ شو. ځکه خو یې بیا د ارجنسي، بورډن او اوډلز په نامه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د فریب ورکولو ماموریتونو جعلي شبکو غوړولو ته پام واړاوه. دغه درې واړه د فریب ورکولو د (فوري) لوی پروګرام برخه وو.

ارجنسي به پیسې، پیغامونه او نور اسناد استول او په شمالي ویتنام کې یې داسې ذهنیت پیاوړی کاوه چې، د (اس او جي) یو ځواکمن جال غوړیدلی چې دوی پرې خبر نه دي.

د بورډن پروګرام له لارې یې د شمالي ویتنام پوځیان کارول، دوی ته به یې د اس او جي د یوې داسې شبکې په اړه غلط معلومات ورکول چې هغه شبکه به هیڅ نه وه، دوی به یې بیا د خپلو ایجنټانو په نامه په شمالي ویتنام کې راکوز کړل. تر دوی وړاندې به یې له الوتکو داسې پاراشوټ وغورځول چې د وګړو پر ځای به د کنګل ټوټې پکې وې، ځکه خو به دغه پاراشوټ سبا ته هم په ونو کې زنګیدل، او د شمالي ویتنام پوځ به د هغو خیالي جاسوسانو د نیولو لپاره شپه ډېر وخت سرګردانه وو، له هغو څخه به یې ځینې بندیان په لاوس کې کوز کړل، د دوی په ناخبرۍ کې به یې په سامان کې مخابروي وسایل د جاسوسۍ لپاره ځای پر ځای کړي وو. ځکه خو به چې دغه کسان د شمالي ویتنام د پوځ کومې چوپۍ ته لاړل نو د دغه ځای موقعیت به افشا کیدو او د امریکا الوتکو به بمباري پرې کوله.

د اوډلز پروګرام موخه دا وه چې د شمالي ویتنام واله پردې باوري شي چې په شمالي ویتنام کې نورې جاسوسي شبکې هم شته، هغو خیالي شبکو ته به مخابروي پیغامونه استول کیدل او اکمالات به ورته اچول کیدل.

پایله به دا وه چې د شمالي ویتنام څارګرې اداره او پوځیان به د هغوی په لټون سرګردانه وو او زیات وخت او پیسې به یې لګیدلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

* * * *

د ۱۹٦۸ز په نیمایي کې ډګروال جان سن ګلاوب د امریکا د مرستندوی مطالعاتي او څارونکي ځواک د مشرتابه له دندې ګوښه شو. د هغه پر ځای ډګروال ستیو کیوانا وټاکل شو، هغه په جنوبي ویتنام کې د (اس او جي) عملیات کم کړل، پر ځای یې تر سرحد پورې غاړې ماموریتونه زیات کړل. په ۱۹۹٦ز کې سن ګلاوب د (هیچټ) ځواک جوړ کړی ؤ. د امریکا سفیر پر هغو بندیز لګولی ؤ چې د دوی په عملیاتو کې به د یوه ټولي نه زیات پوځیان نه وي. خو په ۱۹٦۹ز کې دغه بندیز لرې شو. او (اس او جي) دا اجازه ترلاسه کړه چې دوی د آرام سمندر د عمومي قوماندان په تائید د یوه غوندې په ظرفیت (هیچټ) ځواک جوړولای شي.

(اس او جي) په کونټم، ډانانګ او بان می ټواټ سیمو کې، دغسې څلور کنډکونه جوړ کړل. د دوی د ګومارنې او تشکیل لویه ستونزه د څرخیو کمبود ؤ، د هیچټ د هر علمیات لپاره ۱۲ څرخیو ته اړتیا وه. پردې ستونزې سربېره د هیچټ عملیاتو له امله شمالي ویتنام اړ شو چې د هوچي من د لارو د ساتنې او دفاع لپاره زیات کسان وګوماري. په ۱۹٦۹ز کې د یوه اټکل له مخې د دې ساتونکیو شمېر ۷۰ زره کسان ؤ. د دوی په پرتله د اس او جي (مطالعاتي څارونکي ځواک) ټول ټال ۵۰ کسان وو.

د ۱۹٦۷ز په جون کې یو (هیچټ ماموریت) په لاوس کې د (آسکرایټ) نومي هدف پر خلاف ترسره شو. دا د جنوبي ویتنام دننه د (آشو) درې څخه ۲۵میله شمال لویدیز لور ته یوه سیمه وه چې دلته له ۹۲۲لمبر لوبې لارې څخه یوه بله ۹۲یم لمبر لاره بېله شوې ده. دا ګومان کیده چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې غرنۍ سیمه کې د شمالي ویتنام د پوځ ۵۵۰یم اکمالاتي او لوژستیکي خدماتو د ګروپ مرکز دی. د امریکا د هوایي ځواک استخباراتو هم دغه معلومات ترلاسه کړي وو چې له شمالي ویتنام څخه د باندې، د دوی د پوځ تر ټولو ستره د وسلو زیرمه همدلته ده.

د څرخیو د کوزیدو زون پر ځنګلونو د پټو غونډیو په منځ کې، یوې پیالې ته ورته ځای ؤ، په دې غونډیو د الوتکو ضد، دافع هوا توپونه او ماشیندار دریدلي وو، او سمڅې یې هم جوړې کړې وې. سهار وختې لومړی B ۵۲ الوتکو پر ټوله سیمه سخته بمباري وکړه او یو زر دانې بمونه یې وغورځول، د شمالي ویتنام پوځیان ولیدل شول چې له سمځو راووتل او د تیلو د بیلرونو له بل شوي اور نه یې د وتلو هڅې کولې.

چې بمباري ودریده هیچټ ځواک د څرخیو په واسطه کوز کړای شو، خو له کوزیدو سره د شمالي ویتنام د عسکرو لخوا را ایسار شول، کمپنۍ ډېره تونده جګړه پیل کړه او هوایي مرسته یې وغوښته، چې له دې سره اې-ون اسکای ریډرز جیټ او څرخۍ ور ورسیدې، خو د ویتنامیانو د دافع هوا درنو ډزو تر برید لاندې راغلې.

جګړه کرۍ ورځ او شپه روانه وه، سبا سهار ته بمبارد الوتکې راورسیدې، هغو خوشه یې بمونه وغورځول، د عملیاتي ځواک د پورته کولو لپاره څرخۍ هم راغلې چې له هغو نه څلور وزره د دښمن د دافع هوا ډزو وغورځولې، په دې جګړه کې ۲۳تنه امریکایان بې درکه شول چې له هغو څخه یې ٦ تنه وروسته وژلي وبلل. پاتې کسان یې را وایستل. د یوې را غورځول شوې څرخۍ الوتکې پیلوټ جګتورن چارلس ولکلو په ټپي حالت کې ونیول شو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

راتلونکی سهار چې کله هغه را په خود شو او کیناست وې لیدل چې دوه تنه روسي سلاکاران ورته ناست دي او ده ته ګوري. په څلورمه ورځ سره له دې چې سخت ټپي ؤ. له تیارو څخه په ګټه یې په کشولو ځان ویوست، دښمن سبا ته د هغه په تښتیدو خبر شو، خو په بیا موندلو کې یې ناکام شول، د مخابروي پیغام له استولو سره یې څرخۍ ور واستوله او له هغه ځایه یې راویوست، د هغه نوم په هغو کسانو کې ؤ چې مړه یې بللي وو.

* * * *

د ۱۹۶۹ز په پیل کې یو ځانګړی ډول زړور عملیات د (سپنډوز) په نامه په لاوس کې وشول، چې موخه یې په جنوبي ویتنام کې د لاوس او کمبودیا له سرحد نه دري میله دننه د خاصو ځواکونو پر یوه مرکز د شمالي ویتنام د برید ناکامول وو.

د (بین هیت) په نامه سیمه کې د دغه اډې د ساتنې لپاره د امریکایي خاصو ځواکونو ۱۲تنه مامورین او د مونټاګنارد ۱۵۰۰تنه ګومارل شوي وو، د دوی په وړاندې د شمالي ویتنام دوو کنډکونو پرلپسې پر هغوی ډزې کولې، دې اډې ته یوازینی سرک غوځ شوی ؤ، او ډېر شمېر دافع هوا توپونو د هوا له لارې ورته د مرستو رسول ډېر خطرناک کړي وو.

د مارچ پر ۳مه مابنام مهال دښمن د لسو ټانکونو په مرسته برید پیل کړ چې ناکام کړای شو، خو تر دې وروسته ولیدل شول چې د دښمن نور پوځیان راغلل.

د مارچ پر ۴مه د هیچټ ځواک اې کپتان بابي ایونز په مشرۍ له کونټم څخه ننوتل، هغوی سمدستې له لوېي لارې ۳۰۰متره پاس خپل مرکز جوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړه، د دې ماموریت موخه د ۱۱۰ لمبر لارې بندول وو چې دښمن ته مرسته ونه رسیږي، دښمن سمدستي ډزې پیل کړې خو د کلکو سمځو په سبب کوم خاص زیان وانه وښت، د شپې لخوا دښمن هڅه وکړه چې د دوی تر شا کاروانونه تېر کړي، خو پر هغو د ځرخیو او جیټ الوتکو بمبارۍ وشوې، د شپې دښمن د یوه برید هڅه هم وکړه، راتلونکې شپه دښمن یو ځل بیا د یوه کاروان د تېرولو هڅه وکړه چې په ډزو او مقابله یې مخه ونیول شوه. د هېچټ کنډک تر شپږو ورځو پورې په خپل مورچل کې پاتې شو، دوی د دښمن شپږ لارې له منځه یووړې، عملیات بریالي وو او د دښمن اکمالاتي نظام ښه زیانمن شو. په ۱۹۶۹ز کې د کمبودیا سهانوک دل بندر له ختیځې اروپا څخه شمالي ویتنام ته د وسلو او اکمالاتو تر ټولو ستره لاره ګرځیدلې وه. له بندر نه د وسلو بارونه د شمالي ویتنام د ځارګرې اداري (ترنه سات) په لویو لویو لاریو کې له نام پنه نه د باندې یوې لویې ډیپو ته راوړل کیدل. له هغه ځایه بیا د اووم لمبر لویې لارې څخه فش هک ته تلل، او وسلې د شمالي ویتنام پینځمې او اوومې اکمالاتي فرقې او د ویت کانګ ۹مې د اکمالاتو قوې ته سپارل کیدل، دلته ډېر مرکزونه وو چې تر ټولو لوی یې د کمبودیا له سرحد نه یوازې درې میله دننه ؤ.

د امریکا استخباراتي سرچینو د کمبودیا د دغه تش په نامه بې طرفۍ په اړه زیات شواهد چمتو کړل. ریچارد نکسن د ۱۹۶۹ز په جنوري کې ولسمشر شو او له شمالي کوریا سره د سولې په خبرو بوخت ؤ. هغه ته دغه شواهد ور وښودل شول، او د ۱۹۶۹ز په فبروري کې یې د کمبودیا دننه د شمالي ویتنام پر پوځي مرکزونو د (B52)الوتکو د بمبارۍ پلان جوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړ، په مارچ کې ولسمشر نکسن شمالي ویتنام ته دوه ځله ګواښ وکړ چې که د مسالې د حل لپاره د سوله ایزو هڅو په بهیر کې پر امریکایي پوځ بریدونه وشول نو ځوابي عملیات به وکړي. شمالي ویتنام د دې ګواښونو پروا ونه کړه او پر سایګون یې د توغندیو برید وکړ. درې ورځې وروسته B52سټراټ فوتریش الوتکو د فش هک په سیمه کې د شمالي ویتنام پر پوځي مرکزونو بمباري وکړې چې په پایله کې یې د وسلو او باروتو ډپرې زیرمې له منځه لاړې.

یوه میاشت وروسته د کمبودیا له میموت ښار نه ۱۴میله جنوب ختیځ ته د شمالي ویتنام پر اډې د بمباري پرېکړه وشوه، له دې سره دا پرېکړه هم وشوه چې یو پوځ سیمې ته ننوزي او له بمباري سمدستي وروسته ځمکنۍ حمله وکړي. دغه مسوولیت د سي سي اس سل کسیز هیچټ کنډک ته وسپارل شو، چې د مونټاګنارډ قبایلو څخه جوړ شو. تر دې مهال یې ډینیل بون عملیاتو ته د (سالم هاوس) نوی نوم ورکړی ؤ، ځکه چې د لومړي نامه په اړه نیوزویک یو راپور خپور کړ او هغه یې افشا کړی ؤ.

د ۱۹۶۹ز د اپریل پر ۲۴مه هیچت ځواک د څلورو څرخیو په واسطه په سیمه کې کوز کړای شو، له بمباري نه خو دقیقې وروسته دغه څرخۍ د کیناستلو زون ته ورسیدې، خو سمدستي ډېرې سختې ډزې پیل شوې، د هیچټ کسان د بمونو په کندو کې له ډزو پټ شول او ځوابي ډزې یې پیل کړې، تر ټولو لومړی د خاصو ځواکونو جګتورن ارنست په ګولۍ ولګید او ووژل شو، ورپسې کپتان جیمز کاهل سخت ټپي شو، په دې موده کې له څرخیو څخه د مرستې لپاره د توغندیو ډزې پیل شوې، دغه وخت د

(c) ketabton.com: The Digital Library

کنډک د دوهم ټولې لوړې بریدمن ګریګ هربګن هم ووژل شو، دغه مهال د پوځیانو د ایستلو لپاره یوه څرخۍ (هلیکوپټره) راغله، خو د سختو ډزو له لامله هغه کینستلای نه شوای، دغسې نورې هڅې هم ناکامې شوې او جګړې دوام وکړ، چې د هېچټ ځواک زیانونه پکې زیات شول، نا څاپه د استرالیا د هوایي ځواک یوه کنبرا بمبارد الوتکه راغله، دغه الوتکه د پان رنګ په هوایي ډګر کې دریدلې وه او د بیړنۍ وضعې د زنګ له اوریدو سره بیله اجازې د کمبودیا له سرحده تېره شوه او هلته راغله، د هغې بمباري اغیزمنه ثابته شوه او د څرخیو په واسطه د هېچټ پاتې کسانو د را ایستلو فرصت برابر شو. په دې عملیاتو کې د جیري شراتور په نامه یو پوځي ورک شو چې وروسته یې مړ وباله.

د هېچټ ځواک له لورې په لاوس کې تر ټولو بریالي عملیات د ۱۹۷۰ میلادي په وروستیو کې وو، سي آی اې د (هانریبل ډریګن) په نامه عملیات چې د هیواد په جنوب کې د یوې سیمې د بېرته نیولو لپاره وو، د مرستې غوښتنه وکړه، د شمالي ویتنام پوځ ډېر کلک مقاومت کاوه او په عملیاتو کې شریکو د همونګ نامنظمو ګروپونو ته ډېر سخت زیان واوښت، که دغه عملیات ناکام شوي وای نو په جنوبي لاوس کې د کمونیستانو د برلاسی مخه بیا هیڅا نشوای نیولای.

سي آی اې له مطالعاتي څارونکي ځواک (اس او جي) وغوښتل چې په سیمه کې د شمالي ویتنام د پوځ شاتني مرکز ته چې په چاوانې کې ؤ د هېچټ ځواک یو کنډک واستوي. دغه ځای له لاوس نه له هغه حد نه شل میله وړاندې ؤ چې هېچټ ځواک له هغو څخه د تېریدو اجازه نه درلوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو د دې عملیاتو لپاره په لاوس کې د امریکا سفیر له اس او جي څخه دغه بندیز لرې کړ.

د (ټېل ونډ) په نامه دغه عملیات د هیچټ ځواک بي کنډک ته وسپارل شول، چې په کونټم کې یې قرارګاه وه، د سپتمبر پر ۱۱مه د کپتان (یو جین مکارلې) په مشرۍ د خاصو ځواکونو ۱۵منصبدران له ۱۱۰ تنو مونټاګنارډ بې نظمه پوځیانو سره، د دې ځواک په درې څرخیو کې (ډاک ټو) ته ورسیدل. له هغه ځایه د ټبلو له اخیستلو وروسته څرخۍ بیا والوتې او له سرحد سره جوخت له پنځوس میله مزله وروسته د لویدیز په لور چاوانې ته ور وګرځیدل، کله چې د بولوونیس لوړو غونډیو ته ورسیدل تر سختو ډزو لاندې راغلل، یو عسکر ټپي شو، خو درې واړه څرخۍ د کوزیدو زون ته ورسیدې او ځواک یې هلته کوز کړ، چې شمال ختیځ لور ته وخوځیدل، لږ ځنډ وروسته یې د تیلفون زنګونه واوریدل، دوی هغه لور ته وړاندې ورغلل، وې لیدل چې هلته د شمالي ویتنام د پوځ د اکمالاتو یو لوی مرکز دی چې په توغندیو ډکې سمځې پکې دي. هغه یې په باروتو والوزول، وړاندې روان شول، په مخه کې د شمالي ویتنام د پوځ له یوې ډلې سره مخ شول چې په جګړه کې د دوی زیات پوځیان ټپیان شول. هغوی یې په څرخیو راوکښل، چې بیا د هیچټ ځواک کسان هماغسې د لویدیز په لور پر مخ روان وو، پر سرونو یې د بدرګې سي ۱۳۰ سپیکټر ډوله هلیکوپټرې دورې خورې. د سپتمبر پر ۱۲مه د ځنګل په یوه ګوښه کې له یوه چاک نه دوی د ۱۲ لاریو او د شمالي ویتنام د زیات شمېر پوځیانو یو کاروان ولید چې له هغه ځایه نیم میل لرې ۱۶۵م لمبر لویې لارې په لور روان ؤ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی مرکز ته خبر ورکړ او اې-ون سکای ریډرز جیټ راورسیدې بمباري یې وکړه چې لاری پکې له منځه لاړې او د شمالي ویتنام پوځیان تیت او پرک شول.

تر دې مهاله د هیچټ ۲۰ تنه ټپیان شوي وو چې د روغتیایي مرستو لپاره یې له هغه ځایه کښلو ته اړتیا وه، په دې موخه یوه شي ستالین الوتکه هلته راغله، خو د دښمن پر ډزو یې ټانکی سوری شوه او هغه له دې ځایه ووته خو پینځه میله لرې بېرته ښکته کیدو ته اړه شوه. تر دې وروسته یوه بله څرخی راغله او د کیناستلو په زون کې راښکته شوه، خو د دښمن د توندو ډزو له لامله هغه هم بیرته لاړه. هغه هم په ګولیو لګیدلې وه او پینځه دقیقې وروسته کوزیدو ته مجبوره شوه.

تر دې وروسته هیچټ ځواک د ۱۶۵لمبر لویې لارې پر سر په کمرونو کې مورچل ونیو. پردې شپه پر دوی څو بریدونه وشول چې ټول یې په شا وتمبول، د سپتمبر پر ۱۳مه یې بیا پرمختګ ته دوام ورکړ. درې ساعته وروسته یې ډېرې سمڅې ومونډې. پر هغو یې لومړی هوایي بمباري وکړه، بیا دوی ځمکنی برید پیل کړ، په پایله کې د شمالي ویتنام پوځ کنډکونه له سمڅو وتښتیدل، د دې سمڅو له ټولو سره دوی ته زیاته اندازه اسناد هم په لاس ورغلل.

تر دې وروسته هېچټ کندک د بېرته ستنیدو پرېکړه وکړه، هوایي مرسته یې وغوښتله او د څرخیو د کوزیدو یوه زون ته روان شول، په وروستیو شیبو کې یې دښمن ته د دوکې ورکولو لپاره د الوتکې کوزیدو ځای ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخه کړه، پر دښمن چې د دوی د پاسه په غونډیو کې وو بمباري روانه وه، وروسته ټول ټیم د هلیکوپټرو په واسطه له هغه ځایه را وایستل شو.

دغه عملیات ډېر بریالي وو، که څه هم درې تنه مونټاګنارډ ووژل شول او ۳۳ نور ټپیان شول، په داسې حال کې چې ۱۶تنه امریکایان هم ټپیان شوي وو، دوی بیا د شمالي ویتنام د اکمالاتو، تاسیساتو او نظام ته سخت زیان واړاوه، ۴۰۰تنه پوځیان یې ور ووژل او زیاته اندازه مرمۍ او باروت یې والوزول، پردې سربېره کوم اسناد چې په لاس ورغلل له هغو څخه یې ډېر قیمتي معلومات ترلاسه کړل. چې پکې د هغو وسلو او مرمیو تفصیل هم ؤ چې د شمالي ویتنام پوځ ته رسیدلي وو، همدارنګه په ۴۰۰ مخونو کې یو داسې سند هم ؤ چې د ویتنام د ۵۵۹م لمبر د لوژیستیکي او ترانسپورتي خدماتو د ځواک بشپړ معلومات پکې وو.

تردې وروسته د امریکا په پالیسۍ کې د ویتنامي کیدو(ویتنامایزیشن) د پالیسۍ توکي زیات شول، چې د هغو له مخې د عملیاتو مسوولیت ورو ورو د جنوبي ویتنام پوځ ته لیږدیده، د امریکا حکومت لارښوونه وکړه چې نور به هېڅټ ځواک په لاوس کې کوم عملیات نه ترسره کوي.

(اس او جي) چې په دې ټوله موده کې له کومې ستونزې سره لاس او ګریوان وو، له هغو څخه یو دا ؤ چې د دوی له عملیاتو څخه دښمن خبریدو، ځکه خو دغه بدګوماني زیاته شوه چې د جنوبي ویتنام په پوځ کې په لوړه کچه د دښمن جاسوسان شته، دغه شک د ۱۹۷۰ز په پیل کې زیات شو کله چې له هنویي څخه د شمالي ویتنام پوځ ته استول شوی یو مخابروي پیغام ونیول شو، په دې پیغام کې د (اس او جي) د ځای پر ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library

کیدو او اهدافو په اړه تفصیلي معلومات وو، له دې وضعې سره د مقابلې لپاره یې د جنوبي ویتنام پوځ ته غلط معلومات ورکول پیل کړل، خو ډېره ګټه یې ونه کړه، ځکه چې کله به کوم ټیم وګومارل شو نو جاسوسانو ته د هوایي بریدونو راپورونه لوستل آسانه وو، ځکه خو اس او جي (مطالعاتي څارونکی ځواک) د ببلې لارې په غوره کولو غور پیل کړ.

د ۱۹۷۰ز د اپریل پر ۲۹مه د جنوبي ویتنام ۱۲زره کسیز پوځ د امریکایي سلاکارانو په ملتیا د کمبودیا له سرحده تېر شو، د (پیرټس بیک) پر سیمه یې برید وکړ. دوې ورځې وروسته د می پر لومړۍ امریکایي پوځ هم په کمبودیا کې پرمختګ پیل کړ. د دوی هدف د شمالي ویتنام د پوځیانو او ویت کانګ پناه ځایونه وو. لومړی امریکایي او د جنوبي ویتنام ځواکونو پر(فش هک)برید وکړ چې هلته د دښمن اوه زره تنه پوځیان وو، د پلیکو په جنوب لویدیز کې د امریکا د څلورمې لیوا پلیو ځواکونو د شمالي ویتنام د یوه عصري روغتون درک ولګاوه، هلته یې پینځه سوه ټنه وریژې هم تر لاسه کړې، د می پر اوومه په کمبودیا کې د شمالي ویتنام پوځ د تر ټولو ستر مرکز هم د امریکایانو په لاس کې ولوید، له هغه ځایه ۱۴۸۴میله وسلې، ۱۵لکه مرمۍ، د باروتو ۲۲ صندوقونه او ۳۰ ټنه وریژې لاس ته ورغلل. د می پر اتمه یوه د وسلو ډیپو هم ونیول شوه، او یوه لویه اکمالاتي ډیپو چې پر ۱۴مه لویه لاره پرته وه امریکایي ځواکونو ونیوله.

په دې موده کې B52 الوتکو د شمالي ویتنام پوځیان لټول، څو اونۍ وړاندې د یوې سیمې په اړه دوی ته یو خبر رسیدلی ؤ چې دلته د هغوی مرکز دی، ځکه خو دوی له دې سیمې نه د تیښتې پر لارو او د میموټ په

(c) ketabton.com: The Digital Library

شمال لویدیز کې پروت کمپ بمباري وکړه، چې د دښمن ۱۰۱تنه پکې ووژل شول.

پر کمبودیا د برید پر سر په ټوله امریکا کې مخالفتونه وشول، تر دې چې نکسن له هغه ځایه بېرته د پوځونو ایستلو حکم وکړ، ځکه خو له کمبودیا نه د جون تر دیرشمې ټول پوځیان ووتل. په دې سیمه کې چې کوم عملیات ترسره شول په پایله کې ۲۳زره سالټ ټوپک او ماشیندار، ۲۵۰۰میله ماشیندار او داشکې ٦۲زره لاسي بمونه، ۱۵لکه ډول ډول مرمۍ، یو لک ۴۳زره د هاوان مرمۍ، ۷۹زره ټنه وریژې لاس ته ورغلل، پردې سربېره ۴۳۵عرادې موټر له منځه یوړل شول او یا ونیول شول. د امریکا او جنوبي ویتنام ۱۰۸۴ تنه پوځیان ووژل شول ۵۷۴۹ تنه ټپیان او ۱۳تنه ورک شول. د شمالي ویتنام او ویتکانګ ۱۱۳۴۹ تنه پوځیان ووژل شول. او ۲۳۲۸ تنه یې ونیول شول.

خو د دښمن زیات شمېر پوځیان په تېښته بریالي شول او ۸۰میله لرې واوښتل، چې په کمبودیا کې د امریکایي پوځ د عملیاتو لپاره په دغه ساحه کې دننه ټاکل شوې وه، دوی نور هم دننه لاړل او د لاوس دننه یې نوي مرکزونه جوړ کړل.

د ۱۹۷۰ په جون کې د ډګروال ستیوکیوان پر ځای د امریکایي ځواکونو د اس او جي قوماندې ډګروال جان سیډلر ته وسپارل شوه، هغه په ۱۹۵۸ز کې له خطر سره د مقابلې او له لوړې ارتفاع څخه په پاراشوټو کې د ښکته کیدو مهارتونه ترلاسه کړي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د قوماندې له ترلاسه کولو او د (اس او جي) په وړاندې، د عملياتي خطرونو په اړه له معلوماتو وروسته هغه د عملياتي ټيمونو استولو په لړ کې د خپلو زده کړيو اصولو د پلي کولو پربکړه وکړه، د فلوريډا په نامه يې يو شپږ کسيز ټيم جوړ کړ، چې په هغو کې بريدمن کلف نيومن، بريدمن سيمي هرناندیز او ميلون هيل، د جنوبي ويتنام د پوځ يو منصبدار او دوه د مونټاګنارډ قبايلي پوځيان شامل وو، دوی يې د تن پر تن جګړې او خطر سره د مقابلې د زده کړو لپاره او کيناوا ته واستول. په بېرته راستنيدو کې يې ازموينه ترې واخيسته، چې بيا يې دوی مسلکي کوماندو وګڼل.

دغه ټيم يې د نومبر په ۲۸مه، د شپې په يوه بليک برډ الوتکه کې په يوه فرعي ميدان کې راکوز کړ چې کلکه ساتنه يې کيدله، راتلونکې څلور ورځې دې ټيم د تيلفون د مزي په موندلو تېرې کړې، په پينځمه ورځ يې په څرخې کې پورته کړل او د تايلند په ختيځ کې يې ناګون فانوم مقام ته ورسول، له هغه ځايه دوی جنوبي ويتنام ته راغلل، دا د نړۍ په کچه لومړني (له لوړې ارتفاع څخه د پاراشوټو په وسيله د راکوزيدو) عمليات وو.

په ۱۹۷۱ز کې يې څلورو امريکايانو ته دغه روزنه ورکړه، چې په می مياشت کې يې د شاو په دره او د کهې سنه سيمې ترمنځ عمليات وکړل، له کوزيدو سره د دوی يوتن هغه مهال ټپي شو چې په خپل جيب کې پراته باروت يې وچاوديدل، بل تن يې د کوزيدو پر مهال ټپي شو، دوی دواړه يې له هغه ځايه راوکښل، خو نورو يې خپل جاسوسي ماموريت پايته ورساوه او پينځمه ورځ بېرته راستانه شول. يو دربيم ټيم چې څلور غړي يې امريکايان وو، د روزنې له تېرولو وروسته د لاوس سرحد ته نږدې له ډانانګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه ٦٠ میله جنوب لویدیز ته، په یوه سیمه کې راکوز کړای شول. هلته د معلوماتو له مخې د شمالي ویتنام ښه زیات پوځ ځای پر ځای ؤ. د جون پر ۲۲مه د شپې دغه ټیم له کوزیدو سره تیت شول. بریدمن بات او بریدمن سټرولهن له کوزیدو سره ټپیان شول، په سیمه کې د شمالي ویتنام پوځ موجود ؤ، زر تر زره یې د ټیم د راپورته کولو لپاره(برائټ لایټ) عملیات وکړل. سټرولهن څرخۍ ته د خپل موقعیت د ښودلو لپاره د لوخړې بم وکاراوه، خو څرخۍ یوازې جګتورن جیسي کیمپ بېل او تورن بلي وا راپورته کړای شول. ځکه دغه مهال ماښام شوی ؤ، سبا ماسپښین څرخۍ د هغوی دواړو راپورته کولو لپاره بیا ورغله، بات یې وموند خو د سټرولهن هیڅ درک معلوم نه شو، هغه د شمالي ویتنام پوځیانو ژوندي نیولی ؤ.

څلورم (ایچ اې ایل کیو) له لوړې ارتفاع څخه د پاراشوټ په واسطه راکوزیدو عملیات تر ټولو بریالي وو. د کپتان جم ستوارټر په مشرۍ یو څلور کسیز ټیم د سپتمبر په پیل کې د پلیکو په شمال لویدیز کې په(پلي ټراپ) دره کې پلي کړای شول، راتلونکي څلور ورځې ټیم د درې ارزونه وکړه، پینځمه ورځ یې بېرته راپورته کړل.

وروستی دغه ماموریت یوه میاشت وروسته ترسره شو، یو څلور کسیز ټیم له پلیکو څخه ۲۵میله جنوب لویدیز ته د کمبودیا د سرحد دننه په ایاډانګ دره کې کوز کړای شول. راتلونکې ورځ دوی د شمالي ویتنام له یوه وسله وال ګروپ سره مخامخ شول چې دوی په ډزو هغوی ټول ووژل، دوه ساعته وروسته یې ټیم بېرته راو ایستلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر کمبودیا له برید وروسته، امریکا له جنوبي ویتنام نه د خپلو پوځونو ایستل چټک کړل. هغوی یوازې د لویو ښارونو په ساتنه کې بوخت شول، امریکایي پوځ د ویتنام د منځنیو جګو سیمو، غیر پوځي سیمو او د جنوبي ویتنام سره ترلیو سیمو څخه ووتل او پریښې ځایونه یې د جنوبي ویتنام پوځونو ونیول، خو هغوی د شمالي ویتنام د پوځونو د پرمختګ مخه نشوای نیولی، چې ډېر زر هغه یادو سیمو ته ننوتل، او د اکمالاتي لارو لیکې یې له لاوس نه تر ویتنام پورې وغځولې.

د ۱۹۷۱ز د جنوري پر ۲۱مه د پینځم خاص ځواک ګروپ(هوایي کوماندو) له جنوبي ویتنام نه تر وتلو لږ وړاندې خپله وروستۍ اډه هم د جنوبي ویتنام خاص ځواک ته وسپارله، د دوی له وتلو وروسته د مطالعاتي څارونکي ځواک، عملیاتي او مشورتي ځواکونه چې د امریکا د خاصو ځواکونو څخه وو، د خپلو مرکزونو د ساتنې په دنده وګومارل شول.

مطالعاتي څارونکي ځواک تر فبروري پورې لاوس ته ټیمونه استول، خو د فبرورۍ پر ٦مه د اس او جي مشر ته حکم وشو چې په لاوس کې خپل ټول عملیات ختم کړي، د دې پر ځای یې د دوی د فعالیت لپاره د لاوس د سرحد او غیر پوځي سیمې کې شپږ میله ژوره ساحه ور په نښه کړه، دغه مهال ان اې ډې (سمندري چټک ځواک) بیا فعال شوه د فبروري پر ۱۹مه یې څلورو کیښتیو د شمالي ویتنام یوه برید کوونکې بیړۍ ویجاړه کړه او دوو نورو ته یې زیان ورساوه.

د مطالعاتي څارونکي ځواک عملیات د ۱۹۷۱تر مني پورې دوام درلود. وروستي عملیات د ۱۹۷۱ز په دسمبر کې د اشاو په دره وشول، هلته د دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټیم د دښمن د ټانکونو او زغره والو موټرو ځای معلوم کړ او د هوایي برید په ترڅ کې یې هغه له منځه یووړل.

د ۱۹۷۲ز په مارچ کې یې، ایم اې سي وي مطالعاتي مشورتي ګروپ ړنګ کړ.

د دوی ماموریت له دې درکه ډېر بریالی ؤ چې، د دوی په سبب په لویه کچه د شمالي ویتنام پوځ د دې پر ځای چې په جنوبي ویتنام کې عملیات ترسره کړي، په لاوس او کمبودیا کې په دفاعي عملیاتو بوخت پاتې شول.

د یوه اټکل له مخې د دوی هر مامور د شمالي ویتنام ۶۰۰تنه پوځیان له کاره غورځولي وو، د دوی هیڅټ ګروپونو د دښمن زیاته اندازه وسلې او وسایل له منځه یووړل او په جنوبي ویتنام کې یې د دوی د عملیاتو توان له منځه یووړ، پردې سربېره اس او جي (مطالعاتي څارنکی ځواک) پخپله او د هوایي مرستو په سبب په لاوس او کمبودیا کې په زرګونو ویتنامیان عسکر ووژل چې غوښتل یې جنوبي ویتنام ته ننوزي او د امریکایي او جنوبي ویتنام د پوځونو پر خلاف وجنګیږي.

د دوی رواني جګړه هم اغیزمنه وه، چې له امله یې د شمالي ویتنام پوځ ډېر وسایل د هغو د اغیز ماتولو لپاره په کار واچول.

خو د دوی د اوږد مهاله جاسوسانو استولو پروګرام بریالی نه ؤ چې په هغو کې د شمالي ویتنام جاسوسانو له پیله نفوذ کړی ؤ، همدغسې د اس او جي د جاسوسو ټیمونو معامله هم ده چې د دوی مخبري به په سایګون کې ناست یوه یا څو کسانو کوله، کله چې دا څرګنده شوه استول شوي ټیمونه د شمالي ویتنام د پوځیانو تر فشار لاندې کار کوي. نو اس او جي له هغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره اړیکې وساتلې او هڅه یې کوله چې په دوکه کې هغوی وساتي او خپل کار پرمخ بوزي. د دې پایله دا شوه چې د شمالي ویتنام جاسوسانو به خیالي جاسوسان لټول او پردې به ستومانه وو.

په ۱۹۷۳ز کې د امریکا د لومړي ځل لپاره دا ومنله چې د دوی پوځیان په لاوس او کمبودیا کې له ۱۹۶۵ز راپه دې خوا په عملیاتو کې وژل کیږي. په رسمي ډول د وژل شویو شمېر ۸۱تنه وښودل شو، خو په حقیقت کې د دوی تر درې سوه تنو زیات جاسوسي مامورین ووژل شول.

(د ویتنام په جګړو کې د امریکا ۵۸ زره پوځیان وژل شوي چې د دې اثر په راتلونکي څپرکي کې امریکایي چارواکیو پرې اعتراف کړی او دوی یې په افغانستان کې له پخواني شوروي څخه کسات واخیست. ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۲)

افغانستان

له ۱۹۷۹-۲۰۰۱ز پورې

د ۱۹۷۹ز د دسمبر ۲۴مه شپه د افغانستان له پلازمېنې څخه د باندې، په هوايي ډګر کې د شوروي اتحاد د ډېرو زياتو الوتکو راښکته کيدل پيل شول. د کابل شمال ته په ۴۰ ميلۍ کې د بګرام پر هوايي ډګر ۱۰۵يمه د شوروي ځواکونو کوماندو او پاراشوټي قوا راکوزيدله چې په هغو کې د ۱۰۳يمې او ۱۰۴مې فرقې دوه غونډونه هم وو، همدغه نندارە په ختيځ کې د جلال آباد او په لويديز کې د شينډنډ په هوايي ډګرونو کې هم تکراريدله. د دسمبر د ۲۷مې تر مازېام پورې ۵زره تنه دغه ځواکونه کابل ته ننوتلي وو، په دې موده کې دوه موتوريزه ۳۵۷يمې او ٦٦مې قواوې(لواوې) د ترکمنستان په سرحد کې د کشکا له بندر نه د هرات او بيا د شينډنډ، فراه او کندهار په لور وخوځيدې او بيا يې هغه ټول ښارونه ونيول، په همدې وخت کې ۳٦۰مه لوا له ازبکستانه افغانستان ته ننوتله او

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ترمذ له بندره تېره شوه، د مزار شریف له لارې د سالنګ په لور راغله او د دسمبر پر ۲۶مه کابل ته راورسیده.

په شمال ختیځ کې ۲۰۱یمې او ۱۶مې موتوریزه قواؤ بغلان، بدخشان او کندز ونیول، د مرکز د ۴۰ مې فرقې جنرال ولاډلین ایم میخایلوف چې په ترکمنستان کې د شوروي ځواکونو قوماندان ؤ، بګرام ته راغی او په افغانستان کې د شوروي پوځونو عمومي قوماندان شو.

د دسمبر پر ۲۷مه ماښام، شوروي کوماندو ځواکونه له بګرام نه راغلل، د پلازمینې مخابراتي سیستم، کورنیو چارو وزارت او کابل راډیو یې ونیول، دوی په ټول ښار کې د وزارتونو او نورو مهمو ځایونو شاوخوا ته سنګرونه ونیول.

ولسمشر حفیظ الله امین په دارلامان مانۍ کې ؤ، کله چې د روسیې خاص ځواکونه هلته ورغلل د افغان ځواکونو او روسي قواوو ترمنځ سخته نښته راغله، له روسي ځواکونو سره د کا جي بي کسان هم وو، چې قومانده یې د خاصو ځواکونو د افسر ډګروال بویارینوف پر غاړه وه.

د روسي ځواکونو قومانده د تورنجنرال وکتور پاپوټین پر اوږو وه، دې ګروپونو دارلامان مانۍ ونیوه، د کا جي بي ګروپ دنده د حفیظ الله امین وژل وو، کله چې دغه ډلې د مانۍ په لور ورغلې افغان ساتونکیو مانۍ ته د ننوتلو اجازه ورنکړه، چې هغوی بیا په ډزو ووژل، دوی په زغره والو موټرو کې سپاره وو، هڅه یې وکړه چې دروازه پر موټر ووهي او ننوزي، خو دروازه کلکه وه ماته نه شوه، روسي کوماندویانو سمدستي شاوخوا ته افغان پوځیان ووژل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا د کا جي بي ټیم د مانۍ په لور را وړاندې شو، د مانۍ دننه نقشه دوی ته د کا جي بي یوه مامور میخائیل طالبوف چمتو کړې وه، د منځنۍ آسیا اوسیدونکی طالبوف د کا جي بي د بهرنیو استخباراتو د څانګې یو افسر ؤ چې د وژنو، خاصو عملیاتو او دې ته ورته فعالیتونو تجربه یې درلوده. نوموړی په سپتمبر کې د ډوډۍ پخوونکي په بڼه دلته راغلی ؤ تر څو امین په زهر ووژني. هغه دوه ځله هڅه کړې وه خو بریالی نه شو. چې وروسته یې د مانۍ دننه نقشه او د امین د کړو وړو او معمولو فعالیتونو په باب راپورونه استول پیل کړل.

بویارینوف او د هغه ګروپ چې کله دارلامان مانۍ ته ننوتل نو د ننه د امین د ساتونکیو له سخت مقاومت سره مخ شول. په دې کې یې زیات شمېر کسان ووژل شول خو د لومړي پوړ تر زینو لاندې ورسیدل، هلته د امین ساتونکی ټیم چې د کا جي بي روزل شوي کسان وو له دوی سره سخت کیوتل، بویارینوف له دې وېرې چې ډلې یې ماتې نشي د نورې مرستې لپاره راوګرځیدو خو دا یې هیر شوي وو چې خپلو ځواکونو ته یې په دروازه کې امر کړی ؤ چې هر څوک له مانۍ راووزي نو ویې وژني، ځکه خو چې له مانۍ راووت خپلو کسانو یې وواژه.

بالاخره له توندې جګړې وروسته تورنجنرال وکتور پاپوټین هم ووژل شو، خو مانۍ روسي ځواکونو ونیوه، حفیظ الله امین یې ونیو او ویې واژه، له ده سره د ده خدمتګاران او د کورنۍ غړي هم ټول ووژل شول.

په دې شپه د کابل خلکو په پام کم نهو بجو د خلق دیموکراتیک ګوند د پرچم ډلې د مشر ببرک کارمل وینا واوریده چې د کابل په څپو له تاشکند

(c) ketabton.com: The Digital Library

رادیو څخه خپره شوه. په دې وینا کې نوموړي اعلان وکړ چې حفیظ الله امین ته د انقلابي محکمې له خوا د مرګ سزا ورکړای شوه، او ده د هیواد واک په لاس کې اخیستی دی، او شوروي اتحاد د ده د پوځي مرستې غوښتنه منلې ده. په دې بهیر کې روسي پوځونه د افغان پوځ له مقاومت سره مخ وو، کابل ته نږدې د قرغې اتمې فرقې سخت مقاومت وکړ، همدارنګه په کندهار کې ۱۵مې فرقې سخته مقابله وکړه، په هرات او جلال آباد کې هم توندې او اوږدې جګړې وشوې، په نورو برخو کې پخوا تر دې چې افغان پوځونه وخوځیږي، روسي پوځونو هغوی فلج او بې وسلې کړل، تر دې وړاندې چې افغان هوایي ځواک کوم اقدام وکړي ټول هوایي ډګرونه روسي ځواکونو ونیول. په کابل کې هم تر درې ورځو پورې جګړه روانه وه. که څه هم د دې ټول مقاومت ماتولو څو اونۍ وخت ونیو، د ۱۹۸۰ په مارچ کې روسي پوځونو پر کابل او نورو مهمو ښارونو بشپړ واک ترلاسه کړ او خپل لاسپوڅی حکومت یې جوړ کړ. تر دې مهاله روسان پردې خبر نه وو چې دوی ایله اوس داسې جګړې ته ورننوتلي دي چې تر نهو کلونو پورې به دوام کوي.

افغانستان په وچه کې ایسار هیواد دی چې شمال ته یې ازبکستان، تاجکستان او ترکمنستان پراته دي، لویدیځ ته یې ایران او ختیځ ته یې پاکستان دی.

له شمال نه جنوب ته ۶۰۰ میله او له ختیځ نه لویدیځ ته اته سوه میله اوږد پروت دی. دغه هیواد په درې لویو برخو ویشلی، شمال ته هواره سطحه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د دې هیواد کرنیزه سیمه ده او شمالي برید یې ډېره برخه د آمو سیند دی.

مرکزي لوړې سطحې چې د هیمالیا د غرونو لړی(هندوکش غرونه) دي، او جنوب لویدیځ جګې او نیمه سارایي سطحې چې ریګستان نومې دښته هم پکې شامله ده.

د منځنۍ غرنۍ سیمې له شمال ختیځ څخه ۷۱۵ میله اوږد د هلمند سیند جنوب لویدیځ لور ته له پاسه مخ پر ځوړ بهیږي.

د افغانستان تر نیمایي زیاته برخه نفوس پښتانه دي، چې ډیری برخه یې په جنوب او ختیځ سیمو کې اوسیږي، نور قومونه تاجک دي چې په شمال او لویدیځ کې اوسیږي، ازبک دي چې د هندوکش په شمال کې زیاتره په کرنه بوخت دي، او هزاره دي چې په مرکزي سیمو کې اوسیږي او کډوالو ته ورته ژوند لري.

د افغانستان په سلو کې اتیا نفوس کلیوالي ژوند لري او ډېر یې د سیندونو پر غاړو ژوند کوي، پاتې نور پینځمه برخه کډوال او کوچي دي، په ختیځ کې پر پلازمېنه کابل سربېره له لویو ښارونو څخه هرات، کندهار، مزارشریف، جلال آباد، خوست او کندز دي، دوی زیاتره د حلقوي لویې لارې په بهیر کې آباد دي، چې له کابل نه د جنوب لویدیز کندهار او له هغه ځایه شمال لویدیز، هرات ته تیریږي او له هراته شمال ختیځ، مزارشریف ته تیریږي او بېرته د جنوب(کابل) لور ته راځي.

افغانستان په پیل کې د ایراني امپراتورۍ برخه وه. (افغان مؤرخین دا د ایران ادعا ګڼي او د تاریخي شواهدو پر بنسټ دوی ادعا کوي چې په ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاریخي پېرونو کې چې کوم وخت اوسني هیوادونه په یوه امپراتوري کې شامل وو مرکزیت او پلازمینه یې زیاتره کابل، بلخ، هرات، غزني او یا بل داسې مقام پاتې شوی چې د اوسني افغانستان برخه دي، ځکه خو دغه نظر سهي نه دی چې افغانستان یو وخت د ایران برخه ؤ، او یا افغانستان یو وخت د هندوستان برخه ؤ. د تاریخي شواهدو د اصل له مخې دغسې ادعا هغه هیواد کولای شي چې تاریخي مرکزونه اوس هم د دوی برخه وي د لرغوني آریانا تاریخي ښارونه، بلخ، هرات، مرو، غزنی، جلال آباد، او... ټول په اوسني افغانستان کې دي. ژباړن)

له میلاد څخه وړاندې په څلورمه پیړۍ کې لوی سکندر پر افغانستان یرغل وکړ، وروسته دغه هیواد د شمالي هند د موریایي امپراتوري برخه شو. له میلاد څخه دوه پیړۍ وړاندې د کوشاني پاچا کنشکا د پاچاهۍ برخه ؤ. پر ۱۲۱۹ز کې د چنګیز مغلي لښکر پرې یرغل وکړ، چې د هغه حکومت د ده د امپراتوري تر زواله پرې حاکم ؤ، تر هغه وروسته افغانستان په بېلابېلو آزادو ریاستونو وویشل شو. تر دې چې د اتمې پیړۍ په پیل کې د هند مغلي امپراتوري پرې واکمنه شوه. د اتلسمې میلادي پیړۍ په پیل کې ایراني نادرشاه (نادر افشار) له مغلو څخه ونیو، چې بیا د هغه ځایناستي احمدشاه(دوراني احمد شاه بابا) د یوه قوم په توګه سره یو موتی کړ. په ۱۷۷۲م، کې د ده له وفات وروسته خپلمنځي نښتو او د برتانیې او روسیې استعماري ادارو، افغانستان بیا له ګډوډیو سره مخ کړ، روسیې هڅه کوله چې د افغانستان شمال سیمې له خپلې خاورې سره یو ځای کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په نولسمه پیړۍ کې برتانیه د افغانستان د نیولو په هڅو بریالی نشوه، خو په بلوچستان او د افغانستان د پښتنو یوه زیاته برخه سیمه یې ترې وشکوله، په ۱۸۹۳ز کې برتانویانو د ډیورنډ کرښې په نامه یوه کرښه و ایستله، په لومړنۍ نړیواله جګړه کې چې د عبدالرحمن خان د زوی حبیب الله خان پر مهال وه، افغانستان بې طرفه پاتې شو. د جرمني او د هغو د متحدینو فشار ته یې سرټیټ نه کړ او په جګړه کې یې خپله بې طرفي وساتله، خو په ۱۹۱۹م کې حبیب الله خان ووژل شو، بیا یې دربیم زوی امان الله خان پاچا شو، هغه سمدستي د هیواد خپلواکي اعلان کړه او له برتانیې سره یې جګړه وکړه، تر یوې میاشتې پورې روانه دغه نیمګړې جګړه، د دې سبب شوه چې افغانستان خپله خپلواکي ترلاسه کړي، تر دې وروسته امان الله خان د روسیې د بلشویک له کمونستي رژیم سره د مرستې ترون وکړ. چې په پایله کې یې د دواړو هیوادونو په منځ کې اویا کاله دوستانه اړیکې ټینګې وې.

په راتلونکیو لسو کلونو کې امان الله خان ډېر اصلاحات راوستل، د ښځو د پردې غورځولو او د نارینه او نجونو د ګډ تعلیم نظام له امله سنتپال مذهبي مشران او ملایان وپاریدل، د ۱۹۲۸ په نومبر کې د یوه تاجک سقاو د زوی په مشرۍ بغاوت وشو، دوې میاشتې وروسته امان الله پاچاهي خپل ورور عنایت الله ته پرېښوده او له تخته لاس پر سر شو. په ایټالیا کې یې پناه واخیسته.

تخت د سقاو زوی ونیو او د حبیب الله په نامه یې پاچاهي پیل کړه، خو لس میاشتې وروسته محمد نادرخان هغه ووژاه او کابل یې ونیو، د نادرشاه

(c) ketabton.com: The Digital Library

په نامه يې حکومت پيل کړ. په ۱۹۳۱م کې هغه د مذهبي مشرانو د ډاډ لپاره نوی اساسي قانون جوړ کړ.

د ۱۹۳۳ز په نومبر کې نادرشاه هم ووژل شو، پر ځای يې زوی محمد ظاهرشاه کيناست، راتلونکي شل کاله موده افغانستان دننه پرمختګ وکړ، او په بهر کې يې له نړۍ سره اړيکې ټينګې کړې، په ۱۹۵۳کې د پاچا د کاکا زوی تورنجنرال محمد داوود خان د صدراعظم په توګه غوره شو. نوموړی يو زړور ولسپال سړی ؤ او د پښتونستان د آزادۍ سخت پلوي ؤ، دا هغه سيمې وې چې برتانيې په ۱۹۴۷ز کې د هند او پاکستان د بيلتون پر مهال پاکستان ته ورکړې وې.

داؤد د اقتصادي او پوځي مرستو لپاره روسيې ته مخ واړاوه، له ۱۹۶۵ز وروسته د شوروي واکمنو چې د ۱۹۱۷ز له انقلاب وروسته پر افغانستان سترګې ګنډلې وې، د افغان پوځ او پيلوټانو په روزنه يې لاس پورې کړ. وروسته يې په افغانستان کې د لويو تاسيساتو جوړولو ته لاس واچاوه. چې په هغو کې د تاجک-افغان له سرحده تر کابله د لويې لارې او آمو سيند پر غاړه د بندر جوړول هم شامل وو، دغه مهال داود خان اوږد مهاله اقتصادي پروژې پيل کړې، له دې سره هغه په سياسي اړخ کې د يوه جابرانه حکومت بنسټ کښښود چې د اپوزيسيون ځای پکې نه ؤ، خو د پښتونستان مساله د ده د زوال سبب شوه چې ډېره توده يې عنوان کړې وه. د دې په پايله کې د ۱۹۶۱ز په اګسټ کې پاکستان خپل سرحد وتاړه، چې له امله يې افغانستان د ترانزيټ او سوداګرۍ لارو لپاره پر شوروي اتحاد انحصار ته اړ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

داؤد په ۱۹۶۳ز مارچ کې استعفا ورکړه او دوې میاشتې وروسته پاکستان ببرته خپل سرحد پرانیست.

تر دې مهاله شوروي اتحاد په افغان پوځ کې ښه نفوذ کړی ؤ، دغه کار د شوروي اتحاد د مرکزي استخباراتو اداري تر څارنې لاندې کیدو، دې اداري افغان پوځیان دې ته وهڅول چې یو تر ځمکه لاندې سازمان (د پوځي ځواکونو د سازمان) په نامه جوړ کړي.

په دې موده کې ظاهرشاه نوی اساسي قانون نافذ کړ، چې له مخې یې د لومړي ځل لپاره د ملي شورا انتخابات د ۱۹۶۵ په اګسټ کې ترسره شول. په دې کې ډېرو ګوندونو برخه واخیسته. په هغو کې له اسلامي بنسټپالو نیولې تر سرسختو کین اړخو ګوندونو پورې ټول شامل وو چې د ملي شورا دواړو جرګو(ولسي جرګې او مشرانو جرګې) ته یې کسان ودریدل.

د انتخاباتو پر مهال پخواني شوروي، د خلق او پرچم کمونیستي ډلو د سره یو ځای کولو هڅې وکړې. له دې سره یې له (پي ډي پي اې) نوي جوړ شوي ګوند سره هم مرسته وکړه چې د کابل له پینځو کرسیو څخه یې درې دوی وګټلې.

سیاسي وضعه ډېره ګړندی د ټکر لور ته روانه وه. ظاهرشاه د ۱۹۶۵ز له سپټمبر څخه د ۱۹۷۲ز تر دسمبر پورې، یو پر بل پسې پینځه تنه صدراعظمان وټاکل، د سیاسي ګوندونو او د ښاروالیو او ولایتي شوراګانو د اداري لپاره د قوانینو د نفاذ، د انکار له لامله سیاسي آزادۍ فلج شوې، پردې سربېره د پاکستان دننه پر پښتنو او بلوچو د ظلمونو په باب د غبرګون نه ښودلو، د وچکالۍ په موده کې له ایران سره د اوبو ټرون، چې ایران ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې اوبه ورکولې، ناوړه پرېکړې وې چې حکومت په عامه کچه خپل محبوبيت وبايله. په دغسې وضعه کې د ۱۹۷۳ز په جولای کې د سپينې کودتا له لارې د پاچا تخت رانسکور کړای شو او سردار داؤد د پرچم ډلې او کين اړخو پوځيانو په مرسته واک ترلاسه کړ.

داؤد د ۱۹۶۴ز اساسي قانون لغوه کړ، جمهوري نظام يې اعلان کړ او ځان يې د دولت رئيس او صدراعظم اعلان کړ. له ببرک کارمل سره يې چې هغه پخوا له مسکو نه اجازه اخيستې وه ګډ حکومت جوړ کړ، د خلق ګوند چې مشري يې نور محمد تره کي او حفيظ الله امين کوله، د سردار داؤد تګلاره ډېره سنتي وبلله، رد يې کړه او له حکومت سره يې له همکارۍ ډډه وکړه. په حکومت کې د کمونستانو په تېره د کارمل ډلې د مخ پر زياتيدونکي نفوذ څخه، له افغانستان نه د باندې په تېره له ايران سره ډېره اندېښنه وه، ايران په ۱۹۷۴کې د امريکا په مرسته دا هڅه کړې وه چې افغانستان په لويديز اقتصادي بلاک کې شامل شي، په دې بلاک کې پاکستان، هند او خليجي هيوادونه هم شامل وو، له همدې لامله افغانستان ته د ۴۰ مليون ډالرو پور ورکولو وړاندیز وشو. چې دا د دوه مليارد ډالره اقتصادي پروګرام برخه وه چې په لسو کلونو کې به افغانستان ته ورکول کيدل. د پلان له مخې به افغانستان له خليجي هيوادونو سره د لويو لارو او ريل کرښې په واسطه نښلول کيدو، او ايران به د لوی مرستندوی په توګه په افغانستان کې د شوروي اتحاد ځای نيولو.

سي آی اې او د ايران ساواک د پاکستان، هند او چين او د منځني ختيځ د نورو ځارګرو ادارو په مرسته په افغانستان کې د کاجي بي پر خلاف

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیت کاوه، پردې سربېره سي آی اې او ساواک د ۱۹۷۳ز په سپتمبر او د سمبر کې او بیا د ۱۹۷۴ز په جون کې د اسلامي بنسټپالو له لوري د داؤد پر خلاف په کودتا کې هم لاس درلود.

د ایران او امریکا د هڅو په پایله کې داود نور هم ښې اړخي، د ایران په مشرۍ لویدیز پال بلاک ته ورنږدې شو، د ۱۹۷۴ز په جولای کې هغه له پوځ څخه ۲۰۰تنه افسران چې په روسیه کې روزل شوي وو لرې کړل. راتلونکی کال یې د کمونیست دفاع وزیر پر ځای د کمونیستانو یو سرسخت مخالف قدیر نورستانی د دفاع وزیر وټاکه، د ۱۹۷۵ز په اکتوبر کې یې ۴۰ تنه نور روسي پلوه افسران برطرف کړل. پر شوروي اتحاد د انحصار د کمولو لپاره یې په هند، مصر او امریکا کې د پوځیانو د روزنې زمینه برابره کړه.

په نومبر کې داوود خان هڅه وکړه چې د پښتونستان په اړه خپلې تګلارې نرمې کړي. اعلان یې وکړ چې د پاکستان پر خلاف به نور هغه لس زره تنو بلوڅو او پښتنو چریکانو ته، پناه نه ورکوي چې د پاکستان پر خلاف فعالیت کوي.

له پاکستان نه تښتیدلیو مهاجرو ته یې په افغانستان کې له پناه ورکولو ډډه وکړه. تر دې سمدستي وروسته یې له پرچم ډلې سره د اړیکو شلولو اعلان وکړ، او خپل ګوند یې د (ملي غورځنګ) په نامه اعلان کړ، له همدې لامله شوروي اتحاد مایوس شو او په راتلونکیو اتلسو میاشتو کې یې پر کمونستي خلق او پرچم ډلو فشار راوړ چې اختلافات له منځه یوسي او سره یو موټی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که څه هم د ۱۹۷۷ز په می کې شوروي اتحاد پردې بریالی شو چې دواړه ډلې سره یو ځای کړي، خو پر نورو اختلافاتو سربېره یو بنسټیز اختلاف دا ؤ چې په پرچم ډله کې زیاتره ښاري د لوړې کچې خلک وو چې له پښتنو قبیلوي معاملو سره بلد نه وو، په دوی کې دري ژبي زیات وو. د خلق ډلې غړي بیا د اطرافو کلیوالي خلک وو او زیاتره پښتانه وو، هغوی د دې کلک پلویان وو چې خپلې هغه سیمې بېرته له پاکستان نه واخلي چې په ۱۹۴۷ز کې برتانیې هغوی ته ورکړې وې.

د ۱۹۷۷ز په بهیر کې سرداردادود له شوروي اتحاد سره د اړیکو شلولو پروسه ګړندۍ کړه، د فبروري په میاشت کې د کمونستانو پر خلاف اقدامات ګړندي شول، دوې میاشتې وروسته د مسکو په رسمي سفر کې د داود خان او روسي ولسمشر لیونیدبریژنف ترمنځ په خبرو کې نادرۍ ووهل شوې، بریژنف له افغانستان نه د امریکایي سلاکارانو د ایستلو غوښتنه وکړه، داود په ځواب کې ورته وویل چې هیوادوال یې پخپلو چارو کې د شوروي اتحاد د لاسوهنې اجازه هېڅکله نه ورکوي.

وطن ته له راستنیدو سره یې مصر، هند او امریکا ته د محصلینو استولو شمېر زیات کړ، په ترکیه کې یې هم د پیلوټانو د زده کړې پروګرام پیل کړ، پردې سربېره یې د یو لړ لویو پروژو لپاره له سعودي عربستان څخه د پینځه سوه ملیون ډالرو مرستې لپاره خبرې اترې پیل کړې، له چین او کویټ سره یې هم د مرستو ټرونونه لاسلیک کړل.

دغه پېښې او له ایران، چین، مصر، ترکیې او سعودي عرب سره د داود خان د اړیکو تودیدلو ته کمونستانو او روسانو ډېر په اندېښنه کتل، پردې

(c) ketabton.com: The Digital Library

سربېره پښتانه قومپال ډېر ګړندي پردې باوري کیدل چې، داود خان د ډیورنډ کرښې پورې غاړې پښتني سیمو څخه ډېر زر لاس پر سرکیدونکی دی، تر څو له ایران او امریکا څخه زیاته مالي مرسته ترلاسه کړي، اصلاً د پاکستان پوځي واکمن جنرال ضیاء الحق دا څرګنده کړې وه چې د پاکستان او افغانستان ترمنځ سوله پردې شرط کیدای شي چې افغانستان د بلوچستان او پښتونستان مسالو ته له لمن وهلو لاس واخلي او ډیورنډ کرښه د سرحد په توګه ومني.

د ۱۹۷۸ز په مارچ کې په اسلام آباد کې په خبرو اترو کې، دواړه لوري پردې خبره توافق ته راضي ښکاریدل، داود خان وویل چې دی دې شرط منلو ته په هغه صورت کې چمتو دی چې، پاکستان پښتو او بلوڅو سیمو ته تر یوه حده خپلواکي ورکړي.(داسې سند نشته چې داود خان دې د ډیورنډ کرښه د سرحد په توګه منلې وي، البته داسې شواهد شته چې افغانستان ته ګوادر ته لاره ورکړي، په مقابل کې یې د ډیورنډ کرښې دواړه غاړې آزادې اړیکې ولري چې ټول تفصیل یې لوی بحث غواړي. ژباړن)

پښتنو قومپالو ته هغه مهال شک پیدا شو چې داود خان کوم ټرون ته نږدې شوی دی چې کله ښرته کابل ته راستون شو نو د بلوچو او پښتنو قبایلي مشرانو ته یې په یوه ملاقات کې وویل چې د دوی هغه لس زره تنه یاغیان باید د اپریل تر ۳۰مې له افغانستانه ووزي.

له پاکستان سره دټرون خبره په پوځ کې ډېره ګړندی خپره شوه. کمونیستانو له دې نه سمدستي ګټه اوچته کړه، داود خان دا احساس کړه چې ډېر په سرعت یوازې کیږي، د ده ټول ځواک د پولیسو او پوځ تر یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

شمېر هغو کمونست مخالفو کسانو پورې محدود شو چې ده ته وفادار وو. هغوی د حکومت له ټولو ارګانونو نه د کمونستانو په لرې کولو لاس پورې کړ. همدغه مهال د پرچم ډلې یو مهم مشر میر اکبر خیبر د اپریل پر ۱۷مه ووژل شو چې ډېره ناکراري ورسره خپره شوه، د همدې ناکراریو په لړ کې د اپریل پر ۲۵مه نورمحمد تره کي، ببرک کارمل او پینځه تنه نور کمونیست مشران ونیول شول. خو حفیظ الله امین یوازې په کور کې نظر بند شو، نوموړي د داود خان د نسکورولو پلان چې پخوا خلق ګوند چمتو کړی ؤ په پټه خپلو پوځي اندیوالانو ته ورساوه، د پلان کاپي ګانې د هوایي او ځمکني پوځ په مشرانو کې وویشل شوې چې د اپریل پر ۲۷مه هغوی بغاوت پیل کړ. د دې پوځي بغاوت قوماندې د څلورمې لوا په لاس کې وه، دوی د اوومې او اتمې فرقې له یو څه مخالفت سره پردې وتوانیدل چې کمونیست مشران راخوشي کړي، د پوځ نور یونټونه له کودتا چیانو سره ملګري شول. د هوایي ځواکونو افسران هم له کودتا چیانو سره ملګري شول. خو الوتکې یې له ماسپښین وروسته راپور ته کړې، له بګرام هوایي ډګره را پورته شویو شپږو الوتکو پر ارګ مانې بمباري پیل کړه، د ورځې تر پایه امین کنترول تر لاسه کړی ؤ او درې ورځې وروسته یې اعلان وکړ چې د نوي افغانستان انقلابي شورا واک په لاس کې واخیست، په دې موده کې داود خان د خپلې کورنۍ له ټولو غړیو سره ووژل شو.

نور محمد تره کي او ببرک کارمل ولسمشر او مرستیال وټاکل شول، حفیظ الله امین د صدراعظم لومړی مرستیال او دبهرنیو چارو وزیر وټاکل شو جګړن اسلم وطنجار چې د څلورمې قوا د مرستیال په توګه یې کودتا

(c) ketabton.com: The Digital Library

رهبري کړې وه، د صدراعظم مرستیال، او د هوایي ځواکونو قوماندان ډګروال قادر د دفاع وزیر وټاکل شو.

ډېر زر امین له خپلو پخوانیو ملګریو سره، چې اوس یې رقیبان شوي وو د واک پر سر په زور ازمویلو کې راښکیل شو. د جون په پای کې یې کارمل او د ده شپږ نور اندیوالان د سفیرانو په توګه له هیواده د باندې ولیږل، په اګست کې یې عبدالقادر د کودتا په جرم ونیو او زندان ته یې واچاوه، کارمل یې چې په پراګ کې سفیر ؤ بېرته کابل ته راوغوښت، خو دغه حکم نه ده ومانه او نه یې نورو شپږو ملګریو، هغوی د نیولو او په زور وطن ته د راوستلو له وېرې بې درکه شول. په دې موده کې اسلم وطنجار چې هڅه یې کوله د دفاع وزیر شي، راټیټ کړای شو او د ترانسپورټ د وزیر په توګه وټاکل شو.

له دې سره امین یو لړ اصلاحات پیل کړل، سره له د ې چې دغه اصلاحات د عام ولس په ګټه وو خو د پلي کولو پلان یې کمزوری او ناقص ؤ، د ځمکو د ملکیت او د ښځو د حقوقو په اړه اصلاحات یې، د هغو خلکو چې په زیان یې وو او د سنتي ملایانو له سخت مخالفت سره مخ شول. امین دغه اصلاحات په زور نافذ کړل، چې چېرته یې اړتیا شوه د پټو پولیسو نه یې کار واخیست چې مشر، یې د ده وراره ؤ. همدغسې یې له مصنوعي محکمو څخه کار واخیست. خو له هیواده بهر د دوی مخالف اسلامي بنسټپال ځواکمن شول او مرستې ورسره پیل شوې، له هغوی څخه یې ځینو له پاکستان څخه وسله وال ګروپونه هم افغانستان ته واستول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د امین د واکمنۍ له دوام نه د شوروي اتحاد اندېښنه زیاتیدله، امین د روسانو دې غوښتنې ته هیڅ پام نه کاوه چې له خپلو مخالفینو (خلق او پرچم) سره واک شریک کړي. اوس په څو جبهو کې له امین سره مخالفت روان ؤ، په ۱۹۷۹ز فبروري کې د پښتنو مخالفو تاجکانو چې له ستم ملي ډلې سره تړلي وو، د امریکا سفیر اډولف ډابس وتښتاوه او د خوشي کولو په بدل کې یې د خپل مشر، بهرالدین باعث د خوشي کیدو غوښتنه وکړه، افغان حکومت له برمته کوونکیو سره له خبرو انکار وکړ او هغه هوټل ته یې پولیس واستول چې دوی سفیر پکې برمته کړی او ساتلی ؤ، د پولیسو په برید کې سفیر او تښتوونکي دواړه ووژل شول.

د ډابس له وژل کیدو وروسته امین وویل چې ستم ملي له پرچم ډلې سره نږدې اړیکې لري او دوی له کا جي بي سره هم اړیکې لري، د دې سفیر د تښتولو موخه له امریکا سره د حکومت د اړیکو خرابول وو، پر ۱۹۸۰ز کې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په یوه راپور کې ویل شوي چې له پولیسو سره څلور تنه روسي سلاکاران هم وو، چې له هغو څخه درې تنه په هغو عملیاتو کې شریک وو چې پر هوټل یې چاپه ووهله، له دوی څخه یو تن د ودانۍ په شاوخوا کې له هغو پولیسو سره ؤ چې د ده په لارښونه او قومانده ډزې پیل شوې.

په مارچ کې د افغانستان په لویدیز ښار هرات کې، د حکومتي پوځیانو او یاغیانو ترمنځ جګړه ونښته، دغه مهال اوولسمه فرقه هم له حکومته واوښته او له پاڅون والو سره ملګرې شوه، له دوو اونیو جګړې وروسته حکومت پردې وتوانید چې پاڅون غلی کړي، په دې موده کې درې زره تنه ووژل

(c) ketabton.com: The Digital Library

شول. په هغوی کې ۹۰تنه روسي سلاکاران او د هغوی د کورنیو غړي هم وو چې په کورونو کې یې ووژل شول. وروسته معلومه شوه چې د پاڅون کوونکیو مشرانو ته، وسلې او پوځي روزنه د آیت الله خميني حکومت ورکړي وو چې یوه میاشت وړاندې یې د ایران واکمني ترلاسه کړې وه، پردې سربېره ځایي اوسیدونکي چې ډېرى یې شیعه مذهبه دي،له پاڅون سره ملګري شول.(دلته د ایران مخالفې روحیې تر اغیز لاندې مبالغه شوې ده. د هرات فرقې د پاڅون مشران جګړن علاوالدین او تورن اسماعیل خان وو، او په دغه ولایت کې ډېرى اوسیدونکي سنیان دي. ژباړن)

تر دې وروسته د جون پر ۲۳مه په کابل کې افغان پوځیانو پاڅون وکړ، او د اګسټ پر ٦مه یو بل پاڅون وشو چې یوه افغان یونټ د کابل د بالاحصار د نیولو هڅه وکړه.

دغه مهال، امین او تره کي شوروي مشرانو ته وویل چې د یو پر بل پسې پاڅونونو د راقابو کولو لپاره پوځ ور واستوي. شوروي اتحاد له دې غوښتنې منلو ډډه وکړه، خو د پوځي وسایلو او ګنشپ څرخیو د ورکولو په بڼه یې مرسته ورسره وکړه چې په یوه میاشت کې افغانستان ته ورسیده.

د وضعې له خرابیدو سره له پاڅون کوونکیو سره سعودي عرب، مصر، متحده عربي اماراتو او چین هم مرستې پیل کړې چې له دې سره هغوی ډېر پیاوړي شول، شوروي اتحاد له دې وضعې څخه ډېر اندېښمن شو، امین ته یې وړاندیز وکړ چې له ببرک کارمل سره ګډ حکومت جوړ کړي چې اوس په پراګ کې اوسیده او هلته یې سیاسي پناه اخیستي وه. امین پردې ناراضه شو او وړاندیز یې هم ونه مانه، هغه له تره کي سره هم په جنجال

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې لویدلی ؤ چې اسلم وطنجار یې د دفاع وزیر او یو بل خلقي شیرجان مزدوریار یې د کورنیو چارو وزیر ټاکلی ؤ، پردې سربېره تره کي د امین وراره اسدالله امین د خاد(پټو استخباراتو اداري) له مشرتابه څخه لرې کړ او یو بل خلقي یې د اسدالله سروري په نامه د هغه رئیس وټاکه، چې امین دې کار نور هم وپارولو.

شوروي اتحاد یو بدیل پلان جوړ کړ، چې تره کي ولسمشر شي، ببرک کارمل صدراعظم او امین د سفیر په توګه کوم بهرني هیواد ته واستوي، د ۱۹۷۹ز په سپتمبر کې مسکو ته د سفر په بهیر کې تره کي پردې پلان راضي شو، خو هغه یو بل پلان افشا نه کړ چې ده پرې کار کاوه، هغه دا چې له مسکو نه تر ستنیدو وروسته چې امین د ده هر کلي ته هوایي ډګر ته راځي، نو په لاره کې به وژل کیږي، خو له مسکو نه د تره کي تر روانیدو لږ وړاندې یوه مخبر دغه خبر کا جي بي ته ورساوه چې بیا روسانو د خپلمنځي لانجې له لامله د افغانستان د حکومت د کمزوري کیدو له ویرې تره کی له دې پلان عملي کولو څخه را ایسار کړ.

تر دې وروسته د تره کي او امین ترمنځ اړیکي نور هم خراب شول، هر لوري له بل څخه د استعفا غوښتنه کوله، په دې موده کې د سپتمبر پر ۱۴مه اسدالله سروري د امین د وژلو پلان جوړ کړ خو ناکام شو، امین په ځوابي اقداماتو لاس پورې کړ، واک یې ترلاسه کړ او خپل ټول رقیبان یې له دندو برطرف کړل، خو د هغوی د نیولو هڅه ناکامه شوه، ځکه ټولو پخوا د کاجي بي د یوه مامور په کور کې پناه واخیستله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اکتوبر پر لسمه کابل رادیو اعلان وکړ چې تره کی له سختې ناروغۍ وروسته مړ شو، خو شوروي اتحاد ته وروسته دا معلومه شوه چې هغه د سپتمبر پر ۱۷مه د امین درې تنو ملګریو وواژه. پردې مسکو خواشینی شو او دا بدګومانۍ ورسره پیدا شوې چې امین به د مرستې لپاره له امریکا سره ملګری شي. وطنجار، سروري، مزدوریار او د خلق ګوند یو وتلی غړی سید محمد ګلابزوی چې د کا جي بي د غړي په کور کې پټ وو، دوی له امریکا سره د امین د مخ پر زیاتیدونکیو اړیکو په اړه معلومات راټولول.

دغه بدګومانۍ ببرک کارمل او د هغه شپږو نورو ملګریو هم تائید کړې چې اوس په مسکو کې راټول شوي وو.

دوی ډېر په ټینګار شوروي مشرانو ته ویل چې امین لویدیزوالو ته مخ اړولی دی. ظاهراً دا هماغه مهال ؤ چې په دارلامان مانۍ کې د کاجي بي مامور طالبوف ته د امین د وژلو ماموریت ورکړ شو، خو هغه په دې کې ناکام شو.

د شوروي اتحاد په واکمنو کې ځینې په افغانستان کې د پوځي مداخلې سخت مخالف وو، او ځینې یې پلویان. د پلویانو په ډله کې ولسمشر بریژنف، د دفاع وزیر دیمتري استینوف، او د کا جي بي د بهرنۍ څانګې مشر وکتور خرچکوف شامل وو، په مخالفینو کې بیا صدارعظم الکسی کاسیګین، د بهرنیو چارو وزیر اندري ګرومیکو، او د کا جي بي مشر اندرپوف شامل وو.

شوروي اتحاد پر ډېرو مسایلو اندېښنه درلوده، یوه اندېښنه یې دا وه چې امین امریکا ته د استخباراتو د مانیتور د برېښنایي مرکز د جوړولو اجازه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکولای شي، تر څو د ایران د اسلامي انقلاب له بري سره په هغه هیواد کې د له منځه تللیو دوو مرکزونو جبران وکړي.

دغه مرکز به د شوروي اتحاد د مخابراتي او رادیویي خپرونو او د بیکو نور د توغندیو او د فاعي خلایي نظام د څپو جاسوسي کوي.

د بیکونور خلایي مرکز د قزاقستان په جنوبي منځنۍ سیمه کې د سیردریا پر غاړه دی، یو امکان دا ؤ چې په تهران کې د امریکا د سفارتخانې د نیولو او د دپلوماتانو د یرغمل کولو له پېښې وروسته امریکا نیغ په نیغه پر ایران برید وکړي.

د دفاع وزارت او دشوروي اتحاد د جنرالانو کومیټې، زیات مشران منصبداران پردې مساله سره ویشل شوي وو. په سختو مخالفینو کې د پلیو قواو قوماندان مارشال نیکولای اورګاکوف، د هغه لومړی مرستیال مارشال سرګي اخرو می یوف، او د ضربتي قواو قوماندان جنرال ویلنټن ویر بنکوف شامل وو، یو څو نور د محدود شمېر پوځ استولو پلویان وو، چې په کابل او ځینو نورو ښارونو کې وي او په جګړه کې برخه وانخلي.

۱۹۷۹ز کال مخ پر پایته رسیدو ؤ، وضعه د امریکا او شوروي د اړیکو له خرابوالي سره نوره هم خرابه شوه، که څه هم د دواړو هیوادونو ترمنځ د جون پر ۱۸مه د دوهم سالټ تړون په ویانا کې لاسلیک شوی ؤ چې یو هیواد به هم له (۲۴۰۰) اتومي وسلو څخه زیاتې نشي ساتلای. پردې تړون بریژنف او جیمي کارتر لاسلیکونه کړي وو.

خو دغه تأثر چې (دیتانت) ختمیږي، هغه مهال زور واخیست چې کله د امریکا د سنا د وسلوال پوځ کومیټې د نومبر پر ۳۰مه دوهم سالټ تړون

(c) ketabton.com: The Digital Library

رد کړ. پردې سربېره امریکا دا پریکړه کړې وه چې، منځني واټن ویشتونکي بالستیک توغندي په اروپا کې نصب کړي، د دسمبر پر ۱۲مه، مابنام مهال د شوروي اتحاد سیاسي بیرو غونډه وکړه چې په دې کې یې افغانستان ته د پوځونو ننه ایستلو پربکړه وکړه، دوې اونۍ وروسته یې یرغل وکړ.

لکه چې یوه ژورنالیست جان کې کولي په خپل اثر (سپیځلې جګړه... افغان، امریکا او نړیوال تروریزم) کې لیکي:

- شپږ میاشتې وړاندې د جولای پر ۳مه د امریکا ولسمشر کارتر د افغانستان د مجاهدینو له غورځنګ سره د سي آی اې په واسطه په پټه د مرستې ورکولو پربکړه کړې وه.

د دې پربکړې تر ټولو لوی ملاتړی د امریکا د ملي امنیت سلاکار زیبګو بریژنسکي ؤ، هغه فکر کاوه چې شوروي اتحاد په یوه اوږده جګړه کې را ښکیل کړي چې له همدې لامله به له منځه لاړ شي، او دا د سړې جګړې د پایته رسولو یو فرصت دی، څو کاله وروسته هغه ولیکل چې پټ عملیات ډېر ښه پلان ؤ، د دې موخه دا وه چې روس د افغانانو په دام کې ونښلوي.

ژورنالیست سلیګ هریسن (پر افغانستان د شوروي یرغل، د پردې تر شا حقایق) نومي اثر کې چې له ډیګو کوردوویز سره په شریکه لیکل شوی، لیکلي چې: د امریکا د بهرنیو چارو وزیر سایرس وانس که څه هم د بریژینسکي د پالیسۍ مخالفت ونه کړ، خو هغه پردې توندې نیوکې درلودې، هغه پردې پوهیده چې پر افغانستان د شوروي د پوځ د یرغل لومړی ورځې دي، باید د دوی د بیرته وتلو لپاره خبرې اترې پیل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغه وړاندیز دا ؤ چې دواړه هیوادونه دې دا تړون لاسلیک کړي چې نه به ایران یا پاکستان ته پوځ استوي نه به پوځي اډې جوړوي. له دې سره به په جنوبي آسیا کې د روسانو اندېښنې ختمې شي او له افغانستان څخه د وتلو یوه زمینه به ورته برابره شي.

د فبروري په پیل کې د ولسمشر کارتر په تائید، هغه د روس د بهرنیو چارو وزیر اندري ګرومیکو ته یو لیک واستاوه. په هغو کې یې د هغو اصولو پر بنسټ د خبرو اترو وړاندیز کړی ؤ چې که له دواړو لوریو له زغم کار واخیستل شي او د سیمې د هیوادونو خپلواکۍ او سلامتۍ ته درناوی وشي، نو زمور ګټې به د ټکر او جنجال سبب نشي، د ګرومیکو ځواب مثبت ؤ، وانس له کارتر نه د خبرو اترو د انتظام منظوري وغوښته، بریژنسکي په کلکه د دې مخالفت وکړ او کارتر یې ورسره همنظره کړ، ځکه خو یې وانس ته وویل چې نور په دې برخه کې وړاندې مه ځه .

د سي آی اې په جګپوړیو چارواکیو کې هم سختې اندېښنې وې، په دوی کې د مرکزي استخباراتو (ډي سي آی) مشر ایډ مرل ستانس فیلډ ترنر هم شامل ؤ. ټرنر پردې خبره ډېر بحثونه وکړل چې آیا امریکا ته دا جایز دي چې د خپلو جغرافیایي سیاسي ګټو لپاره د نورو خلکو له ژونده کار واخلي؟ هغه پردې هم اندېښنه درلوده چې د سي آی اې لخوا چمتو شوې وسله به شوروي د پوځونو پر خلاف و کارول شي، او پردې یې هم نیوکه وه چې آیا تر وروستي افغانه به جګړه دوام کوي؟

خو بیا یې خپل ضمیر ویده کړ او د مرستو منظوري یې ورکړه!

* * * *

(c) ketabton.com: The Digital Library

د امریکا د پلان مرکز پاکستان ؤ، چې د سړې جګړې له پیل سره له دې هیواد سره د امریکا اړیکې ټینګې شوې وې، د ۱۹۵۰ز لسیزې له پیله پاکستان د شوروي اتحاد پر خلاف د امریکا د بریښنایي جاسوسۍ د مانیتور (ایلنټ) او د زیګنالونو د جاسوسۍ (سګنټ) عملیاتو نه بیلیدونکې برخه ګرځیدلی ؤ.

د ۱۹۵۴ز په می کې پاکستان له امریکا سره یو ټړون لاسلیک کړ، چې د هغو له مخې پاکستان ته د استخباراتي آسانتیاو د پر لپسې کارولو په بدل کې پوځي مرستې چمتو کیدې. په همدې کال په سپتمبر کې پاکستان له امریکا، برتانیې، استرالیا، نیوزیلانډ او فلیپین سره په (سیټو) سازمان کې شامل شو چې د کمونیزم د مخنیوي په خاطر جوړ شوی ؤ. په ۱۹۵۵ز کې پاکستان له برتانیې، ترکیې او ایران سره د سینټو په سازمان کې شامل شو، چې موخه یې د تیلو په تولیدوونکیو سیمو کې د شوروي اتحاد له نفوذ سره مقابله وه.

د ۱۹۵۰ په لسیزه کې ډېره موده د پاکستان سیاسي وضعه بحراني وه، تردې چې د ۱۹۵۸ز په اکتوبر کې ولسمشر سکندر میرزا، پر ګوندونو بندیز ولګاوه، اساسي قانون یې لغوه اعلان کړ او د جنرال محمد ایوب خان په مشرۍ یې پوځي حکومت نافذ کړ، ایوب خان د دې حکومت صدراعظم ؤ چې په کابینه کې یې درې تنه جګپوړي پوځي جنرالان او اته تنه ملکي وزیران وو. تر دې لږ موده وروسته ایوب خان سکندر میرزا هم رخصت کړ او پخپله د هیواد ولسمشر، د پوځ مشر او د پوځي حکومت د مشر په توګه را وړاندې شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوځي حکومت د ۱۹۶۲ز تر نیمایي پورې دوام درلود چې بیا د نوي قانون له مخې صدارتي نظام نافذ شو. د ۱۹۶۵ز په جنوري کې ایوب خان نوی دواک مشروعیت لاسته راوړ، خو په دې کال پاکستان د کشمیر پر سر له هند سره یوه لنډه او بې پایلې جګړه وکړه، چې له همدې لامله د امریکا مرستې وځنډیدې او له کورنیو لانجو وروسته بیړنی حالت نافذ شو، چې څلور کاله یې دوام وکړ، په دې موده کې له حکومت سره ولسي مخالفت مخ پر زیاتیدو ؤ.

د ۱۹۶۹ز په مارچ کې چې کله پر ایوب خان فشارونه ډېر زیات شول، نو واک یې د پوځ مشر جنرال یحی خان ته وسپاره، پر هیواد یو ځل بیا پوځي حکومت حاکم شو، خو په نومبر کې یحیی خان اعلان وکړ چې د راتلونکي کال په دسمبر کې به انتخابات وکړي. دغه انتخابات پر ټاکلي وخت وشول، چې په لویدیځ پاکستان کې د ذوالفقار علي بوټو د خلکو ګوند، او په ختیځ پاکستان کې د شیخ مجیب الرحمان عوامي لیګ وګټل.

بوټو له عوامي لیګ سره په ګډه د حکومت له جوړولو ډډه وکړه چې په پایله کې یې انتخابات لغوه اعلان شول. له دې سره په ختیځ پاکستان کې اړو دور پیل شو چې ورو ورو په کورنۍ جګړه بدل شو.

د پاکستان پوځ د بغاوت پر چوپولو وګومارل شو، د پوځ له ظلم څخه لس لکه تنو هند ته پناه یووړه. هند پر ختیځ پاکستان برید وکړ، په جګړه کې پاکستان د هند له لاسه سخته ماته وخوړه او ختیځ پاکستان د (بنګلادیش) په نامه له پاکستان نه بېل او خپلواک شو. له دې شرمناکې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماتې وروسته په دسمبر کې یحیی خان استعفا وکړه او ځای یې د بهرنیو چارو وزیر ذولفقار علي بوټو ونیو.

په ۱۹۷۳ز کې د نوي اساسي قانون له نفاذ وروسته، چې د ولسمشرۍ کرسي پکې تر ډېره حده تشریفاتي وه، بوټو صدراعظم شو، د کورنیو چارو، بهرنیو چارو او د فاع وزارتونه یې هم له ځان سره وساتل. په راتلونکیو څلورو کلونو کې یې داسلامي سوسیالیزم پالیسۍ غوره کړې، چې کوم خاص بدلون ورسره رانغی، د ده واکمنۍ، چټکه د دیکتاتورۍ بڼه خپلوله، پر حکومت د نیوکو مخه یې ډب کوله، مخالفین یې زندان ته غورځول، د پښتنو او بلوڅو پر خلاف یې له جبر نه ډک اقدامات وکړل. له دې سره یې داسې هڅې هم پیل کړې چې پاکستان یو پیاوړی هیواد شي، په ۱۹۷۴ز کې د هند له لومړۍ اتومي ازموینې وروسته یې د اتومي وسلو جوړول پیل کړل، هغه داسې اقدامات هم وکړل چې په سیاست کې د پوځ رول راکم کړي، جګپوړي پوځیان یې برطرف کړل او د قوماندې نظام یې بدل کړ، د پوځ عمومي قوماندانۍ مقام یې له منځه یووړ. یو له همدې لامله، او بل په بلوچستان کې د ولسي بغاوت د ځپلو لپاره یې د پوځي یونټونو د استولو له لامله پوځ تریې ناراضه شو. په دې موده کې ده هڅه وکړه چې له چین او شوروي اتحاد سره اړیکې تودې کړي او ځان یې له اروپا او امریکا څخه لرې کړ.

د ۱۹۷۷ز په جنوري کې بوټو په دوو میاشتو کې دننه د انتخاباتو د ترسره کولو اعلان وکړ، نهو سیاسي ګوندونو د (پاکستان ملي اتحاد) په نامه اتحاد جوړ کړ، له تاوتریخوالي په ډکو انتخاباتو کې د بوټو خلکو ګوند لویه بریا

(c) ketabton.com: The Digital Library

وګټله، خو د درغلیو او لاسوهنو پېښې را څرګندې شوې، په کراچۍ او نورو ښارونو کې ډېره ناکراري خپره شوه، بوټو پوځي حکومت نافذ کړ او د نا آرامیو د چوپولو لپاره یې پوځ ته بلنه ورکړه، هغه ملي اتحاد ته د امتیازاتو وړاندیز وکړ او غوښتل یې په دې ډول یې آرام کړي. خو (ملي اتحاد) له نویو انتخاباتو پرته پر بل څه له قناعت څخه انکار وکړ.

پوځ چې په هیواد کې له مخ پر زیاتیدونکې ناکرارۍ څخه په اندېښنه کې ؤ، د جنرال ضیاءالحق په مشرۍ یې په جولای میاشت کې انقلاب وکړ او بوټو یې له واکه لرې کړ.

بوټو یې زندان ته واچاوه، په ۱۹۷۴ز کې یې د یوه سیاسي مخالف د وژلو د هڅې په تور محاکمه کړ او د مرګ سزا یې ورته واوروله. راتلونکی کال په اپریل کې یې هغه په دار وځړاوه.

ضیاءالحق یو احساساتي مسلمان ؤ چې د جرایمو په اړه یې اسلامي سزاګانې نافذې کړې، نوموړي د پاکستان له جوړیدو وروسته په هیوادني سیاست کې د مهم رول لرونکیو دوو اسلامي ګوندونو، مسلم لیګ او جماعت اسلامي ملاتړ له ځانه سره درلود.

یو کال وروسته یې د مسلم لیګ او نورو مذهبي ګوندونو له غړیو نه کابینه جوړه کړه، او په ۱۹۷۸ز کې نوموړي د ولسمشرۍ مقام سنبال کړ، د ضیاءالحق د حکومت له جوړیدو سره د کورنیو او بهرنیو چارو په شمول په زیاترو برخو کې د پوځ کنترول بیا ټینګ شو، سیاسي ګوندونه مایوس شول چې په پایله کې مسلم لیګ او جماعت اسلامي د ضیاءالحق له ملاتړ څخه لاس واخیست.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ضیاءالحق ورو ورو یوازې شو، له امریکا او د کارتر له حکومت سره یې د اړیکو خرابوالي وضعه نوره هم خرابه کړه، د کارتر حکومت د پاکستان له اتومي پروګرام څخه اندېښنه درلوده، له همدې لامله یې د پاکستان پوځي مرسته ځنډولې وه، خو د ۱۹۷۹ز په پیل کې د افغانستان د وضعې خرابوالي د امریکا پاملرنه دې هیواد ته ور زیاته کړه. خبریال پټرنائس وینډ د فبروري پر ۲مه په واشنګټن پوسټ کې ولیکل چې پاکستان دغه مهال د افغان حکومت له مخالفو چریکانو سره سره په خلاص مټ مرسته کوله. دوی ته یې د پاکستان د پوځ په پخوانیو پوځي مرکزونو کې د اوسیدو زمینه برابره کړه، کله چې له ضیاءالحق سره اړیکه ونیول شوه او ورته وویل شول چې له افغانستانه د شوروي پوځونو د ایستلو لپاره د لومړۍ جبهې رول ادا کړي، نو هغه له امریکا سره د اړیکو سره کولو لپاره سمدستي له دې فرصت څخه ګټه اوچته کړه، او د امریکا د پرلپسې مرستو بهیر یې باوري کړ.

* * * *

د ولسمشر کارتر له لوري له افغان مجاهدینو سره د پټې مرستې له پرېکړې وروسته، په راتلونکیو میاشتو کې سي آی اې د خپلې پټې څانګې د عملیاتو ریاست (ډي ډي او) تر څارنه لاندې، د خپلو پټو ماموریتونو تفصیلات تنظیم کړل. (ډي ډي او) د ۱۹۶۰ز په لسیزه کې په کیوبا، ویتنام، لاوس، کمبوډیا، انګولا، تبت او نورو ډېرو نورو هیوادونو کې پټ عملیات سرته رسولي وو. په کیوبا او بې آف پګز کې د ماموریت له بربادوونکې ناکامۍ سره سي آی اې ډېره بدنامه شوه. همدغسې په برما کې د قومپالو چینایي

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوځونو سره د ګډ ماموریت له رسوا کیدو سره چې تریاک یې چمتو کول، د سي آی اې شهرت زیانمن شو، ځکه خو پرېکړه وشوه چې له افغانانو سره به د سي آی اې کوم مامور نیغ په نیغه اړیکه نه لري، پلان دا ؤ چې د مسلمانو بنسټپالو پوځ به د شوروي اتحاد پر خلاف د یوې اوږدې او لوړو لګښتونو جګړې لپاره روزل کیږي. د دې لپاره چې په دې جګړه کې پر سي آی اې د ګډون تور پورې نشي پرېکړه وشوه چې، امریکا به د پاکستان پوځ او منصبداران روزي او هغوی به افغان چریکان چې ځانونو ته مجاهدین وایي وروزي او هدایات به ورکوي.

د دې روزنې د زمینې برابرولو لپاره (دې دې او) د امریکا د پوځ د عملیاتو خاص ګروپ، په ځانګړې توګه د خاصو ځواکونو پینځم ځواک (هوایي کوماندو) غړي او د امریکا سمندري ځواک کوماندو ګروپونه (سیلز) پردې خدمت وګومارل شول. دغه یونټونه زیاتره په ویتنام، لاوس، کمبودیا او نورو ځایونو کې د پټو عملیاتو ماهرین او د تجربو خاوندان وو، د روزنې له بشپړولو وروسته به دغه منصبداران بېرته پاکستان ته استول کیدل او هلته په آی اس آی کې شاملیدل. آی اس آی پر ۱۹۷۱ز کې د استخباراتي بیرو د اداري پر ځای جوړ شو. ددې مرکز په اسلام آباد کې ؤ او دندې یې لکه چې له نامه څخه یې څرګنده وه یوازې د پاکستاني پوځ د پوځي استخباراتو اداري له لوري د جاسوسي معلوماتو تر راټولولو پورې محدودې نه وې، ، بلکې له هیواده بهر او په هیواد کې دننه د جاسوسۍ چارې ټولې د دوی په دندو کې شاملې وې. د ځینو رپوټونو له مخې د دې شپږ ځانګې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

1 - مشترک استخباراتي ګروپ(جي آی سېکس) د دې اداري کار د جاسوسي ارزونو او ګواښونو ارزونه چمتو کول، او د آی اس آی یونټونو ته د اداري مرستو رسول دي.

2 - د ګډو استخباراتو بیرو(جي آی بي) دغه داره سیاسي جاسوسي کوي، او درې برخې لري، چې د یوې دنده یې د هند دننه د عملیاتو سرته رسول دي.

3 - د ګډو متقابلو استخباراتو بیرو (جي آی بي) دغه څانګه په منځني ختیځ، جنوبي آسیا او چین کې جاسوسي کوي، او په بهرنیو هیوادونو کې د پاکستان دپلوماتان څاري.

4 - د شمال ګډو استخباراتو څانګه (جي آی اېن) دا په جمو او کشمېر کې پټ عملیات کوي.

5 - د ګډو استخباراتو عضلاتي څانګه (جې آی اېم) دا په اروپا او امریکا کې د جاسوسۍ دنده لري.

6 - د شریکو زیګنالونو استخباراتي مدیریت (جې اس آی بي) دا (سګنټ) عملیات کوي د دې لپاره دوی د هند بریدونو ته څېرمه خپروونکي مرکزونه جوړ کړي دي، پردې سربېره دوی د کشمیر مسلمانو جنګیالیو ته د رادیویي خپرونو اسانتیاوې چمتو کړې دي.

لکه چې په پیل کې مو وویل، آی اس آی تر یوې مودې پورې د افغانستان د حکومت مخالفو جنګیالیو ته وسلې او د وسلو روزنې برابرولې، د شوروي اتحاد له یرغل څخه سمدستي وروسته جنرال ضیاءالحق، ډګر جنرال اختر عبدالرحمان د آی اس آی نوی مشر وټاکه، کله چې ضیاءالحق له هغه څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شوروي له خطر سره د مقابلې په اړه نظر وغوښت، نو ده وړاندیز وکړ چې پاکستان دې افغان جنګیالیو ته هر ډول مرستې ورکړي، پردې به نه یوازې د پاکستان بلکې د ټولې اسلامي نړۍ دفاع وشي، د سي آی اې د مشر په څېر جنرال اختر عبدالرحمان هم داسې احساسوله چې د اوږدې چریکي جګړې لپاره به افغانستان د شوروي اتحاد لپاره ویتنام شي. هغه دا نظر درلود چې پاکستان دې مجاهدینو ته یوازې وسله نه ورکوي، بلکې پوځي روزنه، مسلکي جاسوسي او نورې لارښوونې دې هم ورکړي. د دې موخې لپاره په سرحد ایالت (اوسنی خیبر پښتونخوا) کې باید کمپونه او مرکزونه جوړ شي، چې نه یوازې دوی پکې وروزل شي بلکې له همدې مرکزونو په افغانستان کې پوځي بریدونه هم تنظیم شي.

ضیاء دغه وړاندیزونه ومنل، جنرال اختر عبدالرحمان سمدستي دغه ماموریت د آی اس آی (افغان بیرو) ته وسپاره. د دې اداري دنده دا وه چې د مجاهدینو د عملیاتو څارنه وکړي او دوی ته لوژیستکي مرستې ورسوي. د دې اداري مرکز په اوجړي کمپ کې ؤ چې د راولپنډۍ په شمالي څنډو کې د پوځ لویه اډه ده.

په جګو دیوالونو کې را ایسار په اتیا هکتاره ځمکه کې جوړ شوي دغه کمپ کې دفترونه، د وسلو او پوځي توکیو لویې لویې ډیپوګانې، ګیراجونه چې په هغو کې درې سوه عرادې لاري اونور موټرونه دریدلي وو. د پینځه سوه تنو لپاره د استوګنې خونې او اړتیا وړ شیان، او د روزنې ځای وو.

له ۱۹۸۳ز څخه تر ۱۹۸۸ز پورې ددې بیرو مشر ډګروال یوسف په خپل اثر (د یږې تلک) کې لیکلي چې دې بیرو درې نورې څانګې درلودې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

1 - د عملیاتو څانګه، د جاسوسۍ ماموریت، پلان جوړول، د اهدافو انتخاب او مجاهدینو ته یې د مسوولیتونو ورسپارلو دنده درلوده.

2 - لوژیستیکي څانګه، د وسلو او وسایلو ترلاسه کول او پر مجاهدینو د هغوی د ټاکلو برخو ویشل، د دوی دنده وه.

3 - د رواني جګړې څانګه، په دې څانګه کې په سرحد ایالت کې درې رادیو یې ترانسمیترونه فعال وو، له بیرو سره په پښتور او کوټه، او نورو ښارونو کې (اډې) وې، د آی اس آی یو بل یونټ چې له افغان بیرو څخه ښکل ؤ. د سي آی اې له چمتو کړیو پیسو څخه یې خوراکي مواد او جامې برابرولې او مجاهدینو ته یې رسولې.

* * * *

افغان جهادي غورځنګ چې په اوو لویو ګوندونو ویشل شوی وو، تر ټولو لوی مرکز یې پښتور ؤ، په دوی کې له یوه پرته نور ټول سني ګروپونه وو او د ۱۹۷۸ز له کمونیستي کودتا وروسته جوړ شوي وو (د پښتور ګوندونه ټول سني مذهبه وو، یو ګوند یې هم له شیعه ډلې څخه نه ؤ، همدغسې اسلامي حزب، او جمعیت اسلامي له ۱۹۷۸ز څخه پخوا په افغانستان کې جوړ شوي وو. ژباړن) له اوو څخه څلور ډلې بنسټپالې وې، لومړۍ ډله د حزب اسلامي وه، ډیری پکې پښتانه وو او مشر یې ګلبدین حکمتیار ؤ چې د امریکا او لویدیز سخت مخالف ؤ، بنسټ یې په ۱۹٦۸ز کې اېښودل شوی ؤ، خو په ۱۹۷۹ز کې مولوی یونس خالص تري بېل شو او بېل ګوند یې جوړ کړ چې د افغانستان ختیځ قومونه پکې شامل وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حکمتیار ګروپ تر ټولو لوی او ډېر توندلاری ؤ چې غوښتل یې افغانستان د یوه ګوندیز اسلامي ریاست په بڼه اداره شي، هغه د کرنیزو اصلاحاتو او د ټولو صنعتونو د ملي کیدو پلوی ؤ، دې ګوند له اسلامي نړۍ سره نږدې اړیکې غوښتې او د پوځیانو شمیر یې له ۱۵-۲۰ زرو تنو پورې ؤ، چې له هغو څخه څلور زره تنه دایمي چریکان وو، د حکمتیار د نفوذ سیمه زیاتره جنوب ختیځه سیمه وه، خو په ننګرهار، کندوز، کونړ، لغمان او بغلان کې یې هم بشپړ فعالیتونه وو.

د خالص ګوند هم زیاتره پښتانه وو، هغه هم د اسلامي حکومت پلوی ؤ، خو دا ډېر لبرال او له لویدیځ سره د ښو اړیکو پلوی ؤ، د پوځیانو شمیر یې له ۱۵-۲۰ زرو تنو پورې وو. په دوی کې درې نیم رزه تنه تل وسله وال چریکان وو. د هغه تر ټولو مهم قوماندان جلالدین حقاني ؤ. د خالص نفوذ ساحه په ختیځ کې پر ننګرهار، پکتیا، پکتیکا، او کونړ ولایتونو سربېره د جلال آباد ښار ؤ.

درېیم ګروپ چې غیر پښتانه وو او ټول د بدخشان او پنجشیر درې تاجکان پکې راټول وو، جمعیت اسلامي ؤ چې مشر یې برهان الدین رباني ؤ. هغه د افغانستان په یوه دولتي تعلیمي اداره(کابل پوهنتون) کې د اسلامي قانون استاذ ؤ، نوموړی یو معتدل مسلمان ؤ، د لویدیز په اړه یې دریځ نرم ؤ. د هغه په ګروپ کې زیاتره کسبګر او د تعلیم خاوندان وو، په سیاسي او پوځي اړخ کې دغه ګروپ ډېر منظم ؤ، د جګړې مارو شمېر یې ٦٠زره تنه ؤ، چې له هغو څخه له ۱۲-۱۵زره پور تل وسله وال وو، د هغه د ګوند پوځي قوماندې له احمدشاه مسعود سره وه، چې د فعالیت ساحه یې پنجشیر دره

(c) ketabton.com: The Digital Library

وه. خو په بغلان، بدخشان، کندز، بلخ، سمنګان، کابل، هرات، فاریاب، جوزجان او فراه کې یې هم فعالیت درلود.

ځلورم بنسپال ګروپ اتحاد اسلامي ؤ چې د سعودي عرب ملاتړ ورسره ؤ، د څو سوه کسیزې دغې بنسټپالې ډلې مشر عبدالرب رسول سیاف ؤ، په پیل کې دا د څو ګوندونو اتحاد ؤ، چې بیا هره ډله ېېرته ېېله شوه او د سیاف په مشرۍ اتحاد اسلامي د یوې ځانګړې ډلې په توګه پاتې شو. د دوی د جنګیالیو شمېر له ٦-١٥زره تنو پورې ؤ او د فعالیت سیمې یې زیاتره ننګرهار، پکتیا، پروان او کابل وو.

پاتې نورې ډلې منځلارې او سنت پال بلل کیدل، د ١٩٧٨ز د غوایي له کودتا وروسته په پېښور کې جوړې شوې وې، په دوی کې لومړی ګروپ اسلامي ملي محاذ ؤ چې په ١٩٧٩ز کې جوړ شو او مشر یې پیر ګیلاني ؤ، نوموړی د جلاوطن پاچا ظاهرشاه د قانوني پاچا په توګه د بیا راوستلو پلوی ؤ، د هغه د چریکانو شمېر تر ١٥زرو تنو پورې رسیدل چې ٢زره تنه به یې تل وسله وال وو، په دې ډله کې ډیری پښتانه وو.

بل منځلارۍ ګروپ د ملي نجات جبهه وه چې مرکز یې د هیواد جنوبي ولایات وو، دغه جبهه پر ١٩٧٨ز کې یوه روحاني مشر صبغت الله مجددي جوړه کړه، نوموړی د اسلامي تعلیماتو سره سم د یوه جمهوري نظام راوستلو هڅې کولې، او د اند له اړخه لویدیزپال ؤ، د پوځیانو شمېر یې له ٨-١٥زرو تنو پورې ؤ، چې په کونړ او کندهار کې یې فعالیت درلود.

په منځلارو کې تر ټولو لوی ګروپ حرکت انقلاب اسلامي ؤ، چې پر ١٩٧٨ز کې د ولسي جرګې د پخواني غړي مولوي محمد نبي محمدي لخوا جوړ شو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې ګروپ کې پښتانه او ازبک شامل وو، دغه ګروپ د جمهوري نظام او له نورو هیوادونو سره د بې طرفی پلوی ؤ. د جنګیالیو شمیر یې دیرش زره تنو ته نږدې ؤ چې پر لوګر، غزني، فراه، هرات، او کابل سربېره په پکتیا، هلمند او کندهار کې هم فعال وو. پردې سربېره یو شمېر وړوکي شیعه ډلې هم وې، چې ځینو یې له ایران سره اړیکې درلودې، د هغو لومړی ګروپ حزب الله ؤ، چې له ایران سره یې د افغانستان یووالی غوښت. د دوی د جګړه مارو شمېر ۴۵۰۰تنه ؤ او په لویدیز افغانستان کې فعال ؤ، له ایران سره د اړیکو او یووالي بل ګروپ د سپاه پاسداران ؤ چې مشر یې محسن رضا نومید. هغه د ایران ملاتړ درلود او د غړیو شمېر یې له ۳-۸زرو تنو پورې ؤ. په هرات، هلمند، جوزجان او بامیان کې یې مرکزونه فعال وو.

درېیم شیعه ګروپ د (شورا) ؤ چې مشر یې سید علي بهشتي ؤ، هغه غوښتل چې د افغانستان په مرکزي برخه کې هزاره ګان خود مختاره شي، له خپلو څلورو-اتو زرو جنګیالیو پورې دوی په بلخ، بغلان، بامیان او غزني کې فعال وو. څلورم ګروپ حرکت اسلامي ؤ، دوی هم غوښتل افغانستان بنسټپال اسلامي هیواد شي، شیخ آصف محسني یې مشر ؤ او ۱۲زره چریکان یې درلودل، دوی په بدخشان، بلخ، جوزجان او فاریاب کې فعالیت درلود.

د اوو واړو ګوندونو ترمنځ دهمکاری فضا ډېره پیکه وه، د دوی ترمنځ قبیلوي تړاوونه، د اسلامي عقایدو بېلابېل ډولونه او بېلابېل ټولنیز شالید له یو بل سره د اختلاف ستر لاملونه وو، بیا هم دوی د ۱۹۸۵ز په مې کې یو اتحاد وکړ چې د جګړې تر پایته رسیدو پورې ټینګ پاتې شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اوو واړو ګوندونو په منځ کې خپلمنځي اختلافونه هم وو، او د دوی د مرکز او لویو قوماندانو ترمنځ هم چې ډېر نفوذ یې درلود اړیکې ښې نه وې.

* * * *

د ۱۹۸۰ز په پیل کې د افغان جګړې د جنګیالیو راټولولو لپاره، د (مکتبه الخدمت المجاهدین) په نامه یو تنظیم جوړ شو، دغه تنظیم د سعودي تبعه اسامه بن لادن جوړ کړ چې د یوه لوی ودانیز شرکت د مالک زوی ؤ، اسامه د سعودي عربستان د شاهي کورنۍ ملاتړ هم له ځان سره درلود، د دې تنظیم په جوړولو کې سعودي نژاده د اردن د پوهنتون د شرعي قانون استاذ شیخ عبدالله عزام هم مرسته وکړه، د مکتبه دفترونه په ټوله نړۍ کې پرانیستل شول، اسامه بن لادن په سوډان کې هم څو کمپونه جوړ کړل. داوطلب مجاهدین به یې پخوا تر دې چې د یمن له لارې پاکستان ته ولیږي، په دې کمپونو کې به راټولیدل. پردې سربېره اسامه په ټوله نړۍ کې د مجاهدینو لپاره د بسپنې راټولولو تر ټولو لویه وسیله ؤ. د ګومارلو کار په امریکا کې هم روان ؤ، هلته دا دنده بېلابېلو اسلامي ادارو سرته رسوله. په هغو کې مشهورې، الکفاة الافغان، ربفیوجي سنټر، د برو کلین جهاد سنټر چې په نیویارک کې ؤ، رابطه عالم اسلامي او تبلیغي جماعت غوندې تنظیمونو له دوی سره مالي مرستې کولې.

یو بل تنظیم چې رضا کار مجاهدین یې ګومارل تبلیغي جماعت ؤ، چې د ۱۹۸۰ز د لسیزې په نیمایي کې یې په شمالي افریقا او اروپا کې مجاهدین راټولول، د دې ډلې مشر او بنسټګر یو مبلغ مولانا محمد الیاس ؤ. مرکز یې په پاکستان کې ؤ او څانګې یې بیا په ټوله نړۍ کې فعالې وې، د (سپېڅلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

جګړې) لیکوال جان کولي په اند دوی د مجاهدینو راټولولو او کار له تونس څخه پیل کړ. (تبلیغي جماعت چې مرکز یې د لاهور په رایونډ کې دی، اصولاً د تبلیغ چارو ته زیات ارزښت ورکوي، وسله وال جهاد یې په لومړیتوبونو کې نه دی. ژباړن)

له هغه ځایه یې له تعلیمي مدرسو څخه ۱۶۰تنه مجاهدین د شپږو اونیو مذهبي زده کړو لپاره پاکستان ته واستول. د دې زده کړو له بشپړیدو وروسته یې د آی اس آی له چارواکیو سره د ملاقات زمینه برابره شوه، هغوی اویا تنه ترې انتخاب کړل او د آی اس آی پټو روزنیزو کمپونو ته یې واستول. په الجزایز کې چې د کورنۍ ناکرارۍ سخته څپه حاکمه وه، تبلیغي ډلې له پوځه تښتیدلي درې زره کسان وګومارل، په اروپا کې اخوان المسلمون غوندې توند لارو ګوندونو له دوی سره مرسته وکړه، چې څانګې یې په فرانسه او المان کې خپرې وې.

په ۱۹۸۰ز کې د افغان مجاهدینو د یو موټي کولو هڅې وشوې، په جنوري او فیبروري میاشتو کې د کابل د سترې محکمې د یوه پخواني قاضي محمد عمر ببرکزي په مشرۍ د پښتنو قومي مشرانو یو شمېر غونډې جوړې شوې، د مې پر ۱۱مه یې پېښور ته نږدې یوه پوځي شورا راوبلله، چې په هغو کې د افغانستان له هر ګوټ څخه د پښتنو او غیر پښتنو قومونو ۹۱۶تنو برخه درلوده. تر اوسه پورې پاکستانیانو په تېره آی اس آی او د مجاهدینو اوه ګوني اتحاد د واحد جهادي غورځنګ جوړولو ته لیوالتیا نه درلوده، دغې پوځي شورا چې د افغانستان د ټولو قومونو استازي پکې شامل وو، دا غوښتنه وکړه چې یو سیاسي او د قوماندې مرکز جوړ شي، وروسته به د

(c) ketabton.com: The Digital Library

جلاوطن حکومت جوړیدو ته زمینه برابره شي، د خطر زنګ ووهل شو، پوځي شورا یو سل کسیز قومي کمیسیون جوړ کړ، چې ۵۱غړي یې د ولایاتو دننه استازیو او ۴۹یې په پاکستان کې دننه مشرانو څخه وټاکل چې د اوه ګوني اتحاد له غړیو څخه به غوره کیدل، دوی غوښتنه وکړه چې د جګړې قوماندانان به تر دې وروسته د قومي مشرانو لخوا غوره کیږي، دوی دا غوښتنه هم وکړه چې د شوروي اتحاد د پوځونو له وتلو وروسته به افغانستان یو مرکزي نظام لري، چې قبایلي سیمې به پکې خود مختاره وي، دې جرګې توندلاري نظریات رد کړل او د یوه اسلامي نظام غوښتنه یې وکړه چې فکري او عقیدوي اختلافونه پکې نه وي، او بهرنی پالیسي به یې بې طرفي ساتل وي.

پردې پاکستان ته لویه اندېښنه پیدا شوه، دوی دغه جرګه اوه ګوني اتحاد ته لوی ګوابښ باله، پاکستان غوښتل چې د اوه ګوني اتحاد په واسطه جهادي غورځنګ تیت او پرک وي او په دې ډول د پښتونستان مساله پر سیاسي اجنډا رامطرح نشي، ځکه خو آی اس آی ته دا دنده وسپارل شوه چې په دې جرګه کې اختلافونه راپیدا کړي تر څو جرګه له منځه لاړه شي، دغه مهال هغوی درې منځلارو ګروپونو ته د وسلو او پیسو نه ورکولو ګوابښ وکړ، چې پر همدې ګوابښ هغه درې واړه له جرګې ووتل. د ۱۹۸۰ز په وروستیو کې دغه جرګه نوره ختمه شوې وه، د دې پایله دا وه چې جهادي غورځنګ د جګړې په ټول دوران کې کومه مناسبه تګلاره عملي نکړای شوه، نه یې د کابل د حکومت پر وړاندې کوم اغیزمن سیاسي بدیل وړاندې کړای شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

* * * *

د ۱۹۸۰ز په جنوري کې بریژنسکي پاکستان ته راغی او له جنرال ضیاءالحق سره یې وکتل، ضیاء ټینګار کاوه چې مجاهدینو ته باید وسلې او پیسې د پاکستان له لارې ورسول شی. هغه درې نور شرطونه هم کښښودل، لومړی دا چې بودیجه ورکوونکي ټول هیوادونه باید دغه راز وساتي، که په دې اړه په اخبارونو کې کوم راپور خپریږي دوی یې باید په کلکه رد کړي، دوهم شرط دا چې د مرستې سامان باید ډېر ګړندی پاکستان ته راورسول شي، درېیم یې دا چې هره اونۍ باید دوه ځله د مرستې سامان را ورسیږي.

د امریکا لپاره دغه غوښتنې د منلو وړ وې، ځکه دوی هم غوښتل چې په دې عملیاتو کې باید د دوی د لاس درلودو شواهد ډېر پټ پاتې شي، د مجاهدینو لپاره د وسلو لومړی بار د همدې کال په جنوري کې پاکستان ته ورسید.

بریژنسکي بیا مصر ته لاړ، هلته یې له انورالسادات څخه وغوښتل چې له خپلو پوځي زیرمو څخه روسي ساخت وسلې مجاهدینو ته چمتو کړي، سادات دغه غوښتنه ومنله او څو اونۍ وروسته امریکایي الوتکو کیناس او اسوان مصري هوایي ډګرونو ته الوتنې پیل کړې چې د وسلو بارونه انتقال کړي. دغه وسلې د الوتکو په واسطه پاکستان ته وړل کیدې، هلته به آی اس آی ته سپارل کیدې او د پیښې او جړې کمپ ته به رسول کیدې، له هغه ځایه به پر مجاهدینو ویشل کیدې، روسي وسلې ناقصې وې، ځکه خو پر ۱۹۸۰ز مصر د ۱۹۷۵ز د مهال جوړې کړې کارخانې فعالې کړې، هلته

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې روسي ماډل سپکې وسلې او له ځمکې نه ځمکې ته د لنډ واټن توغندي په ځايي کچه توليد کړل. دا د (عرب آرګنايزيشن فار انډسټريلايزيشن) يعنې د عربو صنعتکارانو تنظيم په نامه د سعودي عربستان، مصر، متحده عربي اماراتو او قطر شريک پروګرام ؤ، چې ۱،۰۴ ملياړد ډالره پانګونه يې پرې کړې وه. د ۱۹۷۹ز په جولای کې دغه پروګرام بند شو، ځکه چې له اسرائيلو سره د مصر د مخ پر زياتيدونکيو اړيکو پر خلاف سعودي عرب، متحده عربي امارت، او قطر د احتجاج په دود له دې ارګان څخه ووتل، تر دې وروسته د امريکا په پانګونه او فني همکاری دغه پروګرام بيا پيل شو، او د ۱۹۸۰ز تر پايه د روسي ماډل وسلو کاپي دلته توليد شوې.

مجاهدينو له ځمکې نه فضا ته داسې ويشتونکيو توغنديو ته اړتيا درلوده چې، يو سړی يې په اوږه ورسره يووړای شي، تر څو د افغان حکومت او شوروي پوځ د هوايي ځواک الوتکې، په تيره هليکوپټرې وويشلای شي، د (سکر)توغنديو په کارخانه کې د (ګريل سام۷) ماډل له ځمکې نه فضا ته ويشتونکي توغندي هم جوړ شول، خو دا او يو ډول چينايي توغندي اغيزمن ثابت نه شول، ځکه چې د ټولو شرايطو پر پوره کولو بيا هم له لسو څخه يوازې يوه هدف ويشتلای شوای. سي آی اې چې د دې توغنديو پر بديل فکر وکړ هغه امريکايي (ريډ آی) نومی توغندی ؤ چې د ۱۹۶۰په لسيزه کې امريکايي پوځ ترې کار واخيست، ځکه خو څو درجنه دغه توغندي پاکستان ته واستول شول. د ۱۹۸۰ز په وروستيو کې چې تجربه کړای شول ډېر بد ناکام ثابت شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د همدې کال په پیل کې د امریکا په بېلابېلو پوځي مرکزونو کې چې، فورات براګ، شمالي کیرولینا او جان ایف کینیډي مرکزونه هم پکې شامل وو، د پاکستاني پوځیانو روزنه پیل شوې وه، په دې کې پي هل بندر او پیلیټ کمپ مرکز هم شامل وو، چې دلته د ترپ او خرپ جګړې او بېرته ستنیدو روزنه ورکول کیده، په ورجینیا کې ولیمز برګ ته نږدې، د سي آی اې اډه (پیري کمپ) هم د روزنې یو مرکز ؤ، دلته د پټو عملیاتو طریقې ور ښودل کیدې.

د پاکستان غوره شویو منصبدرانو ته چې ځینو یې د پاکستان د خاصو ځواکونو، خاص علمیاتي ګروپ(اېس اېس جي) سره تړاو درلود، وسلې، چاودیدونکي مواد، تخریبول، سبوتاژ، مخابراتي اړیکې، روغتیایي مرستې، چریکي جګړه او د دښمن د قوماندانو او مشرانو د وژلو، ښه روزنه ورکړای شوه. په(پیري کمپ) کې دوی ته د جاسوسي معلوماتو راټولول، ساتل، ځوابي جاسوسي، راپور لیکنه، د ایجنټانو او قاصدانو ګومارل او نورو جاسوسي تخنیکونو ځانګړې روزنه ورکړل شوه.

د شوروي اتحاد پر خلاف د اتحاد او یووالي لپاره، د پاکستان او مصر د ملاتړ له تر لاسه کولو وروسته د کارتر حکومت چین ته مخه کړه، له ۱۹۷۱ز څخه چې د امریکا د ملي امنیت سلاکار هنري کیسینجر چین ته پټ سفر کړی ؤ، په پایله کې یې د امریکا ولسمشر نکسن ته د ۱۹۷۲ز په فبروري کې چین ته د رسمي سفر زمینه برابره کړه، د امریکا او چین تر منځ په کرار کرار تفاهم زیاتیده. د ۱۹۸۰ز د جنوري پر ۴مه د امریکا د دفاع وزیر هیرالډبراون، د چین له صدراعظم ډینګ ژیاوپینګ او نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکومتي چارواکيو سره د خبرو اترو لپاره پيکنګ(بېجنګ) ته ورسيد. د هغه هيله د شوروي اتحاد پر خلاف د ملاتړ ترلاسه کول وو، په بدل کې يې چين ته د غوره او خوښ کړای شوي هيواد او يو لړ تيکنالوژيکو همکاريو برابرولو وړانديز ؤ چې ظاهراً په ملکي خدماتو کې کاريږي خو په آسانه په پوځي برخو کې کارول کيدای شي، ډينګ ژياوپېنګ او نورو چينايي چارواکيو د براون وړانديز ومانه، او دې ته چمتو شول چې مجاهدينو ته وسلې برابرې کړي، مجاهدينو ته د وسلو لومړی بار د براون له سفره يوه مياشت وروسته ورسيد، چې امريکايي الوتکو پاکستان ته ورساوه، په دې لومړي او نورو بارونو کې اسالټ ماډل ټوپکونه، ماشيندار، سپک توپونه او مرمۍ شاملې وې، څه موده وروسته راکټ لانچرونه هم د چين لخوا واستول شول.

وروسته دا آوازې خپرې شوې چې تصديق يې هېڅکله هم ونه شو، چې د وسلو بارونه پر ځمکنۍ لاره د سنکيانک له لارې افغانستان ته واستول شول، د سنکيانک وروستۍ څنډه چې ۴ميله سوروره او ۱۲۰ ميله اوږده ده، د افغانستان د واخان له غرنۍ سيمې سره نښتې ده، چې د تاجکستان او کشمير ترمنځ پروت دی. په واخان کې ۳۰۰۰ قرغيزيان قبايل ميشت دي، د ۱۹۸۰ز په پيل کې دوه زرو تنو روسي عسکرو دغه سيمه ونيوله، تر څو مجاهدين د چين له سرحد سره لاره پيدا نه کړي، وروسته بيا شوروي اتحاد واخان له خپلې خاورې سره يو ځای کړ، افغانستان د مسکو د فشارونو له لامله دا په رسمي ډول دوی ته وسپاره. دلته يې په کلاؤ کې ايساري پوځي چونۍ جوړې کړې چې د الوتکو او هليکوپترو د کوزيدو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیمې هم پکې وې، تر دې وروسته شوروي پوځیانو د افغان پوځیانو په مرسته قرغیزیان له دې سیمې پاکستان ته وشړل.

د چین له لوري بله ښکاره کاریدونکې لاره د قراقرم لویه لاره وه، چې سنکیانک له پاکستان سره نښلوي، دا د وړښمو د لارې یوه برخه ده، چې په پخوا زمانو کې یې چین د روم له امپراتورۍ سره نښلولی ؤ او د همدې لپاره جوړه شوې ده. څلور زره میله اوږده دغه لویه لاره د چین د شانسي له مرکز سیان څخه پیلیږي، په شمال لویدیز کې د چین له لوی دیوال سره موازي تللې او د پامیر له غرونو اوړي، له افغانستان څخه تیریږي او د لیونت په لور درومي. د قراقرم د لویې لارې د کارولو په اړه بېلابېل نظرونه دي، ځینې وایي چې وسلې له همدې لارې راتلې، خو ډګروال یوسف بیا وایي چې د قراقرم لویه لاره په لویه کچه د مجاهدینو لپاره د کچرو په واسطه د اکمالاتو لپاره په کار شوه.

د می پر ۲۵مه د چین د صدارعظم مرستیال، او د چین د کمونیست ګوند د پوځي کومیټې منشي ژنګ بیاو، د دوو اونیو لپاره د امریکا په سفر ولاړ، په دې رسمي سفر کې اعلان وشو چې امریکا به پر چین الوتکې او د فضایي دفاع رادار وپلوري، په همدې کال په سپتمبر کې د امریکا یوه پوځي پلاوي بیجنګ ته سفر وکړ، چې له هغو څخه سمدستي وروسته یوه چینایي پلاوي امریکا ته سفر وکړ، د دواړو هیوادونو ترمنځ دغه د ګړندي تفاهم څه پټې نورې ګټې هم وې، چې په هغو کې تر ټولو زیاتې د یادونې وړ د سنکیانک په شمال ختیځ او مابین کې په قطایي او کورلا سیمو کې د دوو (ایلنټ) د څارنې پوستو جوړول هم وو، چې دا په ۱۹۷۹ز کې په ایران کې د څارنې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

له منځه تللیو چوپیو ښه بدیل او جبران ؤ، دغسې پوستې او مرکزونه د شوروي اتحاد دننه د پوځي خوځښتونو او لیږد رالیږد د څارنې لپاره امریکا ته ډېر مهم وو.

د ایران له انقلاب وروسته امریکا په ترکیه کې پر دغسې د څارنې پر پوستو انحصار کاوه، خو پر ۱۹۷۰ز کې پر قبرص د ترکیې د برید له لامله دغسې پوستې د لنډ مهال لپاره بندې کړای شوې، پردې سربېره امریکا پر ترکیه پوځي مرستې هم بندې کړې وې چې پر ۱۹۷۸ز دغه بندیزونه لرې کړای شول، که څه هم د ترکیې د څارنې مرکزونه بېرته پرانیستل شول، خو د هغو زیات دوام شکمن شوی ؤ، په ځانګړې ډول له دې لامله چې ترکیې دغه مرکزونه د مرستو د تر لاسه کولو لپاره فعال کړل، ځکه خو په چین کې د داسې مرکزونو د پرانیستلو اجازه ډېره مهمه وه، په دغو مرکزونو (پوستو) کې امریکا په (سګنت) کې ماهر چینایان وګومارل او هغه به یې د سي آی اې د ساینس او ټکنالوجي د څانګې په لار ښونه چلول، د دواړو موخه یوه وه، یعنې په افغانستان او شوروي اتحاد کې د شوروي پوځونو جاسوسي.

* * * *

مجاهدینو ته له نورو لارو هم د وسلو رسیدل پیل شول، د ۱۹۸۰ز تر پایه، په دې کې هغه وسلې هم شاملې وې، چې د پېښور په شاوخوا کې د روس، پولنډ او نورو هیوادونو وسلو ته ورته جوړیدې. (د آدم خېلو دره د دغه ډول وسلو جوړولو مرکز ؤ، او دوی په دومره مهارت دغه کار کاوه چې نابلده سړي ته د اصیل او کچه توپیر ګران ؤ. ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې کچه وسلو کې آن د روسي سام ۷ډوله توغندي هم شامل وو چې له اوږې ویشتل کیږي، که څه هم دا د مصري او چینایي توغندیو په څېر لږ اغیزمن وو، یوه بله سرچینه په افغانستان کې پخپله یرغلګر روسي پوځونه وو، په کابل کې د ۴۰مې فرقې په قرارګاه کې د لوژیستیکي خدماتو یوه منصبدار نیغ په نیغه پر مجاهدینو وسلې پلورلې.(د وسلو پلورل په روسي عسکرو کې ډېر عام وو، دوی معمولاً په چرسو او نورو نیشه یي توکیو، په جاپاني ګړیو او نورو شیانو په بدل کې وسلې او کارتوس پلورل. ژباړن)

په ۱۹۸۳ز کې د روسیې جوړو شویو وسلو ډېر بارونه، له امریکا نه پاکستان ته روان شول، دغه وسله له اسرائیلو څخه پیرل شوې وه، هغوی له لبنان څخه د فلسطین د آزادۍ سازمان د ایستلو پر وخت لاسته راوړې وه، دغه وسله د اسرائیلو په کار نه وه، ځکه چې دوی یا امریکایي وسلې کارولې او یا یې پخپله جوړولې. اسرائیلو دغه وسلې امریکا ته د F4 الوتکو او نورو وسلو په بدل کې ورکړې، د امریکا په دفاع وزارت کې د نړیوال امنیت د برخې، نږدې ختیځ، افریقا او جنوبي آسیا لپاره مرستیال، تورنجنرال ریچارډ سیکارډ، د وسلو د تبادلې د پروګرام مسوول وټاکل شو، وسله به له لبنان څخه د شمالي کیرولینا ولمنګټن ته استول کیده، له هغه ځایه د سرک له لارې په تکزاس کې د سي آی اې یوه پټ ګودام ته رسیدله، وروسته به ترمیم او معاینه کیدله، سریال نومرې به یې ترې پاکیدلې، ځینې وسلې به سي آی اې د خپل استعمال لپاره پرېښودې، نورې به یې یوه برخه د منځنۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

امریکا د نیکاراګوا کونټرا یاغیانو ته استولې او بله به یې پاکستان ته لیږلې چې آی اس آی ته ورسیږي.

د وسلو له دې بارونو پرته، چې له امریکا او یا سعودي څخه به د پاکستان په چکلاله هوایي ډګر کې راښکته کیدل، نوره ټوله وسله د سمندر له لارې د کراچۍ بندر ته راتله، له هغه ځایه به د وسله والو ساتونکیو لخوا په ریل ګاډي کې د آی اس آی په مرکز کې او جړي کمپ ته راتله، ځینې وختونه به یوه برخه نیغ په نیغه کوټې ته استول کیده، راولپنډۍ ته له رسیدو وروسته به دغه وسله د آی اس آی په ښاري لاریو کې باریدله او پېښور ته به وړل کیده او د مجاهدینو د بېلابېلو ډلو ګودامونو ته به رسیدله، له دغو ګودامونو څخه به بیا منظمه په ټرکونو کې باریدله په قبایلي سیمو کې د مجاهدینو مرکزونو ته به رسول کیده.

له دې ځایه به مجاهدینو دغه وسلې په کچرو او یابوګانو بارولې او د افغانستان دننه مرکزونو ته به یې رسولې، افغانستان ته د تلو لپاره معمولاً شپږ لارې کارول کیدې. تر ټولو شمال لوري ته لاره یوازې له جون څخه تر اکتوبر میاشتې پورې کارول کیدای شوای، نورې اته میاشتې به د واورو اوریدو له لامله تړلې وه، دغه لاره له چترال نه پیل شوې او له هندوکش نه تېرېده پنجشېر درې، فیض آباد او د افغانستان شمال ته تللې وه.

تر ټولو زیاته د تګ راتګ لاره له پاړه چناره پیل کیده تر برید پورې غاړه له علي خېلو تېریده او د لوګر ختیځ ولایت ته تللې وه. هلته په دوو لارو ویشل کیده، یوه کابل او بله د شمال له غرونو تېره شوې وه او د مزار شریف

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر دښتو پورې غځيدلې وه. يوه بله لاره له ميرانشاه نه د ژورې له لارې هم لوګر ته تللې وه او هم له هغه ځايه غزني او جنوبي ولايتونو ته تېره وه.

د بلوچستان مرکز کوټه د ځلورمې لارې پيل ؤ، چې له چمن نه تېريدله، په شمال لويديز دښتو کې تېريده، کندهار او ورسره اړوندو نورو ولاياتو ته تېره شوې وه، پينځمه لاره له هغه ځايه ۲۵۰ ميله لويديز ته د هلمند ولايت په برید کې د ګردي ځنګل له اډې څخه پيلېده، نيمروز، فراه او هرات ته تللې وه، ځکه خو دلته د کچرو پر ځای په لاريو کې وسلې وړل کيدې، ځکه چې له هوايي بريدونو څخه د ژغورنې لپاره دې ته اړتيا وه چې ګړندۍ لاره لنډه شي.

شپږمه لاره تر ټولو اوږده وه، کاروانونو به د بلوچستان په سرحد کې مزل کاوه او د ايران له پولې به تېرېدل، هلته به يې د ايران او افغانستان پر برید مزله ته دوام ورکاوه او د افغانستان لويديزو ولايتو ته رسيدل، له هغه ځايه دغه لاره هم په دوو لارو ويشل کيده.

په پاکستان کې له هستوګنو اوو ګوندونو څخه د پاکستان او آی اس آی ډېر د خوښې ګوند د ګلبدين حکمتيار په مشرۍ حزب اسلامي ؤ، دې ګوند ته د سي آی اې د وسلو او پيسو نيمايي برخه رسيدله، ډګروال يوسف په خپل اثر (د يږې تلک) کې دا منلې ده چې ۷۳ سلنه وسلې او مرستې ځلورو بنسټپالو ګوندونو ته ورکول کيدې، پردې سي آی اې ناراضه وه، ځکه چې دوی د پير ګيلاني په مشرۍ ملي اسلامي محاذ او د صبغت الله مجددي، نجات جبهه سنټپال او منځلاري ګوندونه خوښول، خو د دې نا اندولۍ د مخنيوي هيڅ هڅه هم ونه شوه، ځکه چې پاکستان ته د وسلو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویش واک ورکړای شوی ؤ. د ډګروال یوسف په قول آی اس آی وسلې سوچه پردې بنسټ وېشلې چې بنسټپال ګوندونه په پوځي ډګر کې ډېر فعال وو، خو نور سیاسي شناندي او د وضعې عیني شاهدان بیا په دې نظر دي چې د سي آی اې دغه مرستې پر څلورو بنسټپالو ګوندونو، یوازې د آی اس آی او جنرال ضیاءالحق د سیاسي اجنډا له مخې ویشل کیدې.

* * * *

د ډګروال یوسف په قول، د ۱۹۸۰ز په نیمایي کې آی اس آی د مجاهدینو د پوځي روزنې لپاره دوه کمپونه جوړ کړل، په یوه کې د دوه سوه تنو د اوسیدو زمینه وه، یو په پېښور کې او بل کوټې ته نږدې ؤ. دواړه کمپونه په پټ ځای کې وو چې چریکان به د شپې په تیاره کې هلته راوستل کیدل، دلته د آی اس آی هغه مامورین ګومارل شوي وو چې په امریکا کې یې روزنه لیدلې وه. په دې کمپونو کې معمولاً د دوو دوو اونیو لپاره د بېلابېلو وسلو روزنه ورکول کیده، په دې کې د بېلابېلو توپونو، د زغره والو وسایلو او الوتکو د ویشتلو د وسلو کارول، تخریب کاري، چې د نل لیکې، د بریښنایي مزیو او پلونو غورځول، د ماینونو اېښودل او د هغو د پاکولو طریقي زده کول شامل وو.

د مجاهدینو روزل ډېر ستونزمن کار ؤ، ځکه چې یوه ګروپ هم نه غوښتل چې د بل ګروپ د مجاهدینو سره په ګډه زده کړې وکړي، پردې سربېره جهادي قوماندانانو د خپلې اړتیا او خوښې وړ روزنې غوښتنه کوله، د دې کمپونو د راز ساتل هم یوه مساله وه، ځکه چې په کمپ کې به د ډېرو غړونه اوریدل کیدل، او تر یو ځل زیات کمپونه بل ځای ته ولیږدول شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د راتلونکیو کلونو په بهیر کې آی اس آی روزنیزې آسانتیاوې دومره پراخه کړې، چې د ۱۹۸۴ز کال په اوږدو کې یې په یوه میاشت کې زر تنه چریکانو ته روزنه ورکوله، د لازیاتو وسایلو د لاسته راوړلو له لامله یې په ۱۹۸۵ز کې ۱۷ نیم زره چریکان او په ۱۹۸٦ز کې یې ۱۹ زره چریکان وروزل، په ۱۹۷۸ز کې یې د روزنې د کمپونو شمېر ۷ته رسیدلی ؤ، څلور یې د پېښور په سیمه کې او درې یې د کوټې په اطرافو کې وو. تر ۱۹۸۸ز پورې ۸۸زره تنو مجاهدینو دغه روزنه تر لاسه کړې وه.

په ۱۹۸۱ز کې او تر دې وروسته، آی اس آی په جګړه کې د زیات رول درلودو هڅې پیل کړې، دوی افغانستان ته د درې کسیزو عملیاتي ګروپونو استول پیل کړل. معمولاً به یې د کوم پوځي منصبدار په مشرۍ ګروپ ته د ځانګړې ماموریت سرته رسولو دنده ورسپارله. قوماندان به د مجاهدینو یو ګروپ غوره کاوه چې د ټیم تر څارنې لاندې به روزل کیدل، بیا به یې ماموریت ته استول. دې ګروپونو به هماغه رول ادا کاوه چې په عمان کې د امریکا د خاصو ځواکونو (اس اې اس) غوندې له لورې استول شویو (بي اي ټي ټي) ټیمونو ادا کاوه، د مجاهدینو په څېره کې دې ټیمونو تر څو اونیو پورې روان ماموریت سرته رساوه، په دې موده کې به د دوی اړیکې له مرکز سره شلېدلې وې. ځکه چې د مخابروي اړیکې له لامله دښمن د دوی د فعالیت له ځای او سمت څخه خبر نه شي، دوی ته یې مخابرې هم نه ورکولې، تر ۱۹۴۸ز پورې، آی اس آی ۷ټیمونه د کابل سیمې ته، دوه د بګرام هوایي ډګر ته او دوه په جلال آباد کې وګومارل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له پیله د مجاهدینو د مرستې دغه ټول لګښتونه په ډراماتیک ډول زیاتیدل، د ۱۹۸۰ز په بهیر کې بودیجه سي آی اې چمتو کوله چې ۳۰ ملیونه ډالره یې کانګرس ورته منظور کړل، پردې سربېره سعودي عرب او له نورو لارو یې ۴۵ ملیون ډالره تر لاسه کړل، راتلونکی کال یوازې د سي آی اې برخه ۵۰ ملیون ډالره شوې وه.

د ۱۹۸۱ز په پیل کې رونالډ ریګان د امریکا ولسمشر شو، د هغه د سي آی اې مشر ویلم کیسي ؤ چې د جګړې پر مهال یې له سي آی اې څخه په مخکینۍ اداره د ستراتژیکو خدماتو دفتر(او اس اس) کې خدمتونه کړي وو.

د خپل پخواني مشر په څېر ویلیم کیسي نه کومې اندېښنې درلودې او نه کومه ویره، ځکه خو یې د دندې له پیل سره، عملیات او د غوره وسلو او سامان استولو د پراختیا هڅې پیل کړې. د ۱۹۸۱ز د اپریل په میاشت کې یې د سعودي د مرستو د زیاتولو په منظور دې هیواد ته سفر وکړ، هغه د ولسمشر ریګان لخوا سعودي ته د پرمختللي رادارسیستم کشفي او کنترول (آواکس) الوتکو د پلورلو وړاندیز وکړ، او د دوی زړه نا زړه توب یې ختم کړ. د دې کال په پای کې د ۸۱-۱۹۸۲ز مودې لپاره یې د سعودي عربستان د مرستې اندازه ۸۰ ملیون ډالرو ته ورسوله.

د افغان ماموریت په اړه د کیسي په جذبو او احساساتو کې یو شمیر امریکایي سیاستوال هم شریک وو چې هغوی ځانونه د مجاهدینو او افغان پټې جګړې د ملاتړ لپاره وقف کړي وو. په دوی کې جمهوریت غوښتونکی سناتور ګورډن همفري، په کانګرس کې د دیموکراتیک ګوند غړی چارلس

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولسن او د جمهوریت غوښتونکیو د کانګرس غړي ډیویډ ډرېیر او بل مک کولم شامل وو.

په ۱۹۸۴ز کې ولسن چې پردې یې اعتراف کړی ؤ چې پرده له روسانو څخه په ویتنام کې د ۵۸زره تنو امریکایانو د وژلو د کسات جنون سپور دی، له کیسي سره یې نږدې اړیکې ټینګې کړې، دواړو په ګډه د افغانستان په عملیاتو او جګړو کې برخه درلوده، د همدې کال په اوږدو کې هغه د کانګرس د بودیجې د ټاکلو په کومیټه کې چې دی یې هم غړی ؤ، دا کمپاین وچلاوه چې د افغانستان لپاره په بودیجه کې ۴۰ ملیون ډالره زیات شي، دغه پیسې به د دفاع وزارت له (تورې بودیجې) څخه ورکول کیدې، چې د پټو ماموریتونو لپاره به پیسې تړې ځانګړې کیدې. د افغان جګړې لپاره چې کومې پیسې بېلې شوې، د هغو شمېر او حساب او کتاب نشته، خو د حجم اټکل یې له دې حقیقت څخه کولای شو چې د (تورې بودیجې) کلنۍ پیسې چې تر ۱۹۸۰ز کال پورې تر ټولو زیات ۹ ملیارډه ډالره ؤ پر ۱۹۸۱ز او له هغه وروسته دغه بودجه ټوله ۳۶ملیارد ډالره ته ورسیده.

د وسلو په څېر د آی اس آی تر څارنې لاندې، او د عربي هیوادونو څخه تر لاسه کیدونکې مرستې هم لویه برخه هغو ځلورو بنسټپالو ډلو ته ورکول کیدې، د سعودي عرب زیاتې مرستې د اتحاد اسلامي په مشرۍ عبدالرب رسول سیاف ته ورکول کیدې.

* * * *

د وسلو د پیرلو لپاره د پیسو پر برابرولو سربېره، سي آی اې، آی اس آی ته میاشت پر میاشت نورې پیسې هم ورکولې، د مجاهدینو هرې ډلې ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی د کمپونو او مرکزونو د اداړې او انتظام نه پرته، د دوی د مامورینو تنخواوې، د ډیپوګانو لګښتونه، او د آی اس آی لخوا به چې کوم د اړتیا وړ سامان چمتو نه شو مثلاً جامې، خوراکي شیان او وسلې، د هغو د پیرلو لپاره او له مرکز نه سرحدي سیمو او دننه افغانستان ته د وسلو او نورو وسایلو د لیږدولو لپاره چې کومو پیسو ته اړتیا وه، هغه له دې پیسو څخه ورکول کیدې. د وسلو لیږدولو تر ټولو ډېر لګښت درلود، ځکه چې د موټرو چمتو کوونکیو قراردادیانو غوښتل چې هر څومره وکولای شي زیاتې پیسې لاسته راوړي. د ډګروال یوسف په قول تر مزار شریف پورې د یوه ۷۵ ملي متري توپ لیږدولو تر ۱۱ سوه ډالره لګښت درلوده چې د هرې مرمۍ لپاره یې ۶۵ ډالره کرایه ادا کیدله. ځکه خو یوازې د دې لیږدولو میاشتنی لګښت ۱۵ لکه ډالره ؤ، پردې لګښتونو سربېره د نړۍ له هر ګوټ څخه نړیوالو سازمانونو او مسلمانو وګړو هم له دغو څلورو بنسټپالو ګوندونو سره بسپنې کولې، چې دغه بهیر د آی اس آی له امتیازي چلن سره په ګډه د منځلارو ګوندونو د کمزورۍ سبب کیدو، دوی د خپلې بې وسۍ له لامله لوی پوځي عملیات نشوای کولای، په دې ډول آی اس آی، د سي آی اې په وړاندې، د بنسټ پالو ډلو په زیات اکمال کې حق په جانب ښکاریدو.

پر ۱۹۸۷ز کې چې کله د مجاهدینو لپاره د نړیوالو مرستو اندازه د میاشتې ۶۳۰ ملیون ډالرو ته ورسیده، امریکا ته شک پیدا شو چې په دې وسلو او پیسو کې خورد او بُرد کیږي، په دې لړ کې ګوته هغو لوریو ته ونیول شوه چې په پاکستان کې د مجاهدینو د اکمالاتو مسوولیت هغوی ته سپارل شوی ؤ، په ځینو راپورونو کې دا تور لګول شوی دی چې د اکمالاتو له ۸۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر ۸۵ سلنه پورې برخه پاکستانی منصبدارانو خوړلې دي. پر همدغه کال د فبروري په پای کې له پنسلوانیا څخه د دیموکراتیک ګوند غړي ویلم ایچ ګیري غوښتنه وکړه چې د امریکا د عمومي احتساب اداره (جي اې او) دې، د دې پلټنه وکړي چې د سي آی اې له لوري مجاهدینو ته په پټو مرستو کې خو به درغلي او خیانت نه کیږي. دې ادارې پلټنې پیل کړې، خو سي آی اې او د کانګرس د استخباراتو کومیټې د خپلو دوسیو له سپړلو څخه انکار وکړ، چې له همدې لامله دغه پلټنې هم ودرول شوې.

جیمز جي شاوټ، چې دوه ځله یې افغانستان ته سفرونه کړي دي، د پیر ګیلاني د ګوند له مجاهدینو سره یې څو میاشتې تېرې کړې دي. نوموړی وایي چې د دې ډلې او نورو ډلو مهمو غړیو دا شکایت درلود چې د پاکستان چارواکي له دغو مرستو څخه خورد او بُرد کوي، د (سپیشل فورس) رسالې د اګسټ په ګنه شارټ په خپل مضمون کې ولیکل چې ده د امریکا له لوري مجاهدینو ته د مرستې ټوکر او نور سامانونه د پېښور په دوکانونو کې لیدلي دي چې پلورل کیدل، هغه مهال دغه کیسه ډېره عامه وه چې کوم مجاهد به له روغتون نه ناروغ راستون شو، نو ورته ویل به یې چې پاکستانیانو یوازې دده جیب نه دی وهلی، بلکې د ده روغتیا یې هم تړې غلا کړې ده. (د افغان جهاد پر پیسو نه یوازې دا چې د پاکستان پوځ په نویو وسلو سنبال شو، او دغه هېواد ببسارې پرمختګ وکړ بلکې وروسته معلومه شوه چې د پاکستان جنرالان تر ټولو ډېرې شتمنۍ او لوی کاروبار لري. د جنرال اختر عبدالرحمن او جنرال ضیاءالحق د زامنو شتمنۍ او جایداد یې ببلګې دي. ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر امریکا سربېره برتانیې هم له افغان جګړې سره دلچسپي درلوده، دوی له هغو معتدلو ګروپونو سره مرسته کوله چې د پخواني پاچا ظاهرشاه ېبرته راستنیدل یې غوښتل، په هغو کې څرګند نوم د پیر ګیلاني ملي محاذ ؤ، چې د پوځ مشر یې ډګر جنرال رحمت الله صافی ؤ. د پروان ولایت اوسیدونکی رحمت الله صافی په افغان پوځ کې له شاملیدو مخکې د کابل په حربي پوهنتون کې زده کړې کړې وې. په ۱۹۵٦ز کې یې هغه شوروي اتحاد ته واستاوه، هلته یې درې کاله په غرنۍ سیمه کې د چریکي جګړې زده کړې وکړې، افغانستان ته چې ېبرته راستون شو نو ۳۰م غرنی غوند یې جوړ کړ، پر ۱۹٦۸ز کې یې امریکا ته د زده کړو لپاره واستاوه، له ۱۹۷۰-۱۹۷۳ز کې یې چې دی د ډګرمن رتبې ته رسیدلی ؤ، په برتانیه کې یې د ۲۲ اس اې اس په ځواک کې روزنه ترلاسه کړه، چې ېبرته ستون شو ۴۴۴م خاصو ځواکونو قطعه یې جوړه کړه، چې تر ۱۹۷۸ز پورې د کمونیستي کودتا تر مهاله د همدې قطعې قوماندان ؤ، له کمونیستي کودتا وروسته بندي شو او نښه عذابونه یې ورکړل. له درې نیم کاله زندان وروسته یې په کور کې نظر بند کړ، وروسته بیا له افغانستانه وتښتید او ایټالیا ته لاړ. پر ۱۹۸۰ز د پیر ګیلاني په غوښتنه پاکستان ته راغی او د شوروي پوځ پر خلاف یې وسله راپورته کړه.

* * * *

د ۱۹۸۰ز په پیل کې د برتانیې د پټو استخباراتو اداري اس آی اس(اوسنۍ MI6) هم له سي آی اې سره مرسته پیل کړه، په دې اړه (د ارواو ځواک) لیکوال کین کارنر یوه حواله ورکړې ده، چې ایس آی ایس دوه پخواني

(c) ketabton.com: The Digital Library

جاسوسان وګومارل، او د شوروي اتحاد پر یوه هوایي ډګر یې د برید لپاره چمتو کړل. دوی یې بیا د سي آی اې له چارواکیو سره معرفي کړل، پر هوایي ډګر د میګ۲۱ ډوله ۲۴ وزره الوتکو تصویر یې ور وښود. دواړو دوې ورځې وروسته د مجاهدینو یوه ګروپ ته د برید لپاره پلان جوړ کړ او ور یې کړ، چې د پلان له مخې مجاهدین هوایي ډګر ته ننوتل او د هرې الوتکې په لکۍ یې چاودیدونکي مواد وټړل او وایې لوزولې.

تر دې وړاندې کال اېس آی اېس یو ټیم د جمعیت اسلامي د مجاهدینو د روزلو لپاره افغانستان ته واستاوه، لومړی په پام کې وه چې دغه روزنه په پاکستان کې ورکړي. خو په ۱۹۸۲ز کې یې دغه کار په افغانستان کې دننه پیل کړ، د همدغسې یوه روزنیز ماموریت له ترسره کولو وروسته دغه ټیم ښېرته راستنیدو چې د کابل په شمال کې د روسانو یوه ۹۰۰ کسیز غوندۍ پرې برید پیل کړ، دغو پوځیانو د مجاهدینو جامې اغوستې وې چې دا په څرنګوالي کې نوې پېښه وه. د دې ټیم پر وسایلو بار کچرې مړې شوې او ټول سامان یې د روسانو په لاس ورغی، خو د ایس آی ایس کسان په ټېښته بریالي شول، روسانو د دوی له سامانونو نه د دوی پاسپورټونه راوکښل او په خبري کنفرانس کې یې دا ثبوتونه وړاندې کړل چې برتانیه هم په افغان جګړه کې ښکیل ده.

له دې لامله چې کومې لانجې او پریشانۍ پیدا شوې، په پایله کې دروزنې دغه پروګرام برتانیې ته ولیږدول شو.

پر ۱۹۸۳ز کې د احمد شاه مسعود د سر ګروپانو یوه ډله له پاکستان نه برتانیې ته واستول شوه، هلته یې د یوې سوداګریزې امنیتي کمپنۍ د

(c) ketabton.com: The Digital Library

اداري تر اهتمام لاندې څو اونۍ پوځي روزنه تېره کړه. دغه کمپنۍ په جرسي جزیرو کې راجستر وه او دفترونه یې د لندن په لویدیځه برخه (کېنسېنګټن) کې وو، عمله او مامورین یې د برتانیې د پخواني خاص ګروپ منصبداران وو، د دې کمپنۍ درې تنو روزونکیو د افغانستان لپاره د ۱۲ میاشتو روزنیز پروګرام لپاره ۱۶۰ زره پونډه وغوښتل. دغه اداره له لسو کلونو راهیسې فعاله وه، په دې موده کې دوی د جنوبي امریکا، منځني ختیځ او جنوب ختیځې آسیا چریکي ګروپونه او خاص ځواکونه روزل. په برتانیه کې د جمعیت اسلامي سرګروپانو ته په شمالي انګلنډ او سکاټلنډ په درې ځایونو کې په بېلابېلو برخو کې د مهارت ترلاسه کولو روزنه ورکړای شوه.

د افغانستان د مرکز لویدیزو سیمو چریکانو له ایران څخه مرستې ترلاسه کولې، د ۱۹۸۵ز د جولای میاشتې کې د سي آی اې په یوه خپاره شوي راپور کې ویل شوي چې ایراني ملایان د ۱۹۷۹ز له اسلامي انقلاب وروسته هزاره جات سیمې ته ننوتلي وو.

د ۱۹۸۰ز له پیله د ۱۹۸۲ ترپایه ایرانیانو هڅه وکړه چې په پاکستان کې د مجاهدینو له سني ګروپونو څخه هم ځینې ورسره ملګري کړي، هغوی ته یې یوه اندازه سپکې وسلې، یو ډول ټوپکونه، سپک توغندي، ماینونه او جامې ورکړې. په دغو ګروپونو کې د یادونې وړ د حکمتیار په مشرۍ د حزب اسلامي ګوند ؤ. خو د ۱۹۸۳ز په نیمایي کې ایران د پېښور له اوو ګوندونو سره اړیکې وشلولې. ټول پام یې د افغانستان مرکزي او لویدیزو برخو د ګروپونو پیاوړتیا ته ور واړاوه. له حرکت اسلامي او نورو ګروپونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره د دوی ملاتړ بالاخره د دې سبب شو چې ګوندي شخړې رامنځته شي، چې په هغو کې په لوی شمېر چریکي قوماندانان ووژل شول او په مرکزي او لویدیز افغانستان کې د جهاد ډلې کمرزوې شوې. د ایران زیاته برخه مرستې سپاه پاسداران او حزب الله ډلو ته رسیدې، خو د ایران او عراق ترمنځ د جګړې له لامله د دې وسلو د مرستو لړۍ محدوده شوه.

د ۱۹۸۱ز له پیله تر وروسته کلونو پورې د شیعه جهادي ډلو انتخابي ګرپونو روزنه د ایران په بېلابېلو ځایونو کې روانه وه، په دې کې تر ټولو مهم روزنیز مزکز د تهران په شمال کې منظریه پارک مرکز ؤ، دلته د شمالي کوریا او سوریې روزونکیو د ایران پاسداران انقلاب، او پر هغوی سرېږه د منځني ختیځ او شمالي افریقا ترهګرو ته روزنه ورکول کیده. دوی به وروسته له دې ځایه لبنان ته استول کیدل، بل مرکز قم ته نږدې (ارم پارک) او درېیم له تهران څخه ختیځ لوري ته ۴۰۰ میله لرې د ګورګان په میدان کې او څلورم یې له تهران څخه ۶۰۰ مېله ختیځ لوري ته په (وکیل آباد) کې ؤ.

* * * *

د ۱۹۸۰ز په پیل کې اېس آی اېس(اوسنۍ اېم آی ٦) یو درې کسیز ټیم له مجاهدینو سره افغانستان ته واستاوه چې د مجاهدینو لخوا د راغورځول شوې ایم آی ۲۴ ځرخې څو مهمې پرزې یې ترلاسه کړې، دغه درې واړه د اېس آی اېس کرایي غړي، پخواني پوځي ماهرین وو، د مجاهدینو په مرسته دغو کسانو له ځرخې نه د پام وړ پرزې را وایستلې او بېرته راستنیدل چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوې نورې څرخۍ راغلې، له هغو نه کسان راکوز شول پر لویدلې هلیکوپټره یې باروت وټړل او چاودنه یې ورکړه.

د ۱۹۸۳ز په اکتوبر کې کابل حکومت د روسانو په مرسته د لویدیزو هیوادونو پر لاسوهنو د احتجاج په دود پر ملګرو ملتونو سختې نیوکې وکړې. له دې سره جوخت یې د یوه دیرش کلن برتانوي ستوارټ براډمین تصویر خپور کړ او د هغه په اړه یې دا دعوه وکړه چې د جولای پر لومړۍ په یوه جګړه کې ووژل شو، له جامو څخه یې یوه موترولا یو آر سي ۱۰ سټلایټ مخابره، برتانوي پاسپورټ، نړیوال د موټر چلولو لایسنس او ځینې نور اسناد راووتل، له هغو څخه معلومیدله چې نوموړی په لندن کې د خلیج د ځانګړې سازمان مامور ؤ، او له ده سره درې نور کسان، ټام، کرس او فل هم د ده لیدو ته راتلل. د اکتوبر پر ۵مه د شوروي اتحاد د مخابروي اړیکو جاسوسي کوونکیو پاکستاني مسوولینو د شپږو برتانویانو د نیولو خبر ترلاسه کړ. د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت په قول په دغو نیول شویو کسانو کې بورډمین، د هغه درې تنه ملګري او دوه نور کسان راډرک او سټیفن شامل وو، په دوی کې دوه تنه د ۲۲ اېس اې اېس، د هیرفورډ اډې مامورین وو. له دوی نه پلټنې وشوې او دواړو پردې اعتراف وکړ چې په پاکستان او افغانستان کې یې فعالیت کاوه.

د انګلستان د بهرنیو چارو وزارت د دغو شپږو برتانویانو په اړه له معلوماتو ورکولو څخه انکار وکړ، په دې موده کې د رسنیو له پلټنو څخه معلومه شوه چې په برتانیه کې د سټیوارټ بورډمین په نامه یوازینی سړی په (سري) سیمه کې شته او هغه تر اوسه هیڅکله هم د باندې سفر نه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړی، د روسانو په برید کې د وژل شوي بورډمین اصلي نوم او پیژندنه تر اوسه ونه شوه، افغانستان دعوه وکړه چې د دغه پینځه کسیز ګروپ موخه د ځیړنو لپاره د روسي وسلو لاسته راوړل وو چې امریکا او بریتانیا ته یې واستوي.

سي آی اې هم د روسي وسلې په اړه له دې فرصت څخه ګټه واخیسته، دغه مهال سي آی اې په شوروي اتحاد کې یو شمېر ارزښتمن انساني جاسوسان درلودل چې د شته او تر لاس لاندې سیستمونو د پلانونو، او تجربو د حساب کتاب په شمول یې، نیغ په نیغه معلومات ورکول. له هغوی څخه یو اې جي ټولکاچیف د مسکو د ایروناټیکل انسټیټیوټ غړی او بل تن د هند د حکومت یو منصبدار ؤ چې، د شوروي اتحاد له لوري یې، هند ته د جوړوونکیو دافغ هوا وسلو په اړه معلومات ورکول. خو سي آی اې د ځیړنې لپاره حقیقي وسلو ته اړتیا درلوده، ځکه خو یې یو ډېر پټ او خطرناک عملیات ترسره کړ، چې شفري نوم یې (اس او وي اېم او ټي) کېښود، ډېر ځله سپکې وسلې د روسانو له وژل شویو مړیو سره ترلاسه کیدې، نور ډولونه وسایل او وسلې نیغ په نیغه مجاهدنیو له خاینو روسي منصبدرانو څخه پیرلې، په هغو کې د لایزر وړانګې هم شاملې وې، چې روسي الوتکو د مجاهدینو له سام توغندیو نه د ژغورنې لپاره کارولې، ډېرې لویې وسلې چې په هغو کې زره پوښونه او په الوتکو کې نصب رادار شامل وو. له سي آی اې سره له نړیوالو شبکو سره اړوندو کاروباري کمپنیو، د ختیځ بلاک د وسلو له سوداګرو او ځینې وختونه له حکومتي ادارو څخه پېرلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو سي آی اې ته تر ټولو لویه تحفه آی اس آی وړاندې کړه، آی اس آی غوښتل یوه روغه او ثابته میګ ۲۴ الوتکه چې تجارتي نوم یې میګ ۳۵ ورکړی ؤ، لاسته راوړي خو د دې ماډل الوتکې افغان پیلوټ، د آی اس آی هیڅ وړاندیز هم ونه مانه، چې بیا د آی اس آی د افغان بیرو مشر ډګروال یوسف، د اوو ګوندونو مشران له خپلې اړتیا خبر کړل. ډېر زر له کابل سره اړیکې ټینګې شوې او لږ موده وروسته د ۱۹۸۵ز په نیمایي کې دوې میګ ۲۴ جیټ الوتکې په میرانشاه کې راښکته شوې، څو اونۍ وروسته هغه امریکا ته واستول شوې، په دې اړه په زړه پورې خبره داده چې له هغو څخه یوه الوتکه د افغانستان د هوایي ځواک له نښان سره، پر ۱۹۹۷ز کې د انګلنډ په جنوب کې په فارن برا ښار کې په یوه پوځي اډه کې په یوه ګیراج کې دریدلې ولیدل شوه.

* * * *

پر افغانستان له یرغل وړاندې شوروي اتحاد د دې یرغل او د ولکې لپاره ځینې اساسي ټکي ترتیب کړي وو، د دوی د پوځ لومړنی کار دا ؤ چې له مجاهدینو سره له ټکر څخه ډډه وکړي، په لویو ښارونو کې ګارنیزیونونه جوړ کړي، په هوایي ډګرونو او لویو لارو خپل کنټرول ټینګ کړي، تر دې وروسته به افغان پوځ په کلیو او اطرافو کې ځای په ځای کوي، تر څو هغوی د شوروي پوځونو د هوایي ځواک، توپخانې او لوژیستیکي ملاتړ په واسطه مجاهدین تصفیه کړي، تر دې وروسته به شوروي پوځ بیرته ستنیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو شوروي پوځونو نه د مجاهدینو د چریکي ګروپونو له ځواک او وړتیاؤ معلومات درلودل او نه د افغان ځواک له لویدلي مورال او د جذبې له کمبوده خبر وو، دوې میاشتې وروسته روسي پوځونه له مجاهدنیو سره مخامخ جګړې ته اړ شول، د شوروي پلي پوځ قطعات چې زیاتره کسان یې د منځنۍ آسیا د ریاستونو اوسیدونکي وو ډېر زر پرې وپوهیدل چې د ګړندیو هغو مجاهدینو په وړاندې دوی هیڅ هم نه دي، چې په (آر پي جي) له اوږې ویشتونکي توغندي او نورو دغسې اغیزمنو وسلو سنبال دي، کله به چې د دوی مرمۍ ختمې شوې نو مجاهدینو به دوی پخپلو زغره والو موټرو کې ووژل.

د شوروي پوځ له لومړنیو بریدونو څخه یو د ۱۹۸۰ په مارچ کې د افغانستان په ختیځ کې په کونړ کې ؤ. له درنو بمباریو او د توپونو له ډزور وروسته، ۲۰۱یم موتریزه غوندۍ د مجاهدینو لخوا د را ایسار شوي افغان پوځ د کلابندۍ ماتولو لپاره په دره کې پرمختګ پیل کړ، چې زره پوښونه او ټانکونه مجاهدینو ولیدل، ځانونه یې شاته کړل او غرونو ته وختل، درې میاشتې وروسته شوروي پوځ له ګردیز نه د خوست په لور تللي سړک د پاکولو لپاره عملیات پیل کړل. مجاهدینو د سړک د پاکولو د عملیاتو لپاره راغلي پوځي ګروپونه ټول وځپل او له منځه یې یوړل، دې پېښو د شوروي اتحاد په لویه قوماندانۍ کې چارواکي د خپل جنګي تاکتیک بدلولو ته اړ کړل.

دغه بدلونونه د ۱۹۸۰ز په دوبي کې راغلل، د منځنۍ آسیا اوسیدونکي پوځیان چې له ځایي خلکو سره یې د اسلامي وروروليۍ احساسات درلودل

(c) ketabton.com: The Digital Library

او مسکو ته يې په وفاداری کې شکونه وو، ببرته واستول شول او د دوی پر ځای د روسيې د پوځ ډلې راوستل شوې، له ۱۹۸۰ز تر ۱۹۸۲ز نيمايي پورې د شوروي پوځونو شمېر زيات کړای شو او تر ۱۲۰ زره تنو پورې ورسيد. د ۴۰مې فرقې درې پلي غونډونه په شينډنډ، کابل او کندوز کې. او درې نور يې يو په شمال او يو له ايران سره په سرحد کې ځای پر ځای شول. څو نور پلي کنډکونه په بګرام، مزارشريف، غزني، او فيض آباد کې ځای پر ځای شول. له دوی سره تخنيکي او توپچي کنډکونه هم وو. په افغانستان کې د هوايي ځواکونو تر ټولو لويه برخه په کابل کې، د عمومي قوماندانۍ په مرکز کې وه چې په هغو کې څلور هوايي غونډونه او درې د هوايي اړيکو کنډکونه شامل وو، دوه د سپتناز کوماندو غونډونه ببل وو چې دوه ډوله يونټونه پکې وو، ريډيو يونټ چې بريدګر ګروپونه پکې شامل وو، او بل يونټ يې د جاسوسۍ او نيغ په نيغه بريدونو مهارت درلود.

پر ۱۹۸۰ز کې شوروي اتحاد په افغانستان کې د پوځ مرکزي قومانده له منځه يووړه، هيواد يې پر اوو پوځي زونونو وويشلو، هر زون خپل يو پوځي مرکز درلود، او هر زون ته ببلابېلې هليکوپټرې ځانګړې کړای شوې، شوروي چارواکي ډېر زر پردې وپوهيدل چې په جګړه کې د څرخيو رول ډېر مهم دی.

په پيل کې د روسي ځواکونو د څرخيو شمېر ۶۰ وزره وې، چې اتلس مياشتې وروسته ۸۱ او بيا وروسته ۳۰۰ وزرو ته زياتې شوې. دا په بګرام، شينډنډ، کندز او کندهار په هوايي ډګرونو کې له ځای پر ځای شويو ځواکونو سره وې، د دوی ځينې کنډکونه په بهر کې د ګومارل شويو يونټونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره وو، د ثابتو وزرو لرونکیو او ترانسپورتي الوتکو شمېر هم د جګړې له توندیدو سره زیاتیدو، خو اداره یې په کابل کې د ۴۰مې فرقې د قوماندانۍ په لاس کې وه.

په دې موده کې شوروي پوځونه په دودیز ډول په فرقو او غونډونو ویشلي وو، په هرو پوځي عملیاتو کې له ٦-۱۲زره پوځیانو برخه اخیسته چې په دې کې به افغان پوځونه هم شامل وو، د دوی پیل به له سختې بمبارۍ څخه ؤ، چې ورپسې به زغروالو ټانکونو او زره پوښونو په سیمه کې پر سرکونو پرمختګ کاوه. خو د هوایي ځواک تر حمایې لاندې او د توپونو د دم تر ساحې پورې به پر مخ تلل، مجاهدین به زیاتره د دوی له برید څخه خبریدل او غرونو ته به وختل، چې بیا به روسي پوځونو د لنډ وخت لپاره سیمه ونیوله، دوی دایمي مرکزونه او قرارګاوې نشوای جوړولای او بیرته به خپلو ګارنیزیونونو ته راستنیدل او چریکان به بېرته پر سیمه مسلط شول، معنا دا چې په یوه سیمه کې به بیا بیا عملیات کیدل.

خو د ۱۹۸۰ز په پای کې روسي پوځونو خپله عملیاتي تګلاره بدله کړه، پلي پوځیان به راوړاندې شول، د سیمې د مجاهدینو د ګروپونو ښې او کېڼ لور ته به په څرخیو کې کوماندو ګروپونه راکوز کړای شول چې د دوی اړیکې له یو بل نه غوڅې کړي، د دوی مرکزونه به یې له منځه یوړل او د اکمالاتو لارې به یې غوڅې کړې.

دغه ډول لومړی عملیات په کونړ ولایت کې د ۱۹۸۰ز په دسمبر کې وشول، هغه مهال چې شوروي پوځونو د مجاهدینو یوه ۵۰ کسیزه ډله ولیدله چې له پاکستان نه راغله، دې ډلې غوښتل له سینده پورې وزي او د چغه سرای

(c) ketabton.com: The Digital Library

(اسعدآباد) په جنوب ختیځ کې د سمځو (هغه غارونه چې د مجاهدینو مرکزونه به پکې وو) په لور لاړه شي.

د هوایي ځواک یو کنډک په چغه سرای کې وګومارل شو، د دسمبر پر ۱۵مه سهار له هغه ځایه یو ټولی پوځیان د سرک له لارې د سمځو په جنوب کې یو میل لرې یوه ځای ته ورسیدل. له هغه ځایه یې جنوب او جنوب لویدیز لور ته هدف کلابند کړ، بل پوځ په دې موده کې د شمال او لویدیز لوري د کلابندې لپاره ورورسیدلی ؤ. ماښام پینځه بجې یوه بله ډله له ختیځ لوري د سمځو سیمې ته ورننوتل، چې کله مجاهدین له هغه ځای شاته لاړل نو له نورو په مورچل کې ناستو ځواکونو سره مخ شول، په دې جګړه کې ۲۴تنه مجاهدین ووژل شول او څلور تنه ژوندي ونیول شول.

د ۱۹۸۰ز په اوږدو کې د روسي ځواکونو عملیات زیاتره په دې موخه وو چې د کابل او نورو سترو پوځي مرکزونو امنیت وساتي، په اپریل کې روسي او افغان پوځونو د احمد شاه مسعود د جنګیالیو پر خلاف پر پنجشیر برید وکړ، دغه دره کابل ته د ورغلې لویې لارې په اړخ کې پرته ده، د دې درې ځانګړتیا داوه چې احمدشاه مسعود د سالنګ تر تونل پورې لاره بندولای شوای. له همدې لامله روسي پوځونو دلته ډېر بریدونه ترسره کړل. په مارچ کې مسعود د بګرام پر هوایي ډګر برید وکړ، له دې ځایه به روسي پوځ پر پنجشیر بریدونه کول، که څه هم مسعود او مجاهدین یې له درې وایستل شول خو هغوی خوندي، شاوخوا غرونو ته وختل، له هغه ځایه یې دښمن ویراوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدغه ډول یرغل په اپریل کې د کابل په جنوب کې د لوګر په دره ترسره شو، دا هم ناکام شو، په اګسټ کې په بلخ کې د مارمول په غونډیو کې د مجاهدینو د مرکز د کلابندۍ هڅه وشوه چې ناکامه شوه.

د ۱۹۸۱ز په پای کې شوروي اتحاد په افغانستان کې یو شمیر قوماندانان بدل کړل، نویو قوماندانانو له پاکستان څخه د مجاهدینو د لارې د تړلو پر نوي پلان فکر وکړ. له اکتوبر تر دسمبر پورې، شوروي او افغان الوتکو څو ځلې د پاکستان له فضایي حدودو څخه سرغړونه وکړه او څو څو ځلې یې د کرښې په شاوخوا کې د مجاهدینو پر مرکزونو بمباري وکړې، په ننګرهار او پروان ولایتونو کې یې هم یو شمیر بریالي عملیات وکړل چې مجاهدینو ته پکې درانه زیانونه واوښتل.

د ۱۹۸۲ز په پیل کې شوروي پوځیانو بیا په لویه کچه بریدونه پیل کړل، په جنوري میاشت کې یې په پروان ولایت کې مجاهدینو ته دروند زیان ورساوه. دغسې یرغلونه یې پر کندهار او هرات هم وکړل. د اپریل د ۲۵مې په شپه مجاهدینو د بګرام پر هوایي ډګر برید وکړ او تر یو درجن زیاتې الوتکې یې ویجاړې کړې، چې په غبرګون کې یې ۱۱زره روسي او څلور زره افغان پوځونو پر پنجشیر یو بل برید وکړ، یو شمیر پوځونه درې ته د جنوب له لوري او یو شمیر نور د شمال له لوري ننوتل، او دره یې له دواړو لوریو بنده کړه. وروسته بیا روسي الوتکو ټوله سیمه بمباري کړه، او په لویه کچه یې کلي ویجاړ کړل چې له پخوا څخه خلک تړې وتلي وو، ورپسې په څرخیو کې زیات شمیر کوماندویان ښکته کړای شول، خو د مسعود

(c) ketabton.com: The Digital Library

مجاهدین خوندي غرونو ته ختلي وو او کوم پوځیان چې پر دوی پسې وو، پر هغو به یې بریدونه کول.

د ۱۹۸۲ز په پاتې موده کې روسانو د کابل په شمال کې په غوربند او پنجشیر او د کابل په جنوب کې د لوګر په درو بریدونه وکړل چې ټول ناکام شول. پر ۱۹۸۳ز کې شوروي اتحاد یو ځل بیا خپل جګړه ایز پلان بدل کړ، دوی پردې وپوهیدل چې د دوی پلي زغره وال ځواکونه د داسې جګړو لپاره مناسب نه دي روزل شوي چې ورته اړتیا یې ده، چې سپکې وسلې او ګړندي موټر ورسره وي، چې پر دښمن اغیزمن ګوزار وکړای شي. ځکه خو دوی د خپل هوایي ځواک له کوماندویانو څخه د بغاوت د ځپلو یو ځانګړی ځواک جوړ کړ، چې د سپتناز له دوو ګروپونو سره به یې نه یوازې د هوایي عملیاتو پر مهال ښکته کول، بلکې د دوی وړوکي ګروپونه به یې د مجاهدینو دننه ګروپونو او د اکمالاتو د لارو ټرلو لپاره ځای پر ځای کول.

دغه ډول یو پوځي عملیات چې د ۲۰ تنو یوې ډلې لخوا ترسره شو، د ۱۹۸۳ز په جولای کې ؤ، دې ډلې په هلمند کې د مجاهدینو د اکمالاتو دلارې پر سر کمین ونیو، دغه ګروپ د شپې مهال د سیمې جنوب لور ته درې مېله لرې له څرخیو څخه پلی کړای شو، دوی سهار په تیاره کې د کمین نیولو ځای ته روان شول، هلته دوی د مجاهدینو د څار یوه پوسته لیدلې وه چې دوه تنه پکې په پهره ګومارل شوي وو. شمال لور ته انووا نومې دره او نیم میل لرې لویدیز لوري ته یې د مارچې دره (اوس ولسوالي) پرته وه، نهه نیمې بجې دې ګروپ د سیند پر سر پله ماینونه خښ کړل او کمین یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ونیو، راتلونکي پینځه نیم ساعتونه یې هیڅ هم ونه لیدل، د دې ګروپ قوماندان ته لارښوونه شوې وه چې درې نیمې بجې به بېرته ځانونه راباسي، خو ۲۵ دقیقې وړاندې یوه لارې راښکاره شوه، چې پله ته راورسیده ماینونه وچاودیدل او په کمین کې ناستو عسکرو ډزې پیل کړې، له دې سره دوی هغه د ځارنې پوستې ته هم لاسي بمونه ور وغورځول، په دوو دقیقو کې په لارې کې سپاره ۲۸تنه ټول ووژل شول.

د راتلونکیو دوو میاشتو په اوږدو کې دې کنډک په اتو عملیاتو کې ۲۰۰ تنه مجاهدین ووژل او ۲۰ تنه نور یې ونیول، پر وسلو سربېره دوی د ایران او پاکستان ډېرې پیسې هم ترې لاسته راوړې.

پر ۱۹۸۳ز مجاهدینو ارګون، خوست او ځائیو چوپړې کلابند کړل، ددې کلابندیو لپاره یې ډېرې وسلې او وسایل راټول کړي وو، خو دوی داسې روزل شوې عمله نه درلوده چې د روسانو لخوا غوړول شوي ماینونه وباسي، په اګست کې ۱۲زره شوروي پوځیانو د ځائیو کلابندي ماته کړه، خو د خوست کلابندي یې ایله په دسمبر کې ماته کړای شوه، لس زره روسي، اوه نیم زره افغان پوځیانو هلته مجاهدین پر شا وتمبول، د ارګون کلابندي د راتلونکي کال د جنورۍ تر ۲۲مې پورې دوام درلوده، دغه کلابندي هغه مهال ماته شوه چې شوروي هلیکوپترو هلته کوماندویان ښکته کړل.

مجاهدینو د کابل امنیتي کړۍ د ماتولو لپاره هم ډېرې هڅې وکړې، تر اوسه پورې دوی پر شوروي پوځیانو او بارکونو د وړوکیو ګروپونو په واسطه بریدونه کول، خو د امنیتي تدابیرو د ډېرېدو له لامله پر کابل د بریدونو دوام ستونزمن شو، ځکه خو پر بالاحصار د لوی برید لپاره تیاری ونیول شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د ښار پر څنډه د شوروي پوځونو ستر مرکز ؤ. د اګسټ پر ۱۳مه د مجاهدینو یوه لویه ډله له دفاعي کرښو تېره شوه او پر بالاحصار یې برید پیل کړ، کری شپه جګړه روانه وه، سهار ته مجاهدین بېرته ووتل.

تر دې وروسته شمال ختیځ لور ته، پر یوه لوی افغاني مرکز حمله وشوه، چې په هغو کې یو شمېر الوتکې ویجاړې او د وسلو ډیپوګانې تباه شوې، تردې وروسته کابل ته په ورغلیو لویو لارو پر یو شمیر روسي کاروانونو بریدونه وشول چې بیا په غبرګون کې شوروي پوځ وپاریدل او د شمالي په درې درو یې خوشه یي بمونه وغورځول، د مجاهدینو پر خلاف د برید لپاره یې له څرخیو عسکر هم پلي کړل.

په ۱۹۸۳ز کې احمد شاه مسعود له کابل حکومت او روسانو سره اوربند وکړ، دغه اوربند یو کال دوام درلود، خو د ۱۹۸۴ز په مارچ کې شوروي پوځیان پردې وپوهیدل چې مسعود به دغه اوربند نور ونه غځوي، د اپریل په میاشت کې دوی د سالنګ پر لویه لاره بیا بریدونه پیل کړل. ځکه خو شوروي پوځ د (پنجشیر ۷) په نامه لوی پوځي عملیات پیل کړل، چې موخه یې د احمدشاه مسعود د پوځیانو له منځه وړل وو. په دې عملیاتو کې شل زره تنه پوځ برخه درلوده، په دې کې له شوروي اتحاد څخه راغلي تازه نفسه ٦زره پوځیان هم شامل وو، شپږ زره افغان پوځیان هم په دې جګړه کې شامل وو، په دې جګړه کې د شوروي د هوایي ځواکونو هر ډول بمبارد جیټ او څرخیو الوتکو هم برخه درلوده. د برید لپاره د قوماندې او کنترول شاندار چوکاټ ؤ، چې د قوماندې مرکز له هر ډول وسایلو څخه پوره په یوه ترانسپورتي الوتکه کې ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو مسعود ډېر زر له دې برید څخه خبر شو او په مارچ کې یې د سالنګ پر لویه لاره مخکې له مخکې برید وکړ، ده ته د افغان پوځ په منځ کې خپلو خواخوږیو د برید په اړه بشپړ معلومات ورکړي وو، ځکه خو ده خپل زیات جنګیالي او د سیمې عام اوسیدونکي له درې څخه غرونو ته وایستل، د درې په اوږدو کې یې زیات ماینونه سېخ کړل او بیا یې پاتې جنګیالي هم غرونو ته ورسره بوتلل.

له برید څخه وړاندې پر دره سر تر پایه درنه بمباری وشوه، د اپریل پر ۲۱مه د توپونو په سختو ډزو کې، لس زره روسي میکانیزه قوا له ۵زره افغان پوځیانو سره د درې په لور وخوځیدل، د ماینونو په سبب له لږ ځنډ وروسته هغوی درې ته ننوتل او د اپریل پر ۲۴مه رخه ته ورسیدل، له هغه ځایه د خنج په لور وخوځیدل، د می په پیل کې د عملیاتو په دوهم پړاو کې د راوت په دښته کې او د څنګ د لویې درې په پیل کې څرخیو کوماندو سېکته کړل، دلته سخته نښته وشوه او مجاهدینو یو د هوایي ځواکونو کنډک بشپړ له منځه یووړ، په دره کې دننه بیا د توندې بمباری له لامله مجاهدینو ته د سر درولند زیان واوښت.

په دې موده کې شوروي پوځونو په شاوخوا درو کې پرمختګ کړی ؤ، یوې بلې ډلې د سالنګ له لویې لارې څخه د اندراب په دره کې له هوایي کوماندو ځواک سره اړیکې ټینګې کړې، له جلال آباد څخه نور پوځونه راغلل او د لغمان د علیشنګ او کانسي وار درې یې څارلې، خو د څنګ په درو کې شوروي پوځیانو ډېر لږ پرمختګ درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هلته له مسعود سره د نورو مجاهدینو مرستې پیل شوې وې، هغوی پر مسعود د فشار د کمولو لپاره پر جلال آباد او کابل بریدونه پیل کړل، مسعود پر بګرام یو بل برید وکړ چې په هغو کې یې یو شمېر مېګ ۲۱ الوتکې ویجاړې کړې.

د جون تر پایه دغه برید پای ته ورسید او شوروي پوځیان بېرته ستانه شول، د مسعود د تباه کولو موخه پوره نه شوه، او هغه بېرته درې ته راستون شو، او په سیمه کې یې د روسانو پر مرکزونو بریدونه کول، په دې برید کې پینځه سوه تنه روسي پوځیان ووژل شول، یو شمېر ځرخېدونکي رانسکورې شوې او دوه سوه تنه مجاهدین هم ووژل شول.

په سپتمبر کې پر پنجشیر یوه بله حمله هم ناکامه شوه.

پر هوایي ځواک د شوروي اتحاد د پوځ انحصار پر ۱۹۸۵ز کې هم دوام درلود، په اګسټ کې مجاهدینو په لوګر کې خپل فعالیتونه زیات کړل. دوی له جنوب ختیځ لوري پر کابل ډزې هم کولې، پردې سربېره له کابل څخه بهر پر پوځي کاروانونو او پوستو هم د دوی بریدونو دوام درلود.

دغه مهال افغان څارګړې اداري (خاد) خبر تر لاسه کړ چې شپږ سوه تنه مجاهدین په ۱۵ ګروپونو کې منظم شوي په خورد کابل، ملنګ، کالا او مالي خیلو کلیو کې ځای پر ځای دي. له دې ځایه ۱۲ میله لرې یې په خاص تیزین کې هم د دوی زیات شمیر جنګیالي شته او دلته یې د وسلو زیرمه هم ده.

افغان پوځ پریکړه وکړه چې په لوګر دره کې یو مرکز جوړ کړي، همدغسې دا پریکړه وشوه چې د شوروي پوځ ۱۰۳یم لمبر ګارډ هوایي کوماندو فرقه

(c) ketabton.com: The Digital Library

به د جګړن جول یوري یاري جن په مشرۍ پر مجاهدینو برید کوي، د دوو هوایي کوماندو ځواکونو درې ګروپه جوړ کړای شول، له دوی سره نور پلي کنډکونه هم یو ځای شول.

دې پوځ د اګسټ له ۱۱-۱۹ پورې عملیات باید پیل کړي وای، د اګسټ پر ۱۳مه دوه جاسوسي او د کشف کنډکونه ۳۰ میله وړاندې په داسې ځای باید ګومارل شوي وای چې د لوګر د درې په جنوب کې د مجاهدینو سمځې او مرکزونه کلابند کړي. درې غونډونو به د مرکزي پوځ په توګه د خورد کابل په شمال کې برید کاوه، خو د دې برید له پیل څخه لږ مخکې مجاهدینو د لوګر په دره کې د افغان پوځ پر مرکز برید وکړ، له دې سره د شوروي او افغان دولت په جنګي پلان کې بدلون راغی، د کشف دوه ګروپه اوس بېلابېل د مالي خېل د کلابندۍ لپاره واستول شول.

د اګسټ پر ۱۳مه د کشف ډلې له افغان پوځ سره د مجاهدینو د مرکزونو په لویدیز مخ ځوړیو کې ښکته کړای شول. له هغه ځایه دوی د جنوب په لور پرمختګ پیل کړ، خو له شاوخوا لوړو ساحو څخه مجاهدینو سختې ډزې پرې پیل کړې، او د دوی د پرمختګ مخه یې ونیوه، ځکه دغه پوځ پر یوه غونډۍ سنګر ونیو او د لوی پوځ د راتلو په انتظار شول، سبا ته پوځ راورسید خو تردې مهاله مجاهدین وتلي وو.

اوس جګړن یاري جن د عملیاتو په دوهم پړاو کې پر خاص تیزین د برید پربکړه وکړه، په هغه ورځ پاو کم دوې بجې توپخانې درنې ډزې پیل کړې، وروسته بیا پر سیمه هوایي بمباري پیل شوه، پاو باندې درې بجې پوځې ګرپونه په هلیکوپترو کې په دوو ځایونو کې پلي کړای شول، له هغه ځایه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی داسې ساحو ته لاړل چې سیمه کلابنده کړای شي. تر دې وروسته اصلي پوځ په دوو نورو ځایونو کې پلی کړای شو.

د کشف او جاسوسۍ ګروپونه د کوزیدو له اصلي ځای څخه څلور میله لرې لویدیز لور ته پلي کړای شول، له هغو ځایه هغوی د خاص تیزین لویدیز ته ورسیدل، خو هلته د مجاهدینو هیڅ نوم او نښان نه ؤ. وروسته بیا دوی وپوهیدل چې په نقشه کې د کلي نوم غلط ؤ. اصلی موخه زندیخ کلایي ؤ.

پوځ هغه لور ته روان شو، په تونده جګړه کې دوه نیم سوه تنه مجاهدین ووژل شول، او د وسلو او نورو جنګي موادو لویه زیرمه دوی ته په لاس ورغله.

د هوایي ځواکونو او هوایي کوماندویانو په واسطه چې کوم بریدونه ترسره کیدل، د هغوی د بریالي کولو لپاره یې د دغو غونډونو او کنډکونو قوماندې ځوانو منصبدارانو ته سپارله چې دا د شوروي پوځ له پالیسۍ څخه سر غړونه وه، ددې یو څرګند مثال د ۱۹۸۵ز په اکتوبر کې رامخې ته شو، کله چې په کندهار کې له ګومارل شوې (۷۰)یمې پلې موټریزې لوا سره اړوند هوایي کوماندو ځواکونو یو عملیات ترسره کړل.

دوی خبر ترلاسه کړ چې مجاهدینو د ښار په جنوب لویدیز کې یو روزنیز مرکز جوړ کړی دی، ځکه خو دې لوا ته پر هغه مرکز د برید حکم وشو. د اکتوبر پر ۱۳مه د مابښام پر اوو بجو، د ۱۲ کنډک هوایي کوماندو ځواکونه د کپتان وي جي استړاټیلي په مشرۍ د هدف ختیځ ته یوې غونډۍ ته نږدې کوز کړای شول، مجاهدینو پر هغوی سمدستی ډزې پیل کړې، او په

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوره کرۍ ورځ کې د توپچي او هوايي ځواکونو په سختو ډزو او بمباريو کې هم دوی نور پوځ راکوز نکړای شو.

تر مانښامه د ښکته شوي ګروپ کارتوس او مهمات پر ختميدو شول، د اکتوبر پر ۱۴مه سهار د دوی لومړی کنډک لويديز لوري ته پرمخ روان شو او د روزنيز مرکز جنوب لويديز ته ورسيد، دوهم کنډک د غره په جنوب ختيځ لوري کې د مجاهدينو د مرکزونو په لور پرمختګ پيل کړ، درېيم کنډک د اډې جنوب ته ورسيد، يوه نيمه بجه له درې واړو لوريو برید پيل شو، او د جګړې په بهير کې دويم کنډک مخه واړوله او پر مرکز يې له ختيځ لوري برید پيل کړ، برید بريالی ؤ او د مانښام تر ځلورو بجو پورې دغه مرکز د روسي ځواکونو لاس ته ورغی، مجاهدينو ځوابي برید وکړ خو ښېرته پر شا ولاړل، وروسته مجاهدين له سيمې ووتل.

* * * *

د شوروي اتحاد له لوري د هوايي ځواکونو او کوماندو پوځيانو د بريدونو له زياتيدو سره مجاهدينو پر آی اس آی فشار راوړ چې اغيزمن ځوابي اقدامات وکړي، تر ټولو ستر خطر ايم آی ۲۴ ډوله ګنشپ هليکوپټرې وې چې توپونه او درانه ماشيندار به پکې ټينګ وو، پر بمونو او توغنديو سنبال د دغه ځرخيو په شاتني کابين کې لس تنه وسله وال عسکر هم کيناستلای شوای.

لکه چې په پيل کې يادونه وشوه چې مصري او چينايي سام ۷توغندي او ريډ آی امريکايي توغندي ناکاره ثابت شول. پر ۱۹۸۴ز کې آی اس آی له سي آی اې سره د ايف آی ايم A-۹۲ سټېنګر توغنديو د چمتو کولو لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

اړیکه ونیوه. دغه د حرارتي وړانګو په واسطه رهبري کیدونکي توغندي، له ۱۹۸۲ز راهیسې د ریډ آی پر ځای د امریکایي پوځ له خوا کاریدل، امریکا دغسې دری زره لانچره توغندي درلودل، سي آی اې، د آی اس آی دغه غوښتنه رد کړه، د دې یو لامل دا وېره وه چې په دې توغندي کې کارول شوې ټکنالوجي شوروي اتحاد ته په لاس ورنشي. د امریکا د دفاع وزیر سپرداین برګر هم د دغه دریځ پلوي ؤ. په داسې حال کې چې د بهرنیو چارو وزارت بیا په دې نظر ؤ چې د لوړې ټکنالوجۍ امریکایي وسلې که په افغانستان کې وکارول شي شوروي اتحاد به د پاکستان پر خلاف سخت غبرګون ته راوپاروي.

د ۱۹۸۵ز په مې کې د امریکا د دفاع وزارت د پالیسۍ مرستیال فرید اکلې، او په افغان چارو کې د هغه د اړیکو مسوول مایکل پلس بري اسلام آباد ته پر سفر لاړل، دوی د آی اس آی مرکز ته هم ورغلل، هلته یې د آی اس آی له مشر جنرال اختر عبدالرحمان سره وکتل، هغه دوی ته د الوتکو ضد اغیزمنو وسلو په اړه خپل د اړتیا لیست وسپاره، په دې لیست کې د سټینګر نوم هم ؤ، ډېر زر دغه لیست د امریکا سفارت د پټو استخباراتو اداري، د سي آی اې مشر ویلم کیسي ته واستاوه، اکلی او پلس بري له جنرال ضیاء سره هم ولیدل، هغه ویل چې دغه توغندي باید پاکستاني پوځ ته ورکړای شوي وای، مجاهدینو ته د دې توغندیو د برابرولو په اړه یې وویل چې دی به پردې فکر وکړي.

د پاکستان د پوځ یوه مهم جنرال میرزا اسلم بیګ، چې دده قول اردو له افغانستان سره د کرښې په اوږدو کې پرته وه، اکلي او پلس بري ته وویل

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې مجاهدین د شوروي پوځونو په وړاندې له ماتې سره مخ دي، د ده خبرو او وروسته بیا له جنرال اختر عبدالرحمان سره خبرو اترو، دغه دواړه چارواکي پردې قانع کړل چې له مجاهدینو سره باید د امریکا مرستې زیاتې شي. چې واشنګټن ته راستانه شول پر همدې خبره یې ټینګار کاوه، ځکه خو د امریکا د بهرنیو چاروز وزات له پټې بودیجې څخه ۲۰۰ ملیون ډالره مرستې زیاتولو پرېکړه وکړه، خو د سټینګر توغندیو ورکولو غوښتنه بیا هم رد شوه.

د سي آی اې د عملیاتي ریاست مشر جان میک موهن دا وړاندیز وکړ چې مجاهدینو ته بلو پایپ سام توغندي ورکړای شي. دغه درانه او ځوروونکي توغندي برتانوي پوځ پر ۱۹۷۵ز کې کارولي وو، خو آی اس آې واله پردې پوهیدل چې د دې توغندي د کارولو لپاره باید له مورچې راووزي، له دې لامله به هغه اسان د دښمن نښه کیدای شي، خو سټینګر بیا له مورچل څخه هم توغول کیدای شي. د فاک لنډ په جګړه کې هم د بلو پایپ اغیز مایوسوونکی ؤ. له هغه وروسته ۲۲اپس اې اې له امریکایي پوځ څخه سټینګر توغندي لاسته راوړل پخپله برتانیې هم د بلوپایپ پر ځای په ۱۹۸۴ز کې جاویلین نومي توغندي کارول.

بیا هم سي آی اې د بلو پایپ په ورکولو ټینګار کاوه، کله چې دغه توغندي مجاهدینو ته ورسیدل نو د هغه لومړی بار ناقص ؤ، د هغو رهبري سیستم خراب ؤ، چې له امله یې دغه توغندي له فیر سره بې لارې کیدل، له ادلون بدلون وروسته هم ونه چلیدل او بې باوره وو، پردې سربېره یې بیا هم نور بلوپایپ واستول، د یوه ناکام عملیات پر مهال شوروي پوځ ته څلور

(c) ketabton.com: The Digital Library

توغندي په لاس ورغلل، دوی پخپلو تلویزیوني چینلونو کې هغه وښودل دا یې ثابته کړه چې برتانیه نیغ په نیغه په دې جګړه کې لاس لري.

د سي آی اې له لوري مجاهدینو ته د ورکړل شویو وسلو څخه یو ۲۰ ملي متري الوتکې ضد دافع هوا هم ؤ چې د سویزرلینډ د (اوئر لیکن بوهرلې) کمپنۍ لخوا جوړه شوې وسله وه، ۱۲۰۰ پونډه دروند دغه توپ ډېر لوی او بد شکله ؤ چې د چریکي جګړو لپاره مناسب نه ؤ. دې توپ په یوه دقیقه کې یو زر مرمۍ ویشتلې، هره مرمۍ یې په پنځوس ډالره لویده. د چریکانو لپاره د ډزو په اړه هیڅ اصول او قواعد هم نه وو، ځکه خو به د دې توپونو لپاره زښته زیاتې مرمۍ هم راغوښتل کیدې، له دې ستونزو سره سره دغه ډول پنځوس میله دافع هوا توپونه پاکستان ته ورسول شول.

د ستېنګر توغندیو په اړه مخالفت نور هم مخ په کمیدو ؤ، ځکه چې ضیاء الحق چې تر اوسه پورې مجاهدینو ته د ستېنګر توغندیو ورکولو مخالف ؤ، اوس هغه پخپله دې ته راضي شوی ؤ چې دغه توغندي ورکړای شي، همدارنګه نور دا دامریکا د پوځ لپاره لومړیتوب نه درلود، ځکه چې تردې پرمختللي توغندي ورکړل شوي وو او هغه بیرته تري ټولیدل، پردې سربېره د دې توغندیو جوړوونکې ادارې جنرل ډاینامکس دا تصدیق کړې وه چې دوی د دې توغندیو د تولید د دوام ورټیا لري.

د ۱۹۸٦ز د فبروری پر ۲٦مه د انټرایجنسي عمومي کمپنۍ مجاهدینو ته د دې توغندیو د چمتو کولو منظوري ورکړه، خو د ۱۹۸۷ز په نیمایي کې د دې ۲۵۰ میله لانچر له یو زر توغندیو سره د آی اس آی په واسطه افغانستان ته ورسیدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ۱۹۸٦ز په اپریل کې شوروي پوځ پر کونړ، ننګرهار، او پکتیا یرغل ور وړ، موخه یې له پاکستان څخه د مجاهدینو د اکمالاتو د لارې بندول وو. په دې ساحه کې د شوروي پوځیانو لویه اډه جلال آباد ؤ، دلته پر افغان پوځ سربېره د شوروي پوځ یوه پلې لوا او یو د سپتناز کوماندو غوندې ؤ.

په شمال ختیځ کې، د کونړ په اسعدآباد کې، یوه فرقه افغان پوځ او یو کنډک د سپتناز کوماندو په اسمار کې پروت ؤ. د جلال آباد جنوب ته د خوست په ښار کې یوه فرقه د افغان ځواکونو او یو کنډک د شوروي پوځیانو ځای پر ځای شوي وو.

ځینې نور ګارنیزیونونه د علي خېلو په چونې کې او په ژوره کې هم وو، د دې دواړو ځایونو په منځ کې پاکستاني سیمه (قبایلي سیمه) د طوطی د مښوکې په څېر وړاندې راتېره ده چې دلته د پاړاچینار ښار دی چې آی اس آی له دې ځایه مجاهدینو ته ۴۰ سلنه اکمالات رسول.

د ۱۹۸۵ز په اوږدو کې چریکانو خوست کلابند کړی ؤ چې شاوخوا ته یې ماینونه ښخ شوي وو، د خوست فرقې د هغه غونډیو پر سرونو مورچلونه نیولی وو، چې د ښار جنوب ختیځ لور ته پرتې وې. د خوست د نیولو لپاره دې ته اړتیا وه چې دغه غونډې هم ونیول شي، خو مجاهدین د دې په نیولو بریالي نه شول. د اګسټ پر ۲۰مه شوروي پوځ پر سیمه یو لوی یرغل پیل کړ، چې موخه یې د طوطي د مښوکې غونډې سیمې نه د مجاهدینو شاته ټیل وهل وو. مجاهدینو کلابندي ختمه کړه.

پینځه میاشتې وروسته د ۱۹۸٦ز په مارچ کې، شوروي پوځ پر ژوره د لوی برید پلان جوړ کړ چې په اپریل کې باید ترسره شوی وای، د افغان پوځ

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرقه په خوست کې ځای پر ځای شوه او د شوروي پوځ کوماندو هوايي ځواک هم راورسید، پردې سربېره يې د سپتناز ځواک هم د دې عملياتو لپاره وګومارە چې دنده يې د مجاهدينو پر کاروانونو بريدونه وو. آی اس آی چې له دې حملې څخه خبر شو پريشانه شول. مجاهدينو ته يې د دفاعي کرښو د پياوړي کولو وويل، د ژوړې مرکز پر ورغليو لارو يې ماينونه وغوړول، پر هغو لارو يې د ټانګ او الوتکې ضد وسلې هم ځای پر ځای کړې، په ژورو سمڅو يې هم د مجاهدينو ډلې وګومارلې خو پخپله د مرکز دفاع ته يې پاملرنه ونه کړه، په داسې حال کې چې آی اس آی مجاهدينو ته ويلي وو چې د مرکز شاوخوا ته کندې وکاږي.

د آی اس آی اندېښنه داوه چې ژورې مجاهدينو او آی اس آی دواړو ته زښت ډېر اهميت درلود، دلته روزنيز او عملياتي مرکز ؤ، پردې سربېره دلته د آزادې سيمې حکومت او محکمه هم وه، دا ټوله سيمه د مولوي يونس خالص د حزب اسلامي د قوماندان مولوي جلال الدين حقاني په واک کې وه، د نوموړي لس زره تنه مجاهدين د ښار شمال لور ته د روسي پوځ له خطر سره مقابلې ته ولاړ وو، د ژورې ښي لوري ته د پير ګيلاني ملي اسلامي محاذ او د مولوي نبي محمدي حرکت انقلاب اسلامي مجاهدين پراته وو. (د ژورې په څنګ کې د حزب اسلامي د مشهور قوماندان انجنير فيض محمد په مشرۍ د جهادوال مرکز هم ؤ چې له جلال الدين حقاني وروسته دوهم لوی مرکز ؤ. ژباړن)

د اپريل په لومړۍ اونۍ کې پر ژوره بريد پيل شو، لومړۍ د شوروی پوځ کوماندويان له افغان کوماندو سره د څرخيو په واسطه ښکته کړای شول،

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا پلیو ځواکونو له ټانکونو او زره پوښونو سره د تنیو له لارې د جنوب په لور پرمختګ پیل کړ، خو د تنیو په جنوب کې مجاهدینو له دوی سره کلکه مقابله وکړه، له دې سره جوخت مجاهدینو د خوست پر هوایي ډګر برید وکړ چې له امله یې د شوروي پوځ هوایي عملیات ګډوډ شول.

تر ډېرو ورځو وروسته هم په برید کې ډېر پرمختګ رانغی، چې بیا د عملیاتو افغان قوماندان ډګروال عبدالغفور د جګړې په پلان کې بدلون راوست، د اپریل پر۱۱مه هغه یو کنډک د لسو ځرخیو په واسطه ژورې ته نږدې کوز کړل، د کنډک دغه ۴۰۰ تنه له ښکته کیدو سره، د مجاهدینو د درنو ماشیندارو تر ډزو لاندې راغلل، درې ځرخۍ رانسکورې شوې، نورې ځرخۍ هم په ګولیو سورۍ شوې، ټول پوځیان یا ووژل شول یا ژوندي ونیول شول.

د اپریل له ۱۱مې-۲۲مې پر ژوره زیات هوایي بریدونه وشول، ډزو هم دوام درلود، ستېنګر توغندي لا تر اوسه ډګر ته نه وو راوتلي، له مجاهدینو سره د الوتکو د مقابلې لپاره اغیزمنه وسله نه وه، ځکه خو الوتکو د دوی پر مرکزونو نیغ بریدونه کول، هغه سمځې هم تر بمباریو لاندې نښه شوې چې د جلال الدین حقاني مرکز پکې ؤ. آی اس آی خپل بلوپایپ ټیم هلته واستاوه، چې پر الوتکو یې ۱۳توغندي ورخوشي کړل خو ټول بېکاره لاړل، بالاخره د ژورې مرکز روسانو ونیو، شوروي او افغان پوځ تر ۴۸ ساعتونو پورې په منظم ډول هلته هر څه برباد کړل او بیا ترې ووتل. د کابل حکومت اعلان وکړ چې لویه بریا یې لاسته راوړه، دوی دا دعوه وکړه چې دوه زره مجاهدین یې ووژل او څلور زره تنه یې ټپیان کړل، خو د ډګروال

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوسف په قول ټول ټال درې سوه تنه مجاهدین ووژل شول او درې لارې وسله او پوځي توکي له منځه یووړل شول، په داسې حال کې چې د افغان-روس د ګډو ځواکونو ۱۵۰۰ سرتیري وژل شوي او یا ټپیان، سل تنه ژوندي نیول شوي وو او درې څرخۍ له منځه لاړې، دوې ورځې وروسته مجاهدین بیرته ژورې ته راغلل.

راتلونکې میاشت په کابل کې حکومتي زعامت بدل شو، د ببرک کارمل پر ځای ډاکټر نجیب راغی. د ۱۹۸۵ز د مارچ پر ۱۱مه د شوروي اتحاد د کمونست ګوند د عمومي منشي په توګه د میخایل ګورباچوف له غوره کیدو وروسته، شوروي اتحاد پر خپله افغان پالیسۍ له سره غور وکړ، په اکتوبر کې پخپله ګورباچوف له ببرک کارمل سره پټ ولیدل او ورته ویې ویل چې په خپل حکومت کې له سیاسي اړخه پراخ بنسټه انکشاف راولي او غیر ګوندي کسان هم پکې شامل کړي. هغه ته یې وویل چې له مجاهدینو سره جوړ جاړی وکړه چې د شوروي پوځ د وتلو لپاره زمینه برابره شي. تردې څو ورځې وروسته د شوروي اتحاد سیاسي بیرو یو قرارداد پاس کړ چې په هغو کې ویل شوي وو چې له افغانستان نه شوروي پوځونه باید چټک راووزي.

د نومبر په پیل کې کارمل اعلان وکړ چې په حکومتي تشکیلاتو کې به پراخوالی راولي، بیا یې د صدراعظم مرستیال، د وزارتونو په معینیتونو اونورو وزارتو نو کې غیر کمونیست کسان وګومارل، خو دا هر څه هسې د ښودنې لپاره وو او اصلي واک بیا هم له کمونستانو سره ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوروي مشرتابه پردې اجرأتو قناعت ونه کړ، د شوروي پوځونو د وتلو پر مهالویش له خبرو اترو نه د کارمل انکار د دوی اندېښنه نوره هم زیاته کړه. د ۱۹۸٦ز د مارچ پر ۳۰مه کارمل د درملنې لپاره مسکو ته ورسید، هغه څو رنګه روغتیایي ستونزې درلودې، په مسکو کې د هغه د یوې میاشتې هستوګنې په موده کې، کې جي بي ده ته په زغرده وویل چې نور باید له واکه لاس پر سر شي. او د خلق دیموکراتیک ګوند د عمومي منشي له مقام هم باید استعفا ورکړي، یوازې د انقلابي شورا د مشر په توګه پاتې کیدای شي.

*　　*　　*　　*

د می پر لومړۍ کارمل بېرته کابل ته راستون شو، دلته د کي جي بي د لومړي ریاست مشر ولادیمیر الکساندر اندرووچ پرلپسې پرې فشار راوړ چې استعفا ته چمتو شي. د مې پر څلورمه کارمل د استعفا اعلان وکړ او وې ویل چې د شوروي اتحاد د نړیوالو ګټو له لامله دا کار کوي، د ده پر ځای د خاد رئیس جنرال نجیب وټاکل شو. د کارمل له استعفا سره شوروي اتحاد د دې جوګه شو چې د جینوا د خبرو په نوي پړا کې د پوځیانو پر ستنېدلو خبرې وکړای شي. د ۱۹۸٦ز په وروستۍ نیمایي کې د سټېنګر توغندیو لومړۍ بار پاکستان ته را ورسید، سي آی اې پرېکړه کړې وه چې دوی به هر کال ۱۲۰۰ توغندي او ۲۵۰ لانچرونه چمتو کوي.

په جون کې آی اس آی لس تنه پاکستاني پوځي منصبداران د یوه ټیم په بڼه د اتو اونیو د روزنیز پروګرام لپاره واستول دوی یو روزنیز مرکز په

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوجړې کمپ کې هم جوړ کړ. دلته يې د ببلابېلو مجاهدينو لپاره د درې درې اونيو روزنيز پروګرام جوړولو ترتيبات ونيول.

افغانستان ته چې تر ټولو وړاندې سټېنګر ورسيدل له هغو څخه شپږ توغندي د انګلستان د استخباراتو ۲۲ اېس اې اېس(اوسنۍ اېم آی ٦) يوه پخواني غړي ورسره يووړل. هغه وروسته بيا يو کتاب (شوټنګ ګيلري) د ګاز هنټر په مستعار نامه وليکه، هغه وايي چې افغانستان ته له تلو وړاندې يې دی او د روزونکيو ټيم، د منځنۍ ختيځ په يوه هيواد کې د جمعيت اسلامي د احمد شاه مسعود ١٦ قوماندانانو ته د روزنې ورکولو لپاره وګومارلو، روزنيز کورس د شپږو اونيو لپاره ۋ چې پر نورو سربېره د سټېنګر توغنديو ويشتل هم پکې شامل وو، هنټر او د ده ټيم ته روزنه ورکړای شوه. له هغه ځايه هنټر برتانيې ته ستون شو، بيا ورسره اړيکه ونيول شوه، چې شپږ سټېنګر توغندي ورسره واخلي او د احمد شاه مسعود له يوه ګروپ سره همکاري وکړي.

د پاکستان له کرښې نه تر اوښتلو وروسته هنټر په پنجشير کې له يوه شل کسيز فعال ګروپ سره يو ځای شو او پر يوه کاروان يې په برید کې ورسره برخه واخيسته، تر هغه وروسته يې ځينو چريکانو ته د سټېنګر د استعمال په ورښودلو لاس پورې کړ، په هغو کې شپږ تنو وړتيا وښودله. هغوی يې په دافع هوا ګروپ کې ونيول، دوی ته يې د توغنديو د نصبولو، هوايي ډګرونو او هوايي کرښو ته نږدې د سنګر نيولو او د برید کولو چلونه ور وښودل. پردې سربېره يې دا هم ورته وويل چې څه ډول ځان الوتکو ته د نښې په توګه ور وښيي او الوتکې په خپل دام کې را ايسارې او رانسکورې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي. یا پر ځمکني پوځ برید وکړي او هغوی د هوایي ځواک راغوښتلو ته اړ کړي، یوه لاره یې دا وه چې پر کومه الوتکه پر درانه ماشیندار ډزې وشي او چې کله الوتکه پر دوی غوټه ووهي نو ستېنګر پرې ور خوشي کړي.

نږدې درې اونۍ وروسته، دې ګروپ د ستېنګر لومړي عملیات وکړل، نښه د درې په منځ کې د شوروي د اکمالاتو لپاره ګومارل شوې درې الوتکې وې. مجاهدینو په دره کې جعلي ګروپ وګومارە چې دغه الوتکې برید پرې وکړي، وروسته له هغو څخه یوې الوتکې ناڅاپه په ټیټ پرواز پر هغو برید وکړ او تر څو پرې ستېنګر برید کیدو ببرته لاړه. له دې لومړۍ ناکامۍ نه وروسته ټیم د کابل په لور روان شو، سبا ته یې یو بل ځای بیا مورچل ونیو. خو دغه مهال شوروي پوځیان د سیمې د تالاشۍ لپاره راووتل چې نږدې ۍ دغه ټیم پکې رابښکیل شي، تردې وروسته د چریکانو قوماندان پربېکړه وکړه چې د کابل پر هوایي ډګر د برید لپاره یو ګروپ واستوي، هنټر له دې ګروپ سره په برید کې د ګډون اجازه ونه مونده خو د عملیاتو په پلان جوړولو کې یې مرسته وکړه، هغه روزل شوي کسان او اته تنه مجاهدین کابل ته روان شول، دوې اونۍ وروسته د جولای پر لومړۍ یوه روسي انتونوف اې ان ۲۶ترانسپورتي الوتکه چې یو ګروپ پوځیان یې وړل، د کابل له هوایي ډګره والوته او بیا راوغورځول شوه، دا د ستېنګر لومړني عملیات وو.

هنټر او د ده ګروپ چې شپږ توغندي پنجشیر ته ورسره وړي وو، د احمدشاه مسعود ګروپ ته نور توغندي ورنکړای شول، د امریکایي پوځ د شوروي اتحاد د چارو کارپوه ډګرمن سکاټ مک مکایل په خپل کتاب

(c) ketabton.com: The Digital Library

(لسټمبلنګ بئیر... سوویت ملټري پر فارمنس ان افغانستان) کې لیکلي چې:

له دریو څخه دوې برخې سټېنګر توغندي پاکستان پر مجاهدینو وویشل چې لویه برخه یې د حکمتیار حزب اسلامي او نورو بنسټپالو ګروپونو ته ورکړه، احمدشاه مسعود ته یې هیڅ توغندي ورنکړل، د شارټ په قول دغه توغندي مسعود د پکتیا له مجاهدینو وپیرل، مک مکایل تور لګوي چې سي آی اې کوم توغندي آی اس آی ته ورکړل د هغو درېیمه برخه ورک شول، ځینې یې پاکستان د ټکس (مالیې) په دود پخپله وګرځول، نور یې مجاهدینو وپلورل او یا د شوروي او افغان پوځونو لاس ته ورغلل.

د سټېنګر توغندیو له لامله د شوروی هوایي ځواکونو فعالیت محدود کړای شو. پیلوټانو له ډېرې لوړې فضا څخه بمباري کوله، زیاتره به یې د شپې مهال بمباري کوله، د مجاهدینو د اکمالاتو کاروانونه زیات شول او په لویه کچه یې بریدونه پیل کړل. خو د ادعاؤ برعکس په جګړه کې د راغورځول شویو الوتکو او څرخیو زیات شمېر د سټېنګر په سبب رانسکورې نه شوې، د سکاټ مک میکایل په اند د سټېنګر له راتلو مخکې تر ۱۹۸٦ز پورې د شوروي اتحاد ٦۰۰الوتکې او څرخی رانسکورې شوې وې، دا یا په پېښو کې را لویدلې وې او یا بیا د چینایي داشکو (ډي اس ایچ کې) په ډزو کې راغورځیدلې وې، روسانو پردې اعتراف کاوه چې له مجاهدینو سره دا تر ټولو اغیزمنه الوتکو ضد وسله ده.

په ۱۹۸٦ز کې او تر هغو وروسته کلونو کې د شوروي الوتکو زیان زیات شو، د کال له ۴۳۸ څخه ۵۴۷ الوتکو ته ورسید، د دوی د ویجاړیدو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاملونو په اړه د نظر اختلاف دی چې په دې کې یې څومره د تخنیکي خرابۍ او یا د پیلوټ د غلطۍ له لامله لویدلې دي. د مک میکایل په قول د ویتنام په جګړه کې له منځه تللې شل سلنه امریکایي ځرغۍ د فني خرابۍ په سبب تباه شوې، او دا خبره باید په پام کې ولرو چې د افغانستان موسمي وضعه تر ویتنام سخته ده، د ده په قول د جګړې په لومړیو دوو کلونو کې له ۷۵-۸۰سلنه الوتکې د تخنیکي ستونزو له امله لویدلې او تباه شوې دي. ډېرې الوتکې د ځمکنیو بریدونو او باروتو په الوزولو سره له منځه تللې دي، سره له دې چې مجاهدینو الوتکو ضد داشکې ډېرې درلودې، د اتیایمې لسیزې په نیمایي کې د شوروي الوتکو په زیانونو کې ډېر لږ زیاتوالی راغی، خو له ۱۹۸٦ز وروسته زیاتره الوتکې د مجاهدینو د الوتکو ضد وسلو او توغندیو په ډزو کې راغورځیدلې دي، د هغه د اټکل له مخې د ټولې جګړې په بهیر کې د شوروي اتحاد له ۱۳۰۰-۱۵۰۰ وزره الوتکې له منځه تللې، په ۱۹۸۹ز کې له دولت څخه د را اوښتي یوه پیلوټ په قول د افغان هوایي ځواکونو ۹۷۵وزره او د شوروي اتحاد ۱۷۰۰ الوتکې له منځه ولاړې.

د ستېنګر توغندیو د اغیزمنتوب په اړه هم اختلافونه دي، له جګړې وروسته د امریکا د یوې ارزونې له مخې پر هدف د توغندي د لګیدو اندازه ۵۰ سلنه او د یوې سرچینې په قول ۷۹سلنه وه، د ځینو هغو مبصرینو په اند چې له نږدې یې د مجاهدینو عملیات لیدلي دي، ۵۰ سلنه اټکل ډېر حقیقت ته نږدې ښکاري، حقیقت دادی چې امریکا یوازې د ۳۰ سلنه وړتیا هیله درلوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

* * * *

په ۱۹۸٦ز کې مجاهدینو تر سرحد پورې غاړه په تاجکستان او ازبکستان کې هم عملیات وکړل، د ډګروال یوسف په قول، د دې پلان بنسټ د سي آی اې مشر ویلم کیسي کښښود. د ۱۹۸۴ز په اوږدو کې دغه عملیات یوازې تر رواني جګړې پورې محدود وو، چې د آی اس آی په اهتمام د مجاهدینو د شمال ګروپونه به تر آمو پورې وتل او په ازبکستان کې به یې د شوروي پوځیانو د ظلمونو په اړه لیکلي کتابونه ویشل، دوی د قرآنکریم لس زره ټوکه هم وویشل، په ۱۹۸۵ز کال کې آی اس آی پر آمو سیند جوړ شوي، د دوستۍ پله د الوزولو پلان جوړ کړ چې زر مټره اوږدوالی لري. دغه پل د ترمذ لویدیز لور ته اوه نیم میله لرې جوړ شوی او د افغانستان او ازبکستان ترمنځ د موټرو او ریل ګاډي لار پرې ټبره ده، له همدې ځایه د ټبلو نل لیکه هم ټبره شوې وه، خو د جنرال ضیاء الحق په حکم دغه پلان ودرول شو، ځکه چې د دې خطر ؤ چې شوروي به په توند غبرګون کې پر پاکستان برید وکړي.

راتلونکی کال مجاهدینو ته د ریل ګاډي د کرښې او ریل ګاډي د له منځه وړو ځانګړې روزنه ورکړای شوه. وروسته بیا تر آمو پورې غاړې ته د ریل پر کرښو څو ځلې بریدونه وشول، پردې کرښه له سمرقند نه ترمذ ته باروړونکي ریل ګاډي تلل راتلل، څو بریدونه بریالي وو، خو دوې حملې ناکامې شوې، داسې فکر کیږي چې روسان له هغو څخه مخکې خبر شوي وو، د برتانیې لخوا د باروتو د ماینونو په واسطه د موټرو له منځه وړو لپاره هم یو شمېر عملیات وشول. د شوروي پوځ پر سرحدي پوستو هم بریدونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وشول، مجاهدینو د دې پوستو ترمنځ پر لارو او سرکونو هم ماینونه وغوړول، د دوی د تیلفون او برېښنا مزي به یې وشلول، لوی لوی تاسیسات یې هم نښنه کړل.

د ۱۹۸٦ز په دسمبر کې ۳۰ تنه مجاهدین پر آمو پورې وتل، د تاجکستان پر دوو برېښنا بندونو یې بریدونه وکړل، ډېرې دغسې بریدونه د راکټ لانچرونو په واسطه کیدل چې له ۵تر اوه نیم میله پورې یې هدف ویشتلای شوای.

په دې بریدونو کې چې کوم اهداف وویشتل شول په هغو کې د پیاندزه نومي ښار په اطرافو کې یو هوایي ډګر، او د شرکان او نزني پیاندزه ترمنځ د تیلو د تصفیې یوه کارخانه هم وه.

دغه بریدونه د ۱۹۸٦ز او ۱۹۸۷ز کلونو په اوږدو کې روان وو، د اپریل په پیل کې له ترمذ څخه ۱۵ میله شمال لویدیز لور ته د شروب په ساحه کې پر یوه هوایي ډګر د راکټونو درنه حمله وشوه، دغه مهال د مجاهدینو یوه بل ګروپ د ترمذ او تاجک برید ترمنځ پر یوه پوځي کاروان برید وکړ پینځه موټر یې له منځه یوړل او یو شمیر روسي پوځیان یې ټپیان او ووژل.

د اپریل په نیمایي کې په ازبکستان کې ۱۲ میله دننه د فابریکو پر یوه کمپلکس برید وشو، دغه کمپلکس د آمو سیند په شمال کې قرغان تیپه ښار ګوټې ته نږدې پروت دی، چې په لوی شمېر کارخانې، د ریل تاسیسات، برېښنا کوټ، او هوایي ډګر پکې شامل دي. له برید کوونکي ګروپ سره دوه لانچرونه او ۳۰ مرمۍ وې، دوی هدف ته نږدې په یوه ځای کې پټ شول. دغه ځای د میاشتې په پیل کې د دوی قوماندان او د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وو ملګرو ورته ټاکلی ؤ چې دلته مخکې راغلي وو. له پینځه میله واټن څخه دوی پر هدف د راکټونو ډزې پیل کړې، ۲۰ چاودنې وشوې او یو شمېر ودانیو ته سخت زیان ورسید، ټول مجاهدین له هغه ځایه تر سهار مخکې بېرته راووتل، د روسانو غبرګون ډېر توند ؤ. د دوی څرخیو د آمو سیند په جنوب کې د امام صاحب شاوخوا ته سخته بمباري وکړه او ډېر کلي یې وران کړل.

راتلونکې شپه مجاهدین له سینده پورې وتل او د امام صاحب په لور روان شول. په دې موده کې یې د قوماندان پښه پر ماین وربرابره شوه او غوڅه شوه، په راتلونکیو شپږو ورځو کې شوروي الوتکو پر دوی څو ځلې سختې بمباري وکړې، چې په هغو کې یې څلور تنه ملګري نور هم ټپیان شول، خو له څو اونیو مزلونو وروسته دغه ګروپ پاکستان ته ورسید.

شوروي اتحاد د دې برید په غبرګون کې پاکستان ته ګواښ وکړ چې که بیا داسې برید تکرار شي نو ډېرې ناوړه پایلې به ولري، امریکا او پاکستان پرېکړه وکړه چې نور به داسې بریدونه نه کیږي.

* * * *

په افغانستان کې د ۱۹۸۷ز د دوبي په موسم کې دولتي پوځ له لویو ماتو سره مخ شو، په می او جون کې د کندهار پر ارغنداب چې کوم برید وشو هغه له سختې ماتې سره مخ شو. د پکتیا پر ځائیو هم یو یرغل سخت ناکام شو، په دې موده کې روسان وپوهیدل چې په شنه آسمان کې ستېنګر خپل هدف ښه ویشتلی شي، خو که الوتکه ټیټ پرواز وکړي نو بیا د ستېنګر د حرارتي وړانګو لټوونکی نظام، د شاوخوا تاوجنو ګړنګونو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

تودوخه کې راښکیل کیږي، ځکه خو د دوی ترانسپورتي او څرخیو الوتکو ټیټې الوتنې پیل کړې، خو د دې پایله دا شوه چې نه یوازې دغه الوتکې د مجاهدینو د درنو ماشیندارو دم ته راغلې، بلکې پردې سربېره له غرونو سره د ټکر امکانات یې هم ډېر شول چې له دې سره یې د عملیاتو وړتیا محدوده شوه.

د ۱۹۸۷ز په جون کې مجاهدینو د کابل-جلال آباد د لارې بندولو لپاره د عملیاتو پرېکړه وکړه، راتلونکې میاشت په شمال کې احمدشاه مسعود په تخار کې د کلفګان پر ګارنیزیون برید وکړ، د دې برید لپاره هغه له څو اونیو راهیسې سخته تیاري نیولې وه، د جولای پر ۱۴مه یې د ګارنیزیون د پینځو پوستو پر دفاعي کرښې د توغندیو باران پیل کړ، په دې باران کې د ګارنیزیون توپخانه فلج شوه، دې ته نږدې د روسانو پر توپچي قوا د مسعود یوه بل ګروپ برید وکړ او هغوی یې هلته بوخت وساتل او له افغان ځواکونو سره یې مرسته ونکړای شوه.

لږ ځند وروسته د مسعود جنګیالیو مینونه ټول کړل او ځمکنۍ حملې ته یې لاره پاکه کړه، ځمکنۍ حمله پیل شوه او په یوه ساعت کې یې پینځه واړه پوستې لاندې کړې. تردې وروسته یې د ګارنیزون دفاعي مورچلونه هم مات کړل، مابنام له زیاتو پوځي وسایلو او یو شمېر بندیانو سره بېرته ستانه شول.

د ۱۹۸۷ز په وروستیو کې خوست یو ځل بیا کلابند کړای شو، مجاهدینو د هوا له لارې د مرستو اکمالات د ستېنګر توغندیو په واسطه پر خوست ودرول. شوروي پوځونو د خوست چونې ته د مرستو رسولو لپاره ۲۰ زره

(c) ketabton.com: The Digital Library

عسکر ګردیز ته ورسول، له دې سره وروسته څو فرقې افغان پوځ هم یو ځای شو، د هوایي عملیاتو لپاره پر ترانسپورتي او ګنشپ څرخیو سربېره اس یو ۲۵فراګ فټ ډوله بمبارد الوتکو دوه کنډکونه له شوروي اتحاد څخه راوغوښتل شول، دغه د مرستو او اکمالاتو عملیات د (مسترال) په نامه د نومبر په وروستیو کې پیل شول، دوو افغان فرقو د شوروي د هوایي ځواکونو د یوه کنډک په بدرګه له ګردیز نه د خوست په لور پرمختګ پیل کړ، په پیل کې مجاهدینو ډېر کلک مقاومت وکړ، په ځواب کې روسانو هوایي ځواک بېدریغه وکاراوه، سوخو ۲۵الوتکو له ډېرې جګې فضا څخه بمباري کولې، په دې موده کې یوې افغان لوا له ارګون څخه د خوست په لور پرمختګ پیل کړ چې له شمال لوري په دواړو درو کې د مجاهدینو لاره غوڅه کړي، خو مجاهدینو له وخت وړاندې دغه خطر درک کړ او له درو ووتل.

روسي پوځونو د شپې له لوري د هلیکوپترو په واسطه یو غونډ کوماندویان ښکته کړل چې د میراجان په نامه سیمه ونیسي، چې د خوست-ګردیز د لارې د غرونو په جنوبي اړخ کې پرته ده (په اصلي متن کې د میراجان ښار په نامه یاد شوی، چې اصلاً د ګوتو په شمار یو څو دوکانونه او هوټلونه وو چې د مجاهدینو کاروانونه به پرې تېریدل او د میراجان دوکانونه یادیدل، زه د مجاهدینو له کاروانونو سره څلور ځله په دې لاره تیر شوی یم، یو ځل چې له وردګو پېښور ته روان وو ماسپښین مهال مو دلته لمانځه او د غرمې ډوډۍ ته واړول، د دښمن دوې جیټ الوتکې راغلې، تر سلو زیات مجاهدین وو شاوخوا ته سره تیت او پټ شول، الوتکو درې لوی بمونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وغورځول، پارچې او ډبرې يې زمور تر سرونو واوښتې، اسونه، يا بوګان تر سلو زيات مجاهدين او د ځدرانو د همدې سيمې د دوکانونو په لسګونو تنه ځايي کسان له دې بمباری ټول خوندي پاتې شول. (ژباړن)

يو بل غوند په خوست کې پلی کړای شو چې کلابندي يې ماته کړه او د ګردیز په لور يې د شمال لور ته پرمختګ پيل کړ.

مجاهدينو دغه مهال د خوست-ګردیز پر سرک زيات ماينونه ښخ کړي وو او له هغه ځايه ووتل، زغروالو ټانګونو او زره پوښونو د جنوب پر لور پرمختګ ته دوام ورکړ، چې د ماينونو او مجاهدينو د توغنديو د ډزو له امله يې پرمختګ ډېر کرار ؤ، بالاخره د دوی اړيکه له خوست څخه د شمال په لور له خوځيدليو ګروپونو سره ټينګه شوه، او د دسمبر پر ۲۰مه د مرستندوی پوځ لومړني ګروپونه ښار ته ننوتل.

د جګړې د پايته رسولو لپاره خبرې اترې له ۱۹۸۲ز څخه روانې وې، دغه خبرې د ملګرو ملتونو تر څارنې لاندې د افغانستان او پاکستان د حکومتونو ترمنځ بالواسطه روانې وې، دغه پروسه له دې لامله ډېره پېچلې او لانجمنه وه چې د پاکستان حکومت د کابل حکومت په رسميت نه پيژاند، ملګرو ملتونو منځګړتوب کاوه، ډيګو کور دوويز د هغوی ځانګړی استازی وټاکل شو، د ژنيو خبرې اترې اوږدې او پېچلې دي، تفصيل يې ډيګو کوردوويز له ژورناليست سليګ هريسن سره په ګډه ليکلي اثر (د افغانستان د جګړې، د پردې تر شا حقايق) کې راوړی دی. د ۱۹۸۷ز په وروستيو او د ۱۹۸۸ز په لومړيو وختونو کې د ژنيو د ټرون په وړاندې تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولو ستر خنډ د پاکستان په دننه د ولسي کړیو کې دا اختلاف ؤ چې له جګړې وروسته به په افغانستان کې څه ډول حکومت منځته راځي.

آی اس آی چې د جنرال ضیاءالحق د واکمنۍ په موده کې یې ځواک او نفوذ ډېر پراخ شوی ؤ، پرېکړه یې کړې وه چې په کابل کې باید د بنسټپالو جهادي ډلو حکومت جوړ شي، هغه مهال د آی اس آی مشر جنرال حمید ګل ؤ چې سخت دریځه اسلامپال نظریات لري، خو د پاکستان نوي نومول شوي صدراعظم محمد خان جونیجو او د بهرنیو چارو وزیر یعقوب خان بیا غوښتل چې په نوي حکومت کې باید د جلاوطن پاچا ضاهرشاه رول وي چې هغه د شوروي اتحاد لپاره هم د منلو وړ ؤ، قومپالو او له کمونستانو پرته نورو ډلو هم د هغه ملاتړ کاوه، که څه هم ضیاءالحق یعقوب خان ته دا اجازه ورکړه چې دغه نظریه د روسانو تر غوږ ورتېره کړي، خو بیا ضیاءالحق او آی اس آی دا ناکامه کړه، جنرال ضیاء د روسیې د بهرنیو چارو له وزیر اناتولي کوول یوف سره په لیدنه کې پر هغه فشار راوړ چې په کابل کې باید بنسټپال اسلامي حکومت جوړ شي.

د ۱۹۸۸ز په لومړیو کې پاکستان له سیاسي بې ثباتۍ سره مخ شو، د ضیاالحق او جونیجو تر منځ د اقتدار پرسر کشمکش پیل شو، جنرال ضیاءالحق، یعقوب خان برطرف کړ او د بهرنیو چارو وزارت دنده یې په خپل لاس کې واخیسته او د کلنۍ بودیجې د تصویب پر مهال یې د خپل نفوذ اعمال وښود، تر اوسه پورې جنرال ضیاالحق د روسانو د دې غوښتنې په وړاندې چې، له کابل نه د پوځونو وتل باید د ګډ حکومت پرسر د پاکستان او امریکا له توافق سره تړلي وي له امریکا سره ملګری ؤ، خو اوس

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې ناڅاپي خپل دريځ بدل کړ او اعلان يې وکړ چې پاکستان به تر هغو د ژنيو پر تړون لاسليک ونه کړي تر څو مسکو نجيب له واکه لرې نه کړي او پردې توافق ونه کړي چې په کابل کې به د هغو اوو جهادي ګوندونو په خوښه لنډ مهاله حکومت جوړيږي چې په پاکستان کې دي، دوی وويل چې کابل حکومت ته د غير کمونستو ډلو په منځګړتوب وړوکې نمايندګي ورکولای شو چې د خلق ديموکراتيک ګوند ته د منلو وړ وي او ښه مسلمان وي، هغه دا هم وويل چې يوه ديرش کسيزه شورا بايد جوړه شي چې ۱۲تنه غړي يې ښه سوچه مسلمانان وي.

د ضيالحق او جونيجو ترمنځ د ځواک پرسر لانجه تونده شوه، په مارچ کې هغه مهال دې سيالۍ د ټکر بڼه خپله کړه چې د ۱۹ سياسي ګوندونو په کنفرانس کې له جماعت اسلامي او دوو نورو بنسټپالو ګوندونو پرته، نورو پربکړه وکړه چې د ژنيو تړون بايد لاسليک شي. د پاکستان کابينې هم دغسې نظر ورکړ، چې غونډه يې د مارچ پر ٦مه مانښام مهال وه، په دې کې له يوه وزير پرته نورو ټولو د تړون د لاسليک په پلوی رايه ورکړه.

د خپل حکومت له لوري له داسې مخالفت او د امريکا او شوروي اتحاد د مخالفت له لامله ضيالحق ته د تړون له لاسليک پرته بله چاره نه وه، چې د اپريل پر ۱۴مه پرې لاسليک وشو، خو جنرال ضيا ٦ اونۍ وروسته خپل کسات واخيست، جونيجو يې برطرف کړ، خو پايله دا شوه چې پاکستان له بحران سره مخ شو. د ګرمۍ په موسم کې دی پخپله له سياسي صحنې څخه ورک شو. د اګسټ پر ۱۷مه د پاکستان د هوايي چلن هر کولس ۱۳۰ سي، وي آی پي ترانسپورتي الوتکه له بهاولپور څخه اسلام آباد ته د راتلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لاره کې راوغورځیده او له منځه لاړه، په دې کې جنرال ضیالحق، جنرال اختر عبدالرحمان، د امریکا سفیر ارنولډ رافیل، او جنرال هربرټ واسم چې په پاکستان کې یې دامریکا د پوځي اتشه دنده درلوده، هم سپاره وو.

د پاکستان د تحقیقاتو بورډ او امریکایي کارپوهانو له څیړنو وروسته دا پایله واخیسته چې د الوتکې عمله د کوم ډول کیماوي غاز په کارولو سره فلج کړای شوي دي خو د مجرمینو هیڅ درک معلوم نشو.

د ضیالحق او اختر عبدالرحمان وژل کیدل، مجاهدینو ته ډېر لوی تاوان ؤ، خو د شوروي پوځونو پر بېرته ستنیدو یې کومه اغیزه ونه کړه، د شوروي پوځونو وتل د می پر ۱۵مه پیل شوي وو، د روسانو ٦٦م پلی غوندې له جلال اباده کابل ته او له کابله د خیرخانې له لارې پر سالنګ ور واوښت او څلور ورځې وروسته د حیرتان له لارې له سرحده واوښتل او شوروي اتحاد ته ننوتل، د وتلو پر مهال په افغانستان کې د شوروي اتحاد د پوځونو شمېر یو لک او درې سوه تنه وو، مجاهدینو نه غوښتل چې د شوروي پوځونو د وتلو لاره بنده کړي، خو دا احساس یې ورکاوه چې دوی شته دي. د جون په نیمایي کې دوی د غزني او کابل ترمنځ لویه لاره وتړله، له دې لامله، شوروي پوځ کندکونو او ډلګیو د وتلو لپاره ډېره اوږده لاره غوره کړه، په اګسټ کې مجاهدینو د بغلان په کیله ګی دښته کې د شورویانو پر یوه لویه پوځي ډېپو سخت توغندي ور واورول او دغه ډېپو یې والوزوله او بشپړه له منځه لاړه.

د نومبر په پیل کې شوروي پوځونو د لنډ مهال لپاره د وتلو بهیر ودراوه، او له جلال آباده یې ختیځ لور ته د وړاندې تلو په حالت کې له افغان پوځ

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره کلکه د هوايي ځواک بدرګه ملګرې کړه او توغندي يې ورکړل، تردې وروسته يې د وتلو بهير بيا پيل کړ او د راتلونکي کال تر فبروري پورې يې دوام درلود.

کله چې وروستی پوځي په افغانستان کې د شوروي پوځونو قوماندان، جنرال بوريس گروموف د دوستې پر پله ازبکستان ته واوښت، نو پر افغانستان د شوروي اتحاد پوځي تيری هم پای ته ورسيد، په څه باندې نهه کلونو کې د شوروي پوځونو ۱۳۳۱۰ تنه ووژل شول، ۳۵۴۷۸ تنه ټپيان او ۳۱۱ تنه بې درکه شول. د مجاهدينو د سر د زيان کوم شمېر او حساب نشته، خو له دوه نيم لکه تنو تر لس لکو پورې بېلابېل اټکلونه شوي دي.

د شوروي پوځ له وتلو سره په افغانستان کې امن رانغی، د کابل حکومت پر خلاف جګړې دوام وکړ، د ۱۹۸۹ز د مارچ په پيل کې مجاهدينو بې وخته جبهه يې جګړه پيل کړه او د جلال آباد د نيولو لپاره يې برید پيل کړ. دوی غوښتل چې جلال آباد يې د هغه عبوري حکومت مرکز شي چې د ۱۹۸۸ز په دسمبر کې په پېښور کې جوړ شوی ؤ، دوی فکر کاوه چې د جلال آباد له نيولو سره به د کابل نيول هم ورته آسانه شي.

په جلال آباد کې ۱۱مه فرقه پرته وه، شاوخوا ته يې د ماينونو غوړيدو له لامله لاندې کول تقريباً ناممکن وو، پردې سربېره افغان پوځ له هوايي ځواک څخه زيات کار واخيست. د مجاهدينو پر مرکزونو له سختو بمباريو نه علاوه يې سکاډ توغندي هم وکارول، کله چې د ۱۹۸۹ز په سپتمبر کې کلابندي ختمه شوه نو شاوخوا لس زره تنه مجاهدين وژل شوي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(په دې کې شک نشته چې د جلال آباد جګړه د آی اس آی پلان ؤ او سخته ناکامه شوه، خو د لس زره تنو مجاهدینو وژل کیدل ډېره لویه مبالغه ده. ژباړن)

راتلونکی کال په فبروري کې د امریکا او شوروي اتحاد ترمنځ دا ټړون وشو چې تر څو د ملګرو ملتونو تر څارنه لاندې انتخابات ونشي، نو د ډاکټر نجیب واکمني به دوام لري.

په می کې داکټر نجیب د ګڼ ګوندیز حکومت د نافذولو اعلان وکړ، خو مجاهدینو د هغه د سولې او تفاهم د ټولو پروګرامونو مخالفت وکړ.

په دې موده کې دواړو لویو ځواکونو پر ښکیلو لوریو د پوځي مرستو د بندولو لپاره خبرو اترو ته دوام ورکړ. شوروي اتحاد تر اوسه پورې کابل حکومت ته په لویه پیمانه وسلې ورکولې، د ۱۹۸۹ز په لومړیو شپږو میاشتو کې هغوی د اوه نیم میلیارد ډالرو مرسته ورسره وکړه چې په هغو کې ۵۰ سکاډ توغندي هم شامل وو، بل لوري ته بیا امریکا پر مجاهدینو مرستې ډېرې کمې کړې وې، د سپتمبر پر ۱۳مه په مسکو کې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر جېمز بېکر او د شوروي اتحاد د بهرنیو چارو وزیر بوریس پانکن ترمنځ ټړون لاسلیک شو او د ۱۹۹۲ز د جنوري پر لومړۍ دواړو لوریو مرستې بشپړې بندې کړې.

له جګړې وروسته د سي آی اې له لوري د چمتو شویو سټېنګر توغندیو زیاته برخه ورک شول، سي آی اې هڅه وکړه چې دغه توغندي له مجاهدینو څخه بېرته وپیري خو ډېر لږ په دې بریالي شول، د ۱۹۹۰ز په نیمایي کې دغه توغندي په تور بازار کې یو میل په یو لک ډالره پلورل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کیدل. په ایران کې چې د مجاهدینو له یوه کاروان څخه د ستېنګر توغندیو یو شمېر نیول شوي وو، خاینو افسرانو په تور بازار کې هغه یو میل په درې لکه ډالرو پر قاچاقبرانو پلورل، هغوی غوښتل له حکومتي څرخیو نه د ژغورنې لپاره یې لاسته راوړي.

وروسته بیا معلومه شوه چې د انجنیر حکمتیار د حزب اسلامي قوماندانانو ۱۶ ستېنګر توغندي د ایران د انقلاب پر پاسدارانو پر یو ملیون ډالره پلورلي دي. سي آی اې دومره اندېښمنه وه چې له کانګرس نه یې لس میلیونه ډالره منظوري واخیستله چې دغه توغندي بېرته پرې وپیري، خو هیڅ ګټه یې ونه کړه، تردې مهاله د دې توغندیو یوه زیاته برخه د دوی له لاسه وتلي وو، او د وسلو په تور بازار کې تر لرې لرې پورې رسیدلي وو.

په جګړه کې د سي آی اې له لوري د چمتو شویو ستېنګر توغندیو ریښتینی شمېر، د اکمالاتو په لارو کې د خورد او برد شویو توغندیو شمېر، او د هغو توغندیو شمېر په باب چې بالاخره تور بازار ته رسیدلي دي، هیڅ حساب کتاب معلوم نه دی، همدومره ویل بس دي چې سي آی اې د دې وسلې په چمتو والي کې له ډېر سخاوت څخه کار اخیستی ؤ د یو منصبدار په قول: (مورِ د شیرنیو په څېر وویشل).

* * * *

د ۱۹۲۲ز په اپریل کې بالاخره نجیب له واکه لرې کړای شو، هغه مهال چې جنرال دوستم خپله وفاداري بدله کړه او خپله ازبکي ملیشه یې د ده د لرې کولو لپاره وکاروله، ډاکټر نجیب د ملګرو ملتونو دفتر ته پناه یووړه چې هلته یې تر څلورو کلونو پورې عملاً د یوه بندي په څېر ژوند وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تردې وروسته له حزب اسلامي پرته د نورو ټولو جهادي ګوندونو مشرانو د پېښور پر ټرون لاسلیک وکړ چې د هغو له مخې یوه عبوري اداره جوړیدله، حکمتیار دغه معاهده لاسلیک نه کړه، د جون په وروستیو کې برهان الدین رباني د افغانستان د ولسمشر په توګه وټاکل شو، په جولای کې د افغان جهادي ډلو ترمنځ په کابل کې جګړه ونښته، د ۱۹۹۲ز په دسمبر کې د پېښور د ټرون پر خلاف برهان الدین رباني د دوو نورو کلونو لپاره د ولسمشر په توګه وټاکل شو که څه هم د راتلونکي کال په مارچ کې دغه موده اتلس میاشتو ته راکمه کړای شوه، د ۱۹۹۳ز په جون کې ګلبدین حکمتیار صدراعظم وټاکل شو، چې پردې د هغه سخت دښمن احمدشاه مسعود له دفاع وزارت څخه استعفا ورکړه، جګړه بیا پیل شوه. چې د ۱۹۹۶ز په اکتوبر کې طالبان راپورته شول چې تر اوسه پورې مشهور شوي نه وو. د ملامحمد عمر په مشرۍ دوی د کندهار شاوخوا سیمې ونیولې، راتلونکی کال په سپتمبر کې د دوی جنګیالیو د افغانستان په لویدیز کې ځینې سیمې د هرات ولایت په شمول فتحه کړې، تردې وروسته کابل ته رانږدې شول او په اکتوبر کې یې پر کابل توغندي ویشتل پیل کړل. د ۱۹۹۶ز په پیل کې طالبانو ختیځ افغانستان تر برید لاندې ونیو، جلال آباد او ورپسې د سپتمبر پر ۲۷مه یې کابل هم ونیو، تردې سمدستي وروسته دوی ډاکټر نجیب الله د ملګرو ملتونو له ودانۍ څخه راویوست او ویې واژه.

د ۱۹۹۷ز د مې پر ۲۴مه طالبانو مزار شریف ونیو، جنرال دوستم یوه اونۍ وړاندې د خپل یوه قوماندان جنرال عبدالملک له مخ اړولو وروسته ترکیې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته تښتیدلی ؤ، سبا ته یې پاکستان، سعودي عرب او عربي متحده اماراتو د طالبانو امارت په رسمیت وپیژاند، خو د می پر ۲۸مه پهلوان مالک خپله وفاداري بیا بدله کړه. له حکمتیار سره یې اتحاد وکړ. له طالبانو سره له توندې جګړې وروسته یې هغوی له مزار شریف څخه وشړل. په دې جګړه کې زیات شمېر طالبان ووژل شول.

په جولای کې په مزار شریف کې د طالبانو مخالف حکومت جوړ شو. برهان الدین رباني یې ولسمشر او عبدالرحیم غفورزی یې صدراعظم او پهلوان عبدالملک یې د بهرنیو چارو وزیر وټاکه. تر دې وروسته د پهلوان ملک او مسعود ملیشو د هزاره جات له شیعه ملیشو سره په ګډه طالبان د کابل په لور ټېل وهل، طالبانو یو ځل بیا په سپتمبر کې پر مزار شریف حمله وکړه خو ناکام شول، ځکه خو د ۱۹۹۷ز په وروستیو کې پر افغانستان عملاً دوه حکومته مسلط وو یو د طالبانو د جنوب په پښتون اکثریت میشته سیمو چې کابل هم پکې شامل ؤ، بل د شمالي ټلوالې په نامه چې په شمال کې په تاجک، ازبک، ترکمن، او هزاره سیمو کې واکمن وو.

طالبانو دا ژمنه کړې وه چې هېواد به له فساد او انارشۍ څخه ژغوري، کله چې دوی په حکومت کې راغلل، ولس په پیل کې ډېر په جوش او جذبه د دوی هرکلی وکړ، خو ډېر زر دغه جوش او احساسات مړه شول، ځکه چې طالبانو اسلامي نظام نافذ کړ. ځوانانو ته یې د ږیرو پرېښودو حکم وکړ، ښځې یې له کار کولو منعه کړې، ښوونځي یې وتړل. او د درو وهلو، لاس غوڅولو او سنګسار شرعي قوانین یې پلي کړل، پر سندرو، پر کتابونو او هر ډول تفریح یې بندیز ولګاوه، افغانستان څو کاله وروسته ببرته منځنیو

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیړیو ته تللی ؤ. (دلته د لیکوال نظر یا په ناپامې او یا قصداً ډېر مغرضانه دی. افغان ولس د ریښتیني اسلامي نظام پر خلاف هیڅکله هم نه ؤ، د اسلامي نظام لپاره یې په لنډه ماضي کې ډېره درنه قرباني ورکړې وه، البته دا ریښتیا ده چې طالبانو په ځینو اړخونو کې افراط کاوه او همدې افراط ولس ناراضه او مایوس کړی ؤ، پردې سربېره د طالبانو واکمني یوازې پر پښتون میشتو سیمو نه وه، بلکې پر ۹۵سلنه هیواد یې واکمني کوله، خو په دې کې شک نشته چې ولس د دوی د ځینو افراطي کړو وړو څخه ناراض ؤ، دغه نا رضایت قومي نه ؤ بلکې عام ؤ. ژباړن)

* * * *

په افغانستان کې د سي آی اې د عملیاتو له پایته رسیدو پینځه کاله تېر شول، خو دوی دلته خپل خطرناک میراث پریښی ؤ، د جګړې له پایته رسیدو وروسته یو زیات شمېر ښو روزل شویو چریکانو ځانونه د مهاجرینو په کمپونو کې ولیدل.

دوی اوس نه د افغانستان په کار وو، نه د پاکستان او امریکا..په دوی کې د سعودي شتمن، اسامه بن لادن پیروان هم وو، چې نوموړی د مجاهدینو د راټولولو او دوی ته د پیسو چمتو کولو تر ټولو لوی شخص ؤ. د شوروي اتحاد له وتلو وروسته هغه د (القاعده) په نامه تنظیم جوړ کړ چې په پاکستان کې د سلګونو بهرنیو مجاهدینو مرسته وکړای شي.

پر ۱۹۹۱ز کې اسامه بن لادن خپل هیواد ته ستون شو، هلته یې د سعودي پر خاوره د امریکایي پوځیانو د شتون په مخالفینو کې تر ټولو ښکاره مقام ؤ. د هغه په غیاب کې پاکستان پربکړه وکړه چې نور به مجاهدینو ته دلته

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پاتې کیدو اجازه ورنکړي چې تر اوسه پورې د سرحد ایالت(اوسنی پښتونخوا) په کمپونو کې اوسیدل، نور دوی ناخوښي میلمانه وو، پاکستان د دې مسالې د حل لپاره له سي آی اې څخه مرسته وغوښتله، خو هغوی هیڅ ونه کړل.

د پاکستان د صبر کاسه تر مورګو شوه، ګوابښ یې وکړ چې د اسامه بن لادن او نورو ډلو مجاهدین به په اسلام آباد کې د امریکا په سفارت کې خوشي کړي.

ژورنالیست او د منځني ختیځ د چارو کارپوه عادل درویش وایي چې، سي آی اې پردې مساله له سعودي عرب او د عربو خلیج له نورو هیوادونو سره اړیکې ونیولې، پر هغوی یې فشار راوړ چې دې مجاهدینو ته پاسپورټونه ورکړي. دوی یې له بېلابېلو ځایونو څخه خپلو خپلو هیوادونو ته ورسول، ۹۰۰تنه دغسې مجاهدین الجزایر ته لاړل، هلته یې توندلاری اسلامي پوځي تنظیم (جي آی اې) جوړ کړ، چې له ۱۹۹۰ز وروسته یې ویره او وینې تویونه پیل کړه، ځینې نور یې مصر ته لاړل، هلته یې له هغو ګروپونو سره ملګرتیا پیل کړه چې غوښتل یې د حسني مبارک واکمني راچپه کړي. ځینې یې بوسنیا ته لاړل او د صربي پوځیانو پر خلاف یې له مسلمانانو سره واړول، ځینې یې لبنان، آذربایجان او چیچینیا ته لاړل چې پلازمینه ګروزنې د مجاهدینو د تګ راتګ په مرکز بدل شو، د عبدالرسول سیاف کسان فلیپین ته ورسیدل.

ډېر مجاهدین د اسامه بن لادن په القاعده تنظیم کې شامل شول چې له لویدیز سره یې د جګړې لپاره تیاری نیولو، هغه په ټوله نړۍ کې د اسلامي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترهګرو یوه شبکه جوړه کړې وه، امریکا یې تر ټولو ستر هدف ؤ، پر ۱۹۹۲ز کې یې پرې لومړۍ برید وکړ، د دسمبر پر ۲۹مه د یمن د عدن په بندر کې په هغه هوټل کې یو بم وچاودید، چې امریکایانو صومالیې ته د تګ راتګ پر مهال د هستوګنې لپاره ترې کار اخیست. دوه امریکایي سیلانیان په چاودنه کې ووژل شول. دغه مهال د عدن پر هوایي ډګر د ترهګرو یوه ډله هم ونیول شوه چې غوښتل یې پر یوه امریکایي الوتکه ډزې وکړي.

څو میاشتې وروسته، ترهګرو په امریکا کې د امریکا پر خلاف برید وکړ، په ۱۹۹۳ز د فبرورۍ پر ۲۳مه د نیویارک د سوداګریز مرکز لاندې د موټرو په پارکنګ کې یو لوی بم وچاودید. په دې برید کې شپږ تنه ووژل شول او زر تنه نور ټپیان شول، زیاتو ودانیو ته هم زیان واوښت، څلور تنه توندلاري اسلامپال، محمود ابوحلیمه، محمد سلامه، احمد عجاج او ندال ایاز ونیول شول، پر ۱۹۹۴ز د مې پر ۲۴مه پرې عمري بند سزا وختله.

په دې معاملو کې تر اوسه د اسامه بن لادن د نیغ لاس درلودو اسناد نه دي موندل شوي، خو پر هغه کلکې بدګومانۍ کیږي چې همده په بریدونو کې مرسته کړې ده، وروسته له پلټنو څخه دا معلومه شوه چې بم جوړوونکیو ته له هغو تیلفوني نومرو زنګونه راتلل چې له اسامه بن لادن سره یې اړیکې درلودې.

د بمي چاودنې پلان جوړوونکی رمزي احمد یوسف تښتیدلی ؤ، د هغه په اړه د ۱۹۹۴ز د مارچ تر ۱۴مې پورې هیڅ معلومات نه کیدو چې د ټایلنډ په پلازمینه بنکاک کې یې د یوه برید هڅه وکړه، هغه یو لوی بم په یوه کرایي واګون موټر کې کښښود او غوښتل یې د امریکا یا اسرائیلو سفارت

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته يې يو سي، خو په لاره کې له دوو نورو موټرو سره ټکر شو، ترهګرو موټر پر ځای پرېښود او وتښتيدل. درې ورځې وروسته د واګون مالک د خپل موټر د ترلاسه کولو لپاره له پوليسو سره اړيکه ونيوله، چې بيا له موټر نه د چلوونکي مړی او بم راپيدا شول، چلوونکی ترهګرو غرغره کړی ؤ او وژلی يې ؤ، پر بم د رمزي يوسف د ګوتو نښې وې، خو تر دې مهاله پاکستان ته په تېښته بريالی شوی ؤ.

د يوسف بل ماموريت چې په څرګنده د اسامه بن لادن په اشاره ؤ، د ۱۹۹۴ز په نيمايي کې پای ته ورسيد، هغه فليپين ته لاړ او د ابوسياف ګروپ مسلمانو ببلتون پالو په فني روزنه يې لاس پورې کړ، دا هغه سلګونه مجاهدين وو چې په افغانستان کې يې د عبدالرب رسول سياف، د اتحاد اسلامي په ليکو کې په جهاد کې برخه اخيستې وه، د ۸۰يمې لسيزې په نيمايي کې د ګروپ يو مرکز د عبدالرزاق ابوبکر جنجلاني په مشرۍ پاکستان پرېښود او د فليپين جنوب ته راغلي وو او د يوه اسلامي جمهوريت جوړولو لپاره يې مبارزه کوله.

دوی د فليپين د حکومت او د مورو د خپلواکۍ غورځنګ (ايم ان اېل ايف) په منځ کې د سولې خبرو اترو د درولو لپاره څو ځله د بمي بريدونو او برمته کولو عمليات وکړل، د ۱۹۹۰ يمې په لسيزه کې دې ګروپ په ټوله جنوبي آسيا کې د تر ټولو توندلاري اسلامي ګروپ شهرت ګټلی ؤ. اسامه بن لادن، ابوسياف ګروپ ته پيسې برابرولې او رمزي يوسف ته يې دا مسوولیت سپارلی ؤ چې هغوی ته د بمونو جوړول او الوزول ور زده کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوسف په باسیلان جزیره کې د ابوسیاف په مرکز کې څو اونۍ تېرې کړې او هغوی ته یې د بمونو جوړول ور زده کړل، د ۱۹۹۴ز په سپتمبر کې هغه مانیلا ته راغی او دلته یې د یوه بل اسلامي ګروپ د دعوت اسلامي ګوند له دوو غړیو سره ولیدل، دې ګروپ په ګرده نړۍ کې د اړیکو ځانګې درلودې، د هغوی په مرسته یې شل تنه وګومارل او د اسامه له لوري د راتلونکي ماموریت لپاره یې چې د امریکا د ولسمشر بل کلنټن وژل وو تیاری ونیو، نوموړي په نومبر کې مانیلا ته سفر درلود، یوسف د ماموریت لپاره پر پلان ښه کار وکړ، خو د ډېرو سختو امنیتي تدابیرو له لامله یې خپل پلان پرېښود. تردې وروسته یې د دوهم پاپ جان د وژلو پلان جوړ کړ چې راتلونکی کال مانیلا ته را روان ؤ.

تردې وړاندې رمزي یوسف یو ډېر وړوکی خو ډېر ځواکمن بم جوړ کړی ؤ، د ده اراده داوه چې دغسې ډېر بمونه په ګرده نړۍ کې په ډېرو الوتکو کې کیږدي، د دسمبر پر ۱۱مه ده د فلیپین په یوه بوینګ الوتکه کې چې ۲۷۳تنه مسافر او ۲۰تنه عمله پکې سپاره وو، او له مانیلا نه د سیبو له لارې توکیو ته روانه وه، د بم اېښودو تجربه وکړه، دی له مانیلا نه په الوتکه کې سپور شو تر خپلې کرسۍ لاندې یې بم کېښود، چې سیبو ته ورسیدل یوسف تړې ښکته شو، له سیبو نه د توکیو په لور چې الوتکه والوته، دوه ساعته وروسته بم وچاودید. د یوسف پر کرسۍ ناست کس یې وواژه، د الوتکې تله سورۍ شوه، پیلوټ وتوانید چې الوتکه په اوکیناوا کې راکوزه کړي. څو ورځې وروسته رمزي یوسف بېرته مانیلا ته راغی او له هغه ځایه اسلام آباد ته لاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له اسلام آباده له یوه پخواني اډیوال عبدالحق مراد سره ببرته مانیلا ته راستون شو او د ابوسیاف د ګروپ په روزنه یې بیا لاس پورې کړ. د ۱۹۹۵ز د جنوري په لومړۍ اونۍ کې د ده کور چې بمونه به یې پکې جوړول اور واخیست. له دې لامله دی له خپلو ملګرو سره له هغه ځایه وتښتید. اور وژونکې عمله ورغله اور یې مړ کړ. بیا پولیس ورغلل او د بم جوړولو له کارخانې خبر شول. په تالاشۍ کې لپ ټاپ کمپیوټر، د بمونو جوړولو ترکیبونه، کیمیاوي مواد، بریښنایي ټایم ښوونکی، له نورو یو شمېر اسنادو او وسایلو سره راپیدا شول، څه موده وروسته عبدالحق مراد ونیول شو. د هارد ډسک له لومړنیو ارزونو څخه معلومه شوه چې له جنوب منځنی آسیا څخه امریکا ته پر تلونکیو الوتکو د بریدونو پلانونه جوړول، د کمپیوټر او نورو اسنادو له نورو پلټنو څخه، د رمزي یوسف د وژونکیو پلانونو او د نړیوال سوداګریز مرکز له بمي چاودنې سره د ده د لاس درلودو په اړه ډېر ارزښتمن اسناد او معلومات ترلاسه شول.

یوسف پاکستان ته وتښتید، خو د جنوري په پای کې له خپل ملګري سره تایلند ته راغی، دلته یې له بنکاک نه امریکا ته پر تلونکې یوې الوتکې د برید پلان جوړ کړ چې ناکام شو. پردې دواړه ببرته پاکستان ته راغلل، خو د ده ملګري څو ورځې وروسته د امریکا له سفارت سره اړیکې ونیوې او خپل آدرس یې ور وښود.

د فبروري پر ۷مه ایف بي ای او ډی ایس اېس (د دیپلوماتیک امنیت اداري) غړیو د یوه ټیم په بڼه، د آی اس آی له چارواکیو سره په ګډه، نوموړی له هغه هوټل څخه ونیو چې د اسامه بن لادن د کورنۍ د یوه غړي ملکیت ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پاکستان او یو شمېر نورو ځایونو کې توندلارو د ده د نیولو په غبرګون کې غچ اخیستونکي بریدونه ترسره کړل چې وروسته یې هغه امریکا ته وسپاره، د مارچ په اتمه په کراچۍ کې د امریکا د قنسلګرۍ پر درې غړیو یوه تن د ټوپکو ډزې وکړې، دوه یې ووژل او یو یې ټپي شو، درې اونۍ وروسته د ابوسیاف ۲۰۰ تنو چریکانو د فلیپین په جنوب کې د آیبیلي په ښار کې پر عیسویانو برید وکړ ۵۰ تنه یې ووژل او په سلګونو یې ټپیان کړل.

رمزي یوسف د ۱۹۹۶ز په می کې محاکمې ته راکش شو، د سپتمبر پر ۵مه پرې جرم ثابت شو او د ۱۹۹۷ز د فبروري پر ۱۲مه پر هغه ۲۴۰ کاله د سخت بند سزا وختله.

په دې موده کې اسامه بن لادن، د امریکا، سعودي عربستان او شمالي افریقا پر خلاف چې ده د (لوی شیطان) پلویان وبلل جګړې ته دوام ورکړ، د ۱۹۹۳ز په جون کې د اردن پر ولي عهد شهزاده عبدالله او د ۱۹۹۵ز به جون کې د ایتوپیا د سفر پر مهال د مصر پر ولسمشر حسني مبارک د وژونکیو بریدونو تر شا د هغه لاس درلودل ښودل شوي دي. تردې مهاله د ده له فعالیتونو څخه په واشنګټن، ریاض او نورو پلازمېنو کې سختې اندېښنې راپیدا شوې وې. د ۱۹۹۴ز په اپریل کې له هغه د سعودي عربستان تابعیت سلب کړای شو، راتلونکی کال پر سوډان فشارونه زیات شول چې هغه له هیواده وشړي.

د ۱۹۹۵ز د نومبر پر ۱۳مه د سعودي په پلازمینه ریاض کې، د ملي امنیت د ارتباطاتو مرکز مخې ته یو بم وچاودید چې پینځه تنه امریکایان او دوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

تنه هندوان، پکې ووژل شول او تر ٦٠ تنو زیات ټپیان شول. درې پوړیزه ودانۍ ډبره بده زیانمنه شوه. د دې پړه دوو ډلو، د بدلون لپاره اسلامي غورځنګ،او د خلیج پرانګانو، پر غاړه واخیسته. خلیج پرانګانو دا اعلامیه خپره کړه چې که امریکایان له سعودي څخه ونه وزي نو دوی به دغسې بریدونه ډبر کړي. له پښې وروسته څلور تنه سعودي توندلاري، عبدالعزیز بن فهد بن ناصر، خالد بن احمد بن ابراهیم، ریاض بن سلیمان او مصلح بن زیاد ونیول شول، د مې پر ۳۰مه د هغوی سرونه تري غوڅ شول.

په دې څلورو کې درې تنو په افغان جهاد کې برخه درلوده. څلورم یې په بوسنیا کې جهاد کاوه، ویل کیږي چې سعودي واکمن پردې خبر وو چې په دې پښه کې اسامه بن لادن لاس درلود.

سعودي عرب پرېکړه وکړه چې اسامه ته (خبرداری) ورکړي، په خرطوم کې څلورو وسله والو د ده پر کور ډزې وکړې، چې په ځوابي ډزو کې درې تنه ووژل شول څلورم ونیول شو چې بیا سوډاني ځواکونو وواژه.

د ۱۹۹٦ز په پیل کې پر اسامه بن لادن یو ناکام وژونکی برید وشو، د دې برید تر شا هم د سعودیانو لاس ؤ، سعودي تردې برید وړاندې اسامه ته وړاندیز کړی ؤ چې که جګړه بس کړي نو د ده تابعیت به بېرته برحال کړي، اسامه دغه وړاندیز رد کړ، له دې سره سعودي عرب له امریکا سره په ګډه پر سوډان فشار راوړ، چې په پایله کې یې اسامه له هیواده وشاړه. په می کې هغه له خپلې کورنۍ او ۲۰۰ تنو ملګریو سره افغانستان ته راغی. ډبر زر یې بل برید وکړ، د جون پر ۲۵مه شپه، د سعودي عربستان د زهران پر هوایي ډګر د امریکا د هوایي ځواکونو د هستوګنې ودانۍ (خوبربرج)

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخې ته یو ځواکمن بم وچاودید، په دې کې ۱۹تنه امریکایي پوځیان ووژل او ۳۸۵تنه ټپیان شول. چاودنې ته نړدې ودانې بشپړه ویجاړه شوه، له چاودنې څخه وړاندې له پینځه زره ګیلنه تیلو ډک یو ټانکر له بهرنۍ شیرازې سره نړدې ودرول شو، یوازې دوې دقیقې وړاندې هلته دوه کسان په یوه وړوکي موټر کې ولیدل شول چې لاړل، د دې چاودنې پرې د شهید عبدالله الحذیفه ډلې او حزب الله پر غاړه واخیسته.

اسامه دغه برید ډېره د زړورتیا کارنامه وبلله، په دې کې د ده د لاس درلودلو شکونه هغه مهال زیات شول چې د امریکا د ملي امنیت اداري، د اسامه بن لادن او د مصر د حرکت جهاد اسلامي د مشر ایمن الظواهري ترمنځ تلیفوني اړیکې ونیولې، په دې تلیفوني خبرو کې الظواهري اسامه ته د چاودنې مبارکي وویله، په ۱۹۸۳ز کې د مصر د ولسمشر انورالسادات له وژنې دوه کاله وروسته، الظواهري د وژنې پر جرم محاکمه شو او درې کاله بند پرې وخوت. خو هغه یوازې ۱۶میاشتې په زندان کې پاتې شو. په ۱۹۹۸ز کې هغه ځینو ملګرو له اسامه بن لادن سره د مخ پر زیاتیدونکیو اړیکو له لامله له حرکت جهاد اسلامي څخه لرې کړ. له اسامه سره د الظواهري لومړنی ملاقات پر ۱۹۸۵ز کې شوی ؤ، وروسته هغه په القاعده کې شامل شو، د اسامه مرستیال او د دې ډلې سیاسي مشر شو.

۱۸ میاشتې وروسته په ترهګرۍ کې د اسامه د لاس درلودو یو څرګند سند پیدا شو. د ۱۹۹۸ز د اګسټ پر ۷مه د کینیا په پلازمینه نایروبي کې د امریکا د سفارت مخې ته یوه لویه بمي چاودنه وشوه چې، دوه سوه تنه پکې ووژل شول او تر څلور نیم زرو تنو پورې ټپیان شول، تردې پینځه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دقیقې وړاندې د تانزانیا په پلازمینه دارالسلام کې د امریکا د سفارت مخې ته بمي چاودنه وشوه چې په هغو کې ۱۱ تنه ووژل شول او ۸۵ نور ټپیان شول.

دواړه چاودنې د القاعده ځانمرګیو بریدګرو وکړې، دا هغه مهال تائید شوه چې د نایروبي د چاودنې د تنظیم ګروپ مشر محمد صدیق عودې، چې له چاودنې یوه ورځ وړاندې پاکستان ته تللی ؤ، ونیول شو. پاکستاني چارواکیو له پلټنو وروسته هغه امریکا ته وسپاره، په دې موده کې په ځینو نورو ځایونو کې هم د القاعده غړي ونیول شول او د پلټنو په بهیر کې له هغوی څخه نور معلومات هم ترلاسه شول. په دوی کې یو تن محمد راشد داود العوالي هم ؤ، چې په خالد سلیم مشهور ؤ چې په نایروبي کې ونیول شو، نوموړی یوه اونۍ وړاندې له پاکستان نه راغلی ؤ او په هغه موټر کې سپور ؤ چې بم یې پکې بار کړی ؤ. کله چې د ده ملګري ځانمرګي بم وچاوداوه، دی څو شېبې مخکې ترې کوز شوی ؤ. په چاودنه کې د ټپي کیدو په سبب یې هغه روغتون ته ورساوه. څو ورځې وروسته وپیژندل شو، او ونیول شو امریکا ته یې وسپاره. د دې ګروپ څلورم غړی فضل عبدالله محمد له کینیا څخه وتښتید.

د دارالسلام د چاودنې یو تورن محمد صادق هویدا هم ونیول شول، دا هم د فلسطین ؤ او له بم جوړولو وروسته له چاودنې مخکې پاکستان ته تللی ؤ، نوموړی یې هغه مهال ونیو چې کله یې غوښتل په جعلي پاسپورټ افغانستان ته لاړ شي، هغه هم امریکا ته وسپارل شو چې هلته ترې نور معلومات هم ترلاسه شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

داګست پر ۲۰مه د اسامه بن لادن پر خلاف عملیات وشول، د عربو په سمندرګي کې ولاړې له امریکایي بیړۍ څخه ۷۵ کروز توغندي د ترهګرو پر مرکزونو وتوغول شول.

کوم مرکزونه چې نښه کړای شول، په هغو کې د البدر دوهم لمبر کمپ چې داسامه په ملاتړ د کشمیري جنګیالیو، حرکت الانصار ډلې د امیر معاویه مرکز هم پکې شامل ؤ. د امیر معاویه مرکز له هغو درې مرکزونو څخه یو ؤ چې په ځرګنده د پاکستان د آی اس آی لخو چلیده.

له سرې بحیرې څخه په سوډان کې د درمل جوړولو پر هغه کارخانه هم توغندي وتوغول شول، دغه کارخانه د خرطوم شمال ختیځ ته په څو میلې کې پرته ده، پردې شک ؤ چې د اعصابو د فلج کولو غاز اجزاوې پکې چمتو کیږي، خو دا شک غلط ؤ. اسامه ته د برید خبر مخکې رسیدلی ؤ، چې له همدې لامله هغه د افغانستان شمال ته تللی ؤ، پر کومو مرکزونو چې بریدونه وشول، په هغو کې د انسانانو د وژل کیدو له لامله د اسامه په پیروانو کې د امریکا پر خلاف کرکه نوره هم زیاته شوه، او د توند لارو مسلمانانو په منځ کې د اسامه محبوبیت نور هم زیات شو.

د دې بریدونو غبرګون هم ډېر زر وښودل شو، داګست پر ۲۵مه د جنوبي افریقا په کیپ ټاون کې په (پلینټ هالي وود) رستوران کې بمي چاودنه وشوه چې دوه تنه پکې ووژل او ۲۷ټپیان شول، د (نړیوال ظلم پر خلاف مسلمانان) نومي ګوند د دې برید پړه ومنله او وې ویل چې دغه عملیات د امریکا د بریدونو په ځواب کې وو. په کیپ ټاون کې د پام وړ شمېر مسلمانان اوسیږي. دلته د ۹۰یمې لسیزې په بهیر کې یو شمېر توند لاري

(c) ketabton.com: The Digital Library

گوندونه جوړ شول، یاده شوې ډله هم په همدې کې شامله وه چې د قومپال سرسخت مخالف تنظیم (پي اې جي اې ډي) سره یې هم اړیکې وې.

د اسامه پر مرکزونو له بریدونو وروسته هغه د افغانستان په شمال او ختیځ کې نوي مرکزونه جوړ کړل. د القاعده لوی مرکز یې کندز ته ولیږداوه، جلال آباد ته نږدې یې په توره بوړه، درونټه، هډه او ملاوه کې، او کابل ته نږدې یې په جلریز کې مرکز جوړ کړ، دوه نور مرکزونه یې له پاکستان سره کرښې ته نږدې په ستو کنډو او مستون چندایي کې جوړ کړل. د اسامه شبکه د پېښور له لوري په پاکستان کې هم پراخیدله، دلته یې له افغانستان څخه د راتلونکیو القاعده غړیو لپاره دتګ راتګ یو مرکز هم جوړ کړ. پر ۱۹۹۹ز کې د امریکا او بریتانیا له لوري د طالبانو پر حکومت فشارونه زیات شول چې اسامه له هیواده وشړي. بریتانیا اندېښنه درلوده چې په لندن کې جوړ شوي ځینې تنظیمونه په ټوله بریتانیه کې په پټو ځایونو کې مسلمانان روزي، دې مرکزونو ته، راغلي ځوانان دې ته هڅول کیږي چې یمن او یا افغانستان ته د پوځي روزنې لپاره لاړ شي. د یوه راپور پر اساس هر کال ۲۰۰۰ تنه برتانوي مسلمانانو دغسې روزنه ترلاسه کوله.

د ۱۹۹۸ز د دسمبر پر ۲۴مه د اتو تنو برتانوي مسلمانانو یوه ډله، د یمن په عدن کې د بمي چاودنې د هڅې په تور ونیول شوه. د دوی هدف د برتانیې سفارتخانه، یوه کلیسا او دوه هوټلونه وو. له دوی څخه یوه تن د یمن په ختیځ کې د شابوا په سیمه کې پوځي روزنه هم لیدلې وه، دلته د (عدن اسلامي پوځ) نومې ډلې یو مرکز هم ؤ چې د دسمبر پر ۲۸مه یې د خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتو تنو بندیانو د خلاصون لپاره ۱۶ تنه د لویدیزو هیوادونو اوسیدونکي برمته کړل. سبا ته یې له هغو څخه څلور تنه برمته شوي، درې تنه برتانویان او یو تن استرالیایي هغه مهال ووژل شول چې کله یمني پوځ د دوی د راخوشي کیدو لپاره عملیات وکړل. د اګسټ پر ۹مه یې اتو واړو کسانو ته سزا واورولې، خو له دوی څخه یې ۳تنه د تېر کړي زندان پر بنسټ خوشي کړل، نورو ته یې له ۲-۷ کلونو دبند سزا واورولې.

شپږ میاشتې وړاندې د اسامه د بې درکۍ خبرونه راغلي وو، خو د ۱۹۹۹ز په مارچ کې، لویدیزو استخباراتي ادارو هغه د افغانستان په ختیځ کې پر خپلو مرکزونو د راګرځیدو په حالت کې لیدلی ؤ. له دې سره دغه خبر هم خپور شو چې، هغه د کشمیري ګروپ حرکت الانصار سره هم مرسته کوي، د حرکت دوه ګروپونه دي دواړه پر ۱۹۸۰ز کې د افغانستان د جګړې لپاره چمتو کړای شوي وو، یو حرکت المجاهدین دی چې مشر یې فضل الرحمان خلیل دی، بل یې تر لومړي زیات توندلاری حرکت الجهاد. د ۱۹۹۹ز په پیل کې دا معلومه شوه چې حرکت یوازې له کشمیر څخه نه بلکې له افغانستان، پاکستان او برتانیې څخه هم خلک دعوتوي. دا چې برتانوي مسلمانان نه یوازې د کشمیر د عملیاتو لپاره بلکې په کوسوو، پاکستان او چیچینیا کې د عملیاتو لپاره هم دعوتوي، پردې شواهد هغه مهال را افشا شول چې سنډې ټیلګراف دغه خبره رالوڅه کړه چې د (ریل ټریک) د معلوماتي ټکنالوجۍ امنیتي سلاکار محمد سهیل، د کمپنۍ له کمپیوټر او اېمېل آدرس څخه د داوطلبانو د بلنې او ګومارنې لپاره کار اخیست. هغه په لندن کې د (نړیوال جهاد فنډ) لپاره کار کاوه چې مشر یې د سعودي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکومت یو مخالف محمد المصري ؤ، هغه پر حرکت الجهاد سربېره له څو نورو ډلو سره هم مالي مرسته کړې وه، نوموړي له خبریالانو سره په خبرو کې مخامخ پردې اعتراف کړی ؤ چې د اسامه بن لادن او المصري لپاره کار کوي.

حرکت د ۱۹۹۰ ز په نیمایي کې ډېر مشهور شو، کله یې چې په کشمیر کې یو شمیر د لویدیز اوسیدونکي وتښتول، د هغوی د خوشي کولو په بدل کې یې د لس تنو توندلارو کشمیریانو د خوشي کولو غوښتنه وکړه، خو پولیسو عملیات وکړل او یرغمل شوي کسان یې راخوشي کړل. د ۱۹۹۵ز په جولای کې حرکت المجاهدین د (الفاران) په نامه څلور تنه برتانویان، یو امریکایي او یو جرمنی سړی وتښتول، د دوی د خوشي کیدو په بدل کې یې د خپل مشر مولانا مسعود اظهر په شمول ۲۱ تنو کشمیري جنګیالیو د خوشي کیدو غوښتنه وکړه، یو تښتول شوی پردې بریالی شو چې وتښتي، د بل تن سر له تنې غوڅ شوی وموندل شو، د یوه بل تن د بدن ټوټې د ۲۰۰۰ز په جنورۍ کې وموندل شوې، په هند کې د دې ان اې له ازموینې معلومه شوه چې، دا د یوه برتانوي مړی ؤ، خو په برتانیه کې دغه ازموینه غلطه ثابته شوه، د پاتې څلورو برمته شویو درک ترننه ونه لګید چې څه شول.

د ۱۹۹۹ز په جولای کې تر القاعده د توندلارې ډلې د راپیدا کیدو نښې راپیدا شوې، دغه ډله د (تکفیر) په نامه وه چې په ۱۹۷۰ز لسیزه کې د مصر په زندانونو کې جوړه شوه، هلته په زیات شمیر توندلاري مسلمانان بندیان وو. د دوی زیات شمیر یې د افغانستان په جهاد کې برخه اخیستې وه، خو د جهاد له پایته رسیدو وروسته دغه ډله ورکه شوه. د ۱۹۹۹ز په لومړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیمایي کې دغه ډله له دې خبرونو سره بیا راڅرګنده شوه، چې دوی د اسامه په لټون پسې سرګردانه وو او دوی هغه (دروغجن پیغمبر) باله، داسې خبرونه خپاره شول چې دوی دري ځلې پر اسامه وژونکي بریدونه وکړل، او د القاعده او تکفیر ترمنځ څو ځلې نښتې شوې دي.

* * * *

د ۱۹۹۹ز په اکتوبر کې د طالبانو امارت د ترهګرو د مرکزونو ټرلو ته راضي شو، دوی زیات شمېر توندلاري بېرته پاکستان ته واستول، دغه پېښه افغانستان ته آی اس آی د مشر جنرال خواجه ضیاالدین له سفره وروسته وه، نوموړي د صدراعظم نوازشریف په وینا د طالبانو له مشر ملاعمر سره ولیدل، خو طالبانو، ملګرو ملتونو ته داسامه بن لادن له سپارلو ډډه وکړه، چې امریکا غوښتل محاکمه یې کړي، پردې انکار امریکا پر افغانستان بندیزونه ولګول. د دې بندیزونو له لامله په امریکا کې د آریانا افغان هوایي شرکت ۴۵۰ ملیون ډالره کنګل کړای شول، او له افغانستان نه د باندې طالبانو شتمنۍ ټولې کنګل شوې، په پایله کې په کابل کې خلک راوپاریدل، په اسلام آباد کې د امریکا پر سفارت، د ملګرو ملتونو پر دفتر او د ملګرو ملتونو د خوراک د پروګرام پر مرکز د بمونو او توغندیو بریدونه وشول.

طالبانو د اسامه له سپارلو څخه انکار کړی ؤ، خو د ملګرو ملتونو بندیزونو د دوی په منځ کې تذبذب راپیدا کړ، یوه لور ته دوی په نړیواله کچه دا غوښتنه کوله چې حکومت یې په رسمیت وپیژندل شي او مرستې ورسره وشي، بل لوري ته دوی د نړۍ تر ټولو ستر ترهګر ته پناه ورکړې وه، چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

سر بیه یې درې ملیون ډالره ټاکل شوې وه، دغه خطرناکه وضعه پخپله اسامه هم درک کړې وه چې د وژل کیدو خطر یې احساساوه او تل به خوځنده ؤ. د ده د کورنۍ غړي او ډېر ښه وسله وال ساتونکي به هم تل ورسره وو. هغه ته اوس هم له بېلابېلو وسایلو څخه مرستې رسیدې، چې په هغو کې ځینې سرچینې په سعودي عربو کې وې، په دې کې پینځه سوداګر وو چې په ښکاره یې د خپل امنیت لپاره ده ته د جزیې په ډول پیسې ورکولې.

د ۱۹۹۹ز په پای کې په ډېرو هیوادونو کې د ترهګریزو ډلو د بریدونو خطر ؤ، په امریکا کې دغه خطر هغه وخت ریښتیا ثابت شو چې د دسمبر پر ۱۴مه یو الجزایری احمد رسام د شمال لویدیز ریاست واشنګټن د انجلس په بندر کې ونیول شو، هغه د کاناډا له ویکتوریا ښار نه د کیښتۍ په واسطه دلته راغلی ؤ، د هغه له موټر څخه نایترو ګلسرین او د بم جوړولو نور سامان راووت، داسې څلور وخت ښودونکي هم تړې راووتل چې پخوا القاعده له هغو څخه کار اخیستی ؤ، رسام چې په افغان جهاد کې برخه اخیستې وه په مونتریال کې اوسیدو، دده اړیکې د الجزایر د (جي آی اې) ډلې سره ښودل شوې دي، د پولیسو په وینا هغه غوښتل په سیاټل کې د زریزې د جشن پر مراسمو برید وکړی. د ده له نیول کیدو درې ورځې وروسته معلومه شوه چې یو الجزایری ملګری یې له مونټریال څخه امریکا ته ننوتلی دی، څلور ورځې وروسته درېیم الجزایری له کاناډا نه امریکا ته ورسید، له نیول کیدو وروسته د هغه له موټر څخه په زیاته اندازه چاودیدونکي توکي ونیول شول. د ده د سفر ملګرې یوې کاناډایي مېرمنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اړه دغه خبر ترلاسه شو چې له یوه الجزایري توند لاري سازمان سره اړیکې لري.

لس میاشتې وروسته اسامه بن لادن یو ځل بیا برید وکړ، د ۲۰۰۰ز د اګسټ پر ۸مه، پر لرې واټن ویشتونکیو توغندیو بار (یو اس اس کول) لویه بیړۍ په ورجینیا کې له خپلې اډې (نارخاک سمندري اډې) څخه د یمن په لور روانه شوه، د اکتوبر پر ۱۲مه د تیلو اچولو لپاره دعدن په بندر کې ودریده او له ساحل نه ۶۰۰ متره لرې په سمندر کې یې لنګر واچاوه. لس نیمې بجې یې د تیلو اچول پیل کړل، ۴۵ دقیقې وروسته له چاویدونکو موادو ډکه یوه وړوکې کیښتۍ ورسره وجنګول شوه او لویه چاودنه وشوه، د بیړۍ له عملې نه اوه تنه ووژل شول او ۳۹ نور ټپیان شول. په کیښتۍ کې ۳۹ فټه لوی درز راغی، ټول ټال ۲۴۰ ملیون ډالره بیړۍ ته زیان واوښت، په وړوکې کیښتۍ کې دواړه ځانمرګي بریدګر هم ووژل شول.

له پلټنو څخه معلومه شوه چې بم له ۴ تر ۷ سوه پونډه پورې دروند ؤ او ډېر د لوړې درجې چاودیدونکي مواد (سی ۴) پکې کارول شوي وو چې په امریکا کې جوړیدل او سعودي عربستان، کویټ او د شاه د وخت ایران او یو شمېر نورو هیوادونو ته ورکول کیدل.

د افغان جهاد پر مهال دغه مواد مجاهدینو ته هم ورکړای شول. پردې سربېره شل کاله وړاندې د سي آی اې یوه پخواني غړي فرنک ټرپل ته په دې تور سزا ورکړای شوه چې هغه ۲۱ ټنه C4 ډوله مواد لیبیا ته د ترهګرو د روزنې لپاره ورکړي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر یو اس اس کول له برید څخه په ۲۴ساعتونو کې دننه، د اکتوبر پر ۱۳مه سهار شپږ بجې د یمن په پلازمینه صنعا کې د برتانیې پر سفارت هم چاودنه وشوه، دغه بم له دیوال نه ور وغورځول شو چې ودانۍ ته یې ښه زیان واړاوه.

د دې چاودنو پړه درې ګروپونو، دعدن اسلامي پوځ-ابیان، جیش محمد، او اسلامي غورځنګ ومنله، اسلامي پوځ د ابوالحسن المحضر په مشرۍ پر ۹۸کال په جنوبي یمن کې د ۱۶تنو لویدیځو هیوادونو اوسیدونکیو د تښتونې مسوول هم ؤ. دغه ډله له جهادي سازمان څخه ښکله شوې وه چې د ۱۹۹۰ز په لسیزه کې یې یو شمېر بریدونه کړي وو، په دې ډله کې پخواني افغان مجاهدین او د بېلابېلو هیوادونو تونډ لاري شامل وو.

د دوی ډېرې نړدې اړیکې د لندن د فنسبري پارک د جومات له امام ابوحمزه المصري او په عدن کې د امریکا او برتانیې پر اهدافو د بریدونو په توطیه کې د نیول شویو برتانوي مسلمانانو سره ښودل کیدې.

یمني چارواکیو د چاودنو د مسوولینو د موندلو لټون پیل کړ او ۶۰ تنه یې په دې شک ونیول، د اکتوبر پر ۱۶مه یې په عدن کې له یوه کوره د بم جوړولو سامان او اسناد ونیول، دغه کور دوو ځانمرګیو بریدګرو د یوې میاشتې لپاره په کرایه نیولی ؤ. له دوی څخه یو تن عرب ؤ، په نړدې انګړ کې هغه یوه وړوکې کیښتۍ ساتلې وه چې له برید وروسته هغه بې درکه شوه.

له دغو دوو تنو څخه یوه تن خپل جعلي اسناد د عبدالله احمد خالد په نامه د کور مالک ته ورکړي وو. د اکتوبر پر ۲۳مه پلټونکو اعلان وکړ چې دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

له ډېرو کورونو څخه جعلي اسناد او یو شمېر موټر نیولي دي، پردې یې د مرکزي احصائیې د اداري له مامورینو څخه پلټنې وکړې، معلومه شوه چې دوی ځانمرګیو بریدګرو ته نه یوازې دا چې جعلي اسناد برابر کړي وو بلکې دولتي موټر یې هم ورکړي وو.

د نومبر په لومړۍ اونۍ کې، څلور تنه نور ونیول شول، د نومبر پر ۱۱مه معلومه شوه چې ځینو شکمنو کسانو په یمن کې پر امریکایي اهدافو په نورو بریدونو کې په لاس درلودو اعتراف وکړ، وروسته بیا دا هم افشا شوه چې یو کال وړاندې د ۱۹۹۹ز په نومبر کې هغوی پر هغو امریکایي پوځیانو د برید پلان جوړ کړ چې د یمن د باروتي ماینونو د پاکولو ملي مرکز ته روان وو. خو یمني پوځ د دوی په لاره ښخ کړي ماینونه کشف او بېرته ټول کړل او پلان یې شنډ کړ. دغه پوځي منصبداران هره ورځ د عدن له رایل هوټل څخه دغه مرکز ته تلل راتلل، پردې هوټل د برید پلان جوړ شوی ؤ خو هغه ناکام شو.

تردې وروسته درېیم برید د ۲۰۰۰ز د جنوري پر ۳مه د امریکا پر خطرناکه کیښتۍ (یو اېس اېس) پلان شوی ؤ، خو له چاودیدونکیو موادو ډکه شوې کیښتۍ له کاره ولویده چې بیا له دې پلان نه هم صرف نظر وشو.

له نورو پلټنو څخه دا معلومه شوه چې پر یو اېس اېس کول د حملې طراح یو پخوانی افغان مجاهد، محمد عمر الحرازي چې په (عبدالرحمن حسین النشاري) مشهور ؤ، یو یمنی اوسیدونکی دی او په عربي متحده اماراتو کې اوسیږي. خو وخت پر وخت عدن ته ځي راځي. وروسته دا هم معلومه شوه چې دی په نایروبي کې د امریکا پر سفارت د یوه ځانمرګي بریدګر د

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاکا زوی هم دی. پر کیښتی له برید څخه څلور ورځې مخکې له یمن څخه بې درکه شو.

د چارواکیو په توقیف کې تر ټولو لوی تورن جمال البداوي ؤ، هغه د یمن اوسیدونکی ؤ او په افغان جهاد کې یې برخه درلوده، په افغانستان کې یې له الجزایري سره خبرې اترې وشوې، د نومبر په نیمایي کې یمني چارواکیو دا دعوه وکړه چې له دوو ځانمرګیو بریدګرو څخه یې یو تن پیژندلی دی، د هغه نوم سعید اود الخمری ؤ، هغه د یمن د حضر الموت سیمې اوسیدونکی ؤ، د اسامه بن لادن د کورنۍ رېښې له همدې ځایه سره تړاو لري.

بالاخره یمني چارواکیو د تورنو کسانو شمېر راکم کړ او ٦ تنه یې پرېښودل، امریکا وغوښتل چې دغه کسان دوی ته وسپارل شي خو رد کړای شوه، ځکه چې د یمن په اساسي قانون کې یې ځای نشته.

د ۲۰۰۱ز د فبروري پر ١٦مه دوه نور تورن کسان ونیول شول چې له افغانستان نه یمن ته بېرته راستانه شوي وو، د دوی نومونه محمد احمد الاحدال او احمد محمد امین وو، له دواړو څخه له پلټنو څخه وروسته چارواکیو وویل چې محمد عمر الحرازي له بل شریک تورن سره په افغانستان کې دی. یو ځل بیا له افغان تړاو څخه امریکا پردې باوري شوه چې د دې بریدونو ریښه هم اسامه بن لادن ته رسیږي.

پر یو اېس اېس کول له برید اتلس میاشتې وروسته، په نړۍ کې د ترهګرۍ تر ټولو ستره پېښه وشوه. د ۲۰۰۱ز کال د سپتمبر پر ۱۱مه د دوشنبې په ورځ پاو کم نهه بجې د امریکا د هوایي چلن یوه بوینګ ۷٦۷ ډوله مسافر

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړونکې الوتکه د نړیوال سوداګریز مرکز پر ۱۳۶۸فټه لوړ شمالي برج ولګیده، چاچې دغه نداره لیدله فکر یې کاوه چې دا یوه خطرناکه ناڅاپي پېښه وه، خو ۱۱ دقیقې وروسته په اتو بجو او ٥٦ دقیقو دغه خیال غلط وخوت، په امریکا او نوره نړۍ کې په لسګونو زره خلکو ولیدل چې د امریکا د هوایي چلن اړونده ۷٦۷ بوینګ بله الوتکه راغله او پر جنوبي برج ورننوتله، د ویریدلیو خلکو په وړاندې د دواړو برجونو پاسني پوړونه په لنبو او دودونو کې ورک شول، په لس بجو او اوه دقیقو جنوبي برج راونړید. شل دقیقې وروسته شمالي برج هم رانسکور شو، په زرګونو کسان ووژل شول، ډېرو کسانو له دې وېرې چې ژوندي د اور د لمبو خوراک نشي ځانونه را وغورځول او ووژل شول.

په واشنګټن کې د پوټامک سیند نه پورې غاړې ته د امریکا د هوایي چلن درېیمه الوتکه بوینګ ۷۵۷ په نهو بجو او ۳۸ دقیقو د پنټاګون پر لویدیځ لوري دیوال ور وجنګیده، د ودانۍ له پینځو کانکریټي دیوالونو څخه تر دریم دیوالونو ورننوتله، چې له لامله یې د ودانۍ یوه برخه رانسکوره او ویجاړه شوه، په دې کې د ۵۸ تنو مساپرو، شپږ تنو عملې په شمول ۹۰ تنه ووژل شول، دغه مهال ایف بي آی ته دا معلومات وشو چې دریم واړه الوتکې تښتول شوې وې، خو په لس نیمو بجو د یوې بلې الوتکې خبر هم راغی، ۲۰دقیقې وړاندې د امریکا متحده ایالاتو د هوایي چلن له نیویارکه سان

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرانسسکو ته تلونکې ۵۹۳ الوتکه له پټس برګ سره نږدې راولویده او له منځه لاړه.

په راتلونکیو ورځو کې دا څرګنده شوه چې څلور واړه الوتکې عربي ځانمرګیو بریدګرو تښتولې وې، چې د ۵۹۳ د الوت، سرښندویو سپرلیو یوې ډلې د څلورمې بربادوونکې حملې هڅه ناکامه کړه، په څو نورو راتلونکیو ورځو کې د ا څرګنده شوه چې دغه بریدونه د یوه نوي ترهګر تنظیم د ډېر دقیق پلان شویو عملیاتو برخه وه، سمدستي پر اسامه بن لادن شک وشو او ډېر زر ایف بي آی ته د امعلومات په لاس ورغلل چې د ترهګرو یوه شبکه په امریکا کې فعاله شوې ده ، چې ځینو غړیو یې دلته د پیلوټي زده کړې هم کړې وې. د ۱۹ تنو برمته کوونکیو ترهګرو نومونه هم معلوم شول، خو د دوی د مستعارو نومونو په باب دومره اندېښنې وې، چې د ریښتینې پیژندنې مخه یې ډب کړې وه. په راتلونکیو اونیو کې پلټنې روانې وې او د اکتوبر پر ۴مه د بریتانیا صدراعظم ټوني بلیر، اعلان کړه چې کره ثبوتونه چې ردیدای نشي، پیدا شوي چې، د سپتمبر د ۱۱مې په بریدونو کې القاعده او اسامه لاس لري. دوی دا اعلان هم وکړ چې له ۱۹ څخه د درې تنو ځانمرګیو اصلي شناخت شوی دی، دوی د اسامه مشهور ملګري دي، د دوی د ۱۵ تنو په باب دا معلومات وشو چې د سعودي عربستان اوسیدونکي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې موده کې اسامه له افغانستان څخه په چوپه خوله وضعه څارله، هغه پوهیده چې امریکا او متحدین یې د ده پر خلاف د حملې پر پلان فکر کوي. د سپتمبر په وروستیو کې د امریکا او بریتانیا د سمندري او ځمکني پوځ لوی شمېر په عربو سمندرګي او د فارس په خلیج کې وګومارل شول. د **امریکا لسمه غرنۍ فرقه د افغانستان شمالي سرحد ته نږدې په ازبکستان کې د شوروي پوځونو په پخوانیو اډو، خان آباد او قرشي کې وګومارل شوې. هلته دوی د امریکا او برتانیې د خاصو ځواکونو لپاره د عملیاتي ټیمونو مرکزونه جوړ کړل.**

د اکتوبر پر ۷مه د امریکا هوایي ځواکونو په افغانستان کې پر اهدافو بریدونه پیل کړل، په پیل کې د طالبانو زیاتره هوایی ډګرونه ویجاړ کړای شول، دغه مهال دغه خبرونه خپاره شول چې د امریکا او برتانیې خاص ځواکونه افغانستان ته ننوتل او د دوی ځینو د شمال ټلوالې له جنګیالیو سره اړیکې ټینګې کړې.

د اکتوبر پر ۱۹مه، د کندهار په شمال لویدیځو څنډو کې د ۷۵یم لمبر کوماندو کنډک سل تنو پوځیانو له لومړني عملیاتي ګروپ(ډیلټا فورس) سره په ګډه چاپه ووهله، کوماندویان، د ۱۳۰ سي الوتکو څخه په پاراشوټو کې راکوز کړای شول، خو د ډیلټا فورس ټیم د څرخیو په واسطه ښکته کړای شول، دغه عملیات د پاکستان څنډې ته نږدې له ولاړې امریکایي الوتکې وړونکې بیړی(یو ایس ایس کټی هاک) څخه وشول، چاپه اچوونکی ټیم د بابا صاحب او میان کوه ترمنځ ښکته کړای شول، له دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره د اې سي ۱۳۰ سپیکټر ګن شپ هلیکوپټرو بدرګه ملګرې وه، دوی د ودانیو پر هغه لړۍ برید وکړ چې د طالبانو د مخابرې مرکز او د طالبانو د مشر ملا عمر هستوګنځی پکې ؤ. د ناټائید شویو راپورونو پربنسټ د غه مهال جګړه هم وشوه، چې یو شمېر پوځیان ټپیان هم شول. دغه ټیم پر یوه هوایي ډګر هم برید وکړ او د وسلو لویه زیرمه یې را وایسته، دوی تر دې وروسته یو پل والوزاوه او دوه ساعته وروسته د ځرخیو په واسطه بېرته ستانه شول.

(امریکایي لیکوال سیمورهرش د دې لومړني برید ټول تفصیل لیکلی، هغه لیکلي چې طالبان ناڅاپي پرې خبر شول، الوتکې یې په آر پي جي وویشتلې، ۱۲ تنه کوماندویان پکې ټپیان شول او بیا په بیړه وتښتیدل، تر دې چې په بیړه کې یې د چینوک ځرخې شاتنی ځرخ له کوم دیوال سره په ټکر کې ترې ولوید، طالبانو به هغه په الجزیره کې د اتلولې د جام په څېر ښودلو. ژباړن)

له دې عملیاتو وروسته اتحادي پوځ پر افغانستان ځمکنی یرغل وکړ، او د اسامه لټون او د القاعده د له منځه وړو پراو پیل شو. ولسمشر بوش وویل چې دا به یوه اوږده او ستونزمنه جګړه وي. چې نه یوازې په افغانستان بلکې په نورو ځایونو کې به هم روانه وي، چېرته چې د ترهګرۍ نښه ولیدل شي، عملیات به پرې وشي.

د ژباړن وروستۍ یادونه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ۲۰۰۱ز د اکتوبر پر ۷مه چې پر افغانستان د امریکا او اتحادي پوځي یرغل پیل شو، دا په افغانستان کې د یوه بل خونړي پړاو پیلامه شوه. اوس له هغې ورځې ۱۲کاله او څو میاشتې تیریږي، په دې موده کې د امریکا او ناټو ۴۶ هیوادونو تر یو نیم لک تنو زیات پوځیان په افغانستان کې پراته وو، پردې سربېره د امریکا او انګلستان ځارګرې ادارې او خاص ځواکونه (سپیشل فورس) او د بلک واټر په څېر امنیتي کمپنۍ هم په پوره ځواک فعالې وې، لږ تر لږه دوه ځله یو ځل په خوست کې د هوایي ډګر سره څېرمه د سي آی اې پر مرکز ځانمرګی برید او بل ځل په کابل کې د امریکا سفارت ته نږدې د سي آی اې پر مرکز برید د میډیا د تودو خبرونو د سر ټکي ګرځیدلي دي، په خوست کې د سي آی اې په مرکز کې د سي آی اې د دې دفتر د مشرې په شمول اوه تنه د یوه داسې ځانمرګي اردني بریدګر لخوا ووژل شول چې، نوموړي ډبل رول درلود، د سي آی اې لخوا نوموړی په وزیرستان کې د القاعده د مهمو مشرانو د جاسوسۍ لپاره ګومارل شوی ؤ، خو هغه برعکس له القاعده سره وفاداري وښوده او د سي آی اې په مرکز کې یې په ځانمرګي برید کې دې ادارې ته دروند ګوزار ورکړ.

په هر صورت په افغانستان کې په تېرو دوولس نیمو کلونو کې تر یو نیم سل زره تنو زیات انسانان وژل شوي دي، یوه پټه استخباراتي جګړه لا دوام لري، د راتلونکې په اړه هیڅ داسې روښانه افق نه شته چې څه به کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه چې د سي آی اې، ایم آی ٦، آی اس آی، او القاعده جګړه خو آسانه نه ده چې زر دې د هغو د حل او ختمیدو لپاره کوم اقدام وشي.

په لنډو ټکیو کې ویلای شو چې دغه اثر (له ویتنام تر افغانستانه د سي آی اې پټې جګړې) سره له دې چې د محتوا له اړخه ډېر مهم اثر دی، خو په دې کې د سي آی اې یوازې هغه پټې طرحې او فعالیتونه شامل دي چې د ۲۰۰۱ز کال د اکتوبر تر ۷مې، پر افغانستان د امریکا د متحده ایالاتو تر نیغ یرغل پورې ترسره شوي دي.

اصلاً په افغانستان کې د امریکا د پوځ، سي آی اې او امنیتي کمپنیو د عملي پراخ یرغل او حضور دا تېر نړدې ۱۳کاله ډېر مهم دي. په دې موده کې په لسګونو زره افغانان په ډېره بې رحمۍ شهیدان شوي دي، مشران ترور شوي، زمور چارواکي او حکومت بې اعتباره او بدنام کړای شوی، زمور د سیاسیونو په منځ کې استخباراتي کړیو په بېلابېلو لارو نفوذ کړی، زمور ځوان نسل په ډېر غلط تبلیغاتي مسیر بېلارې شوی، چې د دې ټولو داستان ناویلی پاتې دی، باور مو دی چې پخپله امریکایي حکومت به یو وخت د دې مهال ټول محرم اسناد خپاره کړي او مور به هغه مهال د دې وروستۍ له وحشتونو، غمیزو او ماتمونو ډکې غمیزې په باب خبریږو چې څه وشول او په دې کې چا چا، کوم کوم له ذلت او سپکاوي ډک رول لوبولی دی.

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library